# ژبې مري

## او نور

د پښتو نړیوالې ورځې ته

ز ک د جون میاشت ۲۰۲۰ د

لیکونکی: ډاکتر ماخان مېړی شینواری

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د لوي څښتن
# په
# سپېڅلي نامه

د پښتو نړیوالې ورځې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نيو ليک


سريزه الف
١ لومړۍ برخه: ژبې مري
1 د پښتنو تل لرلي ناخوالي – ١
3 د ژبې پيداښت - ٢
4 ژبه څه شی دی - ٣
٥ .... داپوهنه او پوهېدنه په کومه ژبه - ۴
۶ ..... ژبهد پوهونو او پوهېدنو- ٥
۶ کلتور څه شی دی؟ - ۶
٨ ژبې مري - ٧
٨ پښتو مري – ٨
٨ دا چې پښتو مري
٨ ......دويم: د افغانستان دولت او پښتو
١٢ د ژبې غوره والی – ١
١٥ پښتو پوهنيزه کېدنه
١٧ .... د ژبې پوهنيزه کېدنه که
٢۶ ...نورو ژبو زدکونکو پښتو سرهد
.... په پښتو ښوونځي
٣٥ ............دريم : ژباړه
٣٥ ...د شمېرپوهنې ژباړه او
40 ....څلورم : د افغانستان د پوهنيزو مؤسسو
40 .....په ښوونځي کي د نصاب
۴٩ .......... پوهنتون لهپاره نصاب د
٥٠ . د علومو اکادمي د استادانو دندې
٥٢ ..............د شننيزې دکشنري ليکل
٥۴ د پوهنې وزارت اړونده
٥٧ پنځم : داسې ګډې وډې
٥٧ خوب د شپې کډهو کړه
٥٧ فضا نړۍ
۶٣ نوره هم بديړي
۶٣ د افغانستان غميزې ته
۶٧ زما جودره بمونو والوزوله
۶٩ .....د جادو جام
٧٠ ....د بون پ،هنتون
٧٢ ....زړښت ته
٧٣ .په المان کي د ژوند يوه لحضه
٧٥ .د شاعر غوره والی
٧٧ ...د اروابناد ډاکتر ستوري
٨١ ..د اروابناد ډاکتر اسد بها
٨۴ .... شاعر څوک دیٔ او
٨۴ د ډاکتر شينواري ليکنې او ژباړې
٩٠ د ډاکتر شينواري ژوند ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

## سریزه:

په دې لیکنه کې زه هڅېدالی یم، چې ،، د ژبې مرې،، پرته یا په څنګ کې نورې لیکنې هم راغوندې کړم، چې زیاتې یې د ژبې د ودې او ژبساتنې په برخه کې دې. د پوهنیزو موسسو یعنې د پوهنې وزارت، پوهنتون او علومو اکادمۍ د پروګرامونو سره مل دژباړې په هکله یوه لیکنه په کې شته او همداسې ژب اړونده نور څه هم په کې ځای په ځای شوې او پرته له دې، ځنې وړې وړې لیکنې هم ورزیاتې شوې، چې داسې ادبې یا بل ډول یا هرډول لیکنې یې چې بولۍ، په کې راوړلشوې.

کیدی شي، چې ځنې لیکنې مې بل کتاب کې هم راغلې وې، خو هلته به هم اړوندتیاولرې او د موضوع د روښانه کولو له پاره به اړیین وې.

ځنې لیکنۍ پخوانۍ دي او ځنې مې تازه په کې ځای کړې.

دا دې په ګوته وې، چې د تاند د درنې خپرونې او همداسې د دعوت منلې خپرونې او همداسې د پښتو لومړنۍ خپرونې ټول افغان خپرونې کې دا لیکنې هم خپرې شوې، چې زه ترې زیاته مننه کوم.

زه به وهڅېږم، چې دا زما لیکنې تاسو منلو لوستونکو ته زما د ګران عزېز، د ښوونځې ملګرې انجنیر ستانه میر زهیر د ځوې ګران انجیر وراره ګل شمشاد زهیر د کتابتون له لارې وړاندې کړم، چې زه یې تل مننده‌وې یم، خکه چې تراوسه یې زما له پنځه دېرش زیات د شمېرپوهنې، فزیک او د پښتو ژبې په هکله کتابونه خپل ketabton.com کې خپاره کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د لوي ښځښتن په سپېڅلي نامه

## ژبې مري

د دې له پاره، چې د ،، ژبې مري،، سرليک لاندې ليکنه روښانه کوو، د مخه به يې يو څو سرليکونه وڅېړو، چې د ژبې غوره والی راته په کې روښانه شي.

## د پښتنو تل لرلې ناخوالې

د ژبی په وده او کره کونه کې د هرې ژبې ويونکي په دولتي څلورديوالی کې کوښښ کوي، چې د ژبې په پوهنيزه اړخ، ساده کولو او غښتلي کولوکې يې هڅه وکړي.

په خپله خټه کې خو دا پوره د خواشينی وړ خبره ده، چې د يوه قوم وګړي دې د خپلې رسمي ژبی د وروسته پاتيوالي په هکله ناخوالی کوي، دا او يا هغه ملامته کوي، ځکه چې :

په يوه هيواد کي د يوې ژبې رسميوالي په دې مانا دی، چې دا ژبه د ليکلوست، ښوونې روزنې او د دولت ياني په دولتي څلورديوالي کی، همداسې د ښوونې روزنې اود لوړو زده کړو ژبه وي، لکه زموږ په هيواد افغانستان کی چی دري يوه رسمي، سراسري اوپه ټوله مانا دولتي ژبه ده.

داسې د ژبی په هکله او په ځانګړي توګه د پښتو په هکله خو هم بايد کوم پښتون يا بل افغان دې ته اړ نه شي، چې د ژبې په هکله دې څه ناخوالی وکړي، خو دا چی افغانستان يو ځانګړوالی لري، د منطقي د نورو هيوادونو سره، او د خپل تاريخ په اوږدو کې، په ځانګړي توګه پښتانه د ډيورند د کرښی وروسته زيانمن شوي، نو همداسی دهيواد د ډيرکی ژبه هم د دې ځانګړنوالي له امله په ځان پسې دا د ناخوالو ځانګړنوالی لري، چې



زه غواړم دا په دې ليکنه کي روښانه کړم او خپل اند په دې هکله ګرانو لوستونکو سره ګډ کړم۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما څو کاله د مخه په دې هکله دا لیکنې لرودې، خو اوس وتوانیدم، چی دا لیکنی ګرانو لوستونکو ته وړاندې کړم، په دې هیله، چی پښتو هم هغه قانوني ورکړشوی خپل ځاي ونیسي او بالاخره موږ له دې ناخوالو، چي ورسره ګیر یو، خپلواک شو، نه یواځې پښتانه بلکې ټول افغان اولس، چی د دې ناخوالو سره په یو ډول نه یو ډول لاس په ګریوان دی٠

که چیرې د داسې لیکنو څخه کوم د تجزیه غوښتنو یا د بلې کومې ژبی په تاوان، یا د بل کوم قوم په تاوان څه راځي، چی هغه ناروا وي، باید وغندل شي او مخه یې ونیولشي، خو که چیرې د نورو ژبو او نورو، زموږ د هیواد کلتورونو ته په کې درناوی او خپل یعنې د هغوي ځای ساتل وي، او یواځې د خپل حق غوښتل یې موخه وي، چي د تاریخ په اوږدو کې او اوس هم د افغانستان دولت او حکومتي چارواکو ترې سرغړونه کړی او کوي یې، دا روا غوښتنه ده او باید کوم پښتون په دې ونه ډار شي ، چي ګوندې څوک به یې فاشست یا ناشنالیست وبولې.

هیڅ څوک یو بل چا او یو بل قوم ته د تاوان اړولو حق نه لري او هیڅ کله باید د خپل قوم د روا حق څخه څوک د بل کس د خوښې لپاره تیر نه شي .

که څوک چا ته له خپله جیبه یا له خپله ځانه خپل څه شی (لکه پیسې) ورکوي، خو خپل یې دی او حق یې لري، خو د قوم د ملکیت څخه تیریدنی حق باید څوک ځان ته ورنه کړی شي، ځکه چی د اولس حق دی او ترې تیریدنه یې ناروا ده. بیلګه یې ژبه راوړی شو، چی د اولس ملکیت دی، که څوک ترې تیریږي، دا د خپلې ژبې اوخپل قوم سره زیات تیری دی.

کوم قانون، چی منځ ته راځي اړتیا ورته وي. دا چی په افغانستان کې پښتو ژبه سراسري رسمی ده، په دې مانا، چی اړتیا ورته شته او تر اوسه لا د اړتیا څخه نه ده لویدلی یانې د له منځه تلو لپاره تر اوسه لاړ ورته نه ده ازاده شوې٠ دا اړتیا ورته ځکه شته، چي پښتانه په افغانستان کې ډیرکی قوم دی٠

موږ پښتنو تل په شعر او ادب کی ځانونه ستائیلي، ژبه مو ستائیلي ، پښتونولي مو - چي په ککره کي ژبه ده - ستائیلی او ستایو یې، خوکه دې ته پوره پام وکړو، نو دا مو زیاتی کړی، ځانونه مو تیرباسلي، د ریښتیاینې څخه مو تیختنه کړې او ریښتیاینه مو پټه کړې٠ موږ ګورو یا ریښتیا ده، چی همدا موږ پښتنو د خپلې ژبې سره مینه نه ده ښوولی، که نه نو کومه بیلګه به مو شته وی، چی دې ناخوالو ته به مو اړتیا نه پیښیدی٠ ګورو، چی پښتانه تل دا ناخوالې کوي، چي د ژبې سره یې هغه قانوني تلنه نه ده شوې، په دې هکله - زما په اند- زیاته ناروا د دې ژبي سره پخپله پښتانه کوي٠ یو څوک چي پخپله له خپل حق تیریږي، نو بل څوک یې ورته د ورکولو چمتووالی نه لري او نه یې دنده ده، چی د ځان لپاره نوی پرابلم پیدا یا رامنځ ته کړي٠ څوک چی له ژبی تیریږي، هغه له خپل حق څخه نه - لکه د مخه مو ګوته ورته ونیوله- بلکه د اولس له حق څخه تیریږي، چی دا ناروا ده، له قانون څخه سرغړونه ده او د ژبې سره تیری.

……………٣ .....................

راځئ دا پوښتنه رامنځ ته کړو، چی کله او کوم پښتون په پښتو ترې نه تیریدونکی ولاړ دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

موږ پښتانه د کمی رنځ باندې اخته یو او دا راته ښه نه ښکارېږي، چې پخپله داسی یوې وروسته پاتې ساتل شوې ژبه باندې د هغه خپل ورکړ شوي یا لرلي حق باندې ودرېږو، که په دولت کې دننه پښتانه وي او یا له دولت څخه دباندې پښتانه. موږ پښتنو د پښتو روحیه ضعیفه کړې، چې زموږ روحیه یانې د پښتنو روحیه ضعیفه ده. که پښتو ته په غور وکتل شي نو یوه خورا توانمنده او غښتلې ژبه ده، د هرڅه امکانات په کې خوندي دي، خو که پښتانه وغواړي.

که یو پښتون ته ووایې ، چې « پښتون نه یې» زیات زورېږي. که جنګ درسره ونه کړي، نو پوره در څخه خپه کېږي. مګر دې ته یې پام نه وي، چې دی په ژبه پښتون دی او ژبه چې پرېږدي، نو بیا په کې د پښتانه څه پاتې کېږي؟

هیله ده، چې ګران لوستونکی دې ته پوره غور وکړي او خپله پښتونواله یا په خپل کلتور باندې ولاړوالی ته پوره پام وکړي.

که د پښتون د پټې په پوله تیر شوې، چې هغه لار نه وي، نو کیدئ شي چې له لږ خبرو تاو راتاو څخه وروسته سره ووژنې. د خپل ځان د حق څخه که په مرګ تیر شو، خو دا پښتون د قوم په حق نه دئ ولاړ او ګورو، چې د حکومت او د حکومت څخه دباندې پښتون، له پښتو څخه ، چې د اولس حق دئ تیرېږي، او دا د اولس حق پښتو تر پښو لاندې کوي.

ستونځې شته خو دا ستونځې دقانون په څلوردیوالې کې د خپل ځان لپاره اوبی( حل ) لري. پښتو ته په قانون کی د سراسري ژبې په څیر حق ورکړ شوی، که څوک یې د پښو لاندې نه کړي.

اوس نو اړونده موضوعګانې غواړو وڅېړو:

## د ژبې پیدایښت

ژبه په ناڅاپی توګه منځ ته نه راځي، ژبه د انسانانو د اړتیاو سره سمه منځ ته راځي، د انسان د اړتیاو سره غبرګه وده کوي او پرلپسې توانمنده کیږي. ژبه د ښووني او روزنې د ودې سره وده کوي او د پیدایښتي ژبی یا طبیعی ژبی څخه نوې کلیمې او لغاتونه منځ ته راځي. نوې کلمې یا د هغه پیدایښتي کلمو له یوځاي ایښولو( ځنځیروني ) یا ترکیب څخه منځ ته راځي یا څه ورته نوې جوړیږي او یا یې له بلی ژبې رانیسی.

د هغه څه لپاره، چې په پیدایښتي ژبو کې ورته نومونه نه وي، هغه بیا د هغه چا په نامه یادیږي د کوم له خوا، چې دا نوي څه میندل شوی وي یانوي کشف شوي او یا منځ ته راغلی وي، چې ښې بیلګې یې د تودوخی درجي یووالي یا یوونونه( واحدونه ) دي، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کالوین او یا ځیلزیوس ( سیلزیوس) ته ګوته نیولي شو٠ لکه څنګه چی د ژبی غښتلتوب د ودې سره تړلي همداسی د ټولنی وده هم د ژبې د غښتلتوب لاسته راوړنه ده یانی د ژبی وده اود دې ژبی د خلکو پوهنیزه وده یو بل سره سیده او په څټ تړاو لري.

لنډ : د ژبي وده د هغي اړونده ټولنې وده ځان پسې لري او د ټولني وده د هغي اړونده ژبي وده په ځان پسې لري.

راځئ، چې اوس د ژبي لنډ پیژند ورکړو یا ژبه تعریف کړو

## ژبه څه شی دئ ؟

پیژند( تعریف، له الماني دودن څخه ): ژبه د نخښو یو سیستم دئ، چی د خلکو په منځ کې د پوهیدلو او پوهولو او همداسی د خپل اند څرګندوني او د بل اند باندې پوهیدني، د پوهی ورکونی اوپوهي لاس ته راوړني لپاره ترې کار اخستل کیږي: ژبه یا څه ویېنه، فکر کونه، د خبرو، نخښو او یا دروحیې ( مخڅیرې) له لارې څرګندیږي. د اندیز یا فکري څه روښانه ونی لپاره یا وینا کیږي او یا یوه ځیره کښل کیږي او یا دبدن د غړو په خوزښت هغه اندیز څه روښانه کیږي.

د دې لپاره چي دا نخښی او علامې ښه وپیژندل شي او ښه انسان پرې وپوهیدلي شي، نو د ژبو ټولنه منځ ته راځي، چی په دې نخښو – که د وینا له لارې وي، که کښل شوي وي او یا که د بدن د غړو د خوزښت له لارې وي – دا د همغی ژبې ټولنه ښه پرې پوهیدلی شي٠

داسی د نړیوالې ټولني په کچه ( کچه ناسمه ده، سمه یې سویه او یا سطحه ده) هم نخښې شته، چی د نړئ یا نزدې د نړئ په سطحه پرې پوهول او پوهیدل کیدئ شي٠لکه د خوزنده ماشینونو، چی په لارو د هغو د خوزښت لپاره قوانین پلی شوي، چی نړیوال دي او دا په نخښو خلکو ته د تلو راتلو لارې هواروي یا په ګوته کوي٠د ویلو یا نوره هم ښه د خبرو کولو ژبو ترمنځ تخنیکي ژبي هم شته، چی نړیوالي دي، ښه بیلګه یې کمپیوتر یا شمیرونی دئ، چی ژبه یې نړیواله ده٠ د داسی تخنیکي ژبو منځ کې به توپیر وي مګر د نړیوالیوالیو یا نړیوالیتوب منځ کې یې کوم توپیر نه شته٠

ترهغو چی نړئ په ځانګړو ټولنو او قومونو وېشلي وي، د زیاتو ژبو ټولني به وجود ولري او هرې ژبنی ټولني ته به هغه د خپلی ژبنی ټولني د ژبو نخښي ښه د پوهیدنی وړ وي اوزار.

لنډ :

ژبه هغه اله ده، چی انسان خپلی هیلې غوښتني او پوهه یو له بل سره خپلو منځونو کی روښانه کوي، یاني خپل اند بل ته روښانه کوي او د بل ځان ته رانیسي٠ دا کار د کتابونو ، یو له بل سره خبرو ، رادیو تلویزیون او ٠٠٠ له لارې ځان(صورت) نیسی دا په دې مانا، چی ژبه د یوبل څخه د بیلو بیلو لارو له لارې د پوهیدلو او پوهولو اله ده٠

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دا پوهونه او پوهیدنه په کومه ژبه ښه سر- یا ځان نیسي یا سر ته رسیږي؟

پوهونه او پوهیدنه په هغه ژبه ښه سر ته رسیږي، په کومه ژبه چې څوک ښه و پوهیږي او ښه وپوهولی شي. دا به نو هرو مرو مورنۍ ژبه وي، یا د هغه اړونده قوم ژبه. دا په دې مانا، چې دا بیا بیتوپیره نه ده، چې دا ژبه دې یا دا وي یا هغه . دلته د مورنۍ ژبې غوره والي ښه ځرګند باید په ګوته شي، چې انسان پرې زر څه زده کولی او زر څه ورزده کولی شي.

ژبه د پوهولو او پوهیدلو اله یانې څه؟

لوی څښتن انسانان پیداکړي او دا یې بیا په قومونو ویشلي ، چې د هر قوم سره یې د هغه قوم خپله ژبه پیداکړې. د دې قوم وګړي په همدې د خپل قوم په ژبه یو او بل سره پوهوي. په همدې مورنۍ ژبه د هغه قوم وګړي ، یو بل ته هغه زده کړي څه ښایي او دا نور په همدې ژبه ، چې ورښوول شوي دي زده کوي. دا کار په بله ژبه هم کیږي، خو دا کار پوره ستونځمن دی، چې د دې لیکنې له دننه به نوره هم روښانه شي.

هغه قوم چې ښوونه او روزنه یې په خپله ژبه دې، ګړندی پرمخوده کوي او هر څه زر ورته زده کیدی شي او زریې ور ښوولی شي.

اجازه راکړۍ، چې دا خپل ځان د بیلګې په توګه راوړم او په دې هکله خپله ناتواني تاسو ته په ګوته کړم، چې د نورو نژدې ښه زده شوو ژبو سره یې لرم. زه د ژبو په زدکړه کې ښایي لږ ستونځې ولرم، خو بیا هم هغه خپله لاره پرې هواره-ولی شم.

ما د خپل ژوند د دوه پردرې وخت څخه زیات له هیواده دباندې تیر کړی، مګر اوس هم زما لپاه لومړنۍ ژبه پښتو پاتې شوې ده او په الماني کې دا اوس هم ټیکه لیکنه نه شم کړی او په خبرو کې هم زیات ناټیکوالي لرم. دا اوس هم ماته زما ځوی اولور زما لیکنیز ناټیکوالۍ په ګوته کړ، چې یو توری را څخه پاتی وو. ګورو چې د خپلې مورنۍ یا لومړۍ ژبې غوره والی څومره راوتلی دی. په نامورنۍ ژبه کې د پوهنې زدکړه زیاته ستونځمنه ده، ځکه ستونځمنه ده، چې:

-- زده کړی په دویمه ژبه د ستونځو سره مل دي، په دویمه ژبه څوک ښه نه پوهیږي، نو ځکه ښه نه شي پوهیدلی

-- څوک به نوې پوهنه څنګه زده کړي، چې د پوهنی سره د ژبی نابلدتیا له امله د ننه خپل اریزې ستونځې هم ولري؟

دا به یواځې په یاد راوړم، چې ماته دا اوس هم هغه څه، چې ما په ښوونځي کې لوستلی، پوهیدل یې راته ستونځمن ښکاریږي. پوهیږو چې ښوونې ورښوونې، پرې پوهیدنه او پرې پوهونه په خپله مورني ژبه کی څومره ساده او په بله ژبه څومره ستونځمن دي دلته

(c) ketabton.com: The Digital Library

په یاد راوړم، چې ما زده کړې په پښتو کړي، خو په داسې پښتو، چې د نومونو په مانا نه پوهیدو ، بې له تړاو کلمو څخه یې نور څه پښتو نه وو او لا تراوسه همداسې ده۰

ژبه د پوهیدلو او پوهولو اله په دې مانا نه ده، چې ګوندې مورنۍ ژبې دې هغه خپل غوره والی د لاسه ورکړی وي او دا دې بې پروا وي، چې څوک یو د بل سره په کومه ژبه پوهیدل او ورپوهول کوي یا غږیږي.

د دې لاندې، چې ګوندې ژبه د پوهولو او پوهیدلو اله ده، دا د لیکلوست پښتانه څنګه پوهیږي؟

د دې لاندې د لیکلوست پښتانه هغه د خپلې ژبې غوره والی ته پام نه کوي( یا یې نه شي کولی)۰ په خورا خواشینۍ به دا ووایو، چې په حکومت کې دننه پښتانه دي، که دباندې، یوائې د خپلې مورنۍ ژبې د غوره والی څخه نه بلکې د خپلې ژبې څخه سوچ تیریږي، حتی دا اوس هم خبرې نه پرې کوي اودا د مورنۍ ژبې غوره والی یې چې څوک منځ ته راواچوي هم بښه یې نه راځي۰

پښتو د دولت په څلوردیولی کی هم هغه خپل قانونی ځای نه دی نیولی ، یانې د قانون ساتونکو اورګانونو یې په قانون پلې کوونې باندې پښه ایښوولې او تراوسه یې د قانون په ضد کار کړی، د لیکلوست ژبه نه ده سراسري شوی ، چې دایی له قانون څخه ورکړ شوی حق دی. نو پښتانه لاتراوسه د مورنۍ ژبې غوره والی یا نه پیژنی او یا وایي ، چې دا نو پرابلمونه منځ ته راولی او دا خبره هم یوائې پښتانه کوي۰ نور قومونه په دې پوهیږي، چې دا د پښتو حق دی ، خو پښتانه یې نه پریږدي، چې دې ته اړوالی یې هم احساس کړی واي۰

موږ پښتانه لا تراوسه خپل ځانونه داسې غولولی شو لکه څنګه مو چې تراوسه دا کار کړی، چې مورنۍ ژبه دې دومره غوره نه وي، خو داسې فکر نه کوو، چې داژبه، چې خبرې پرې کوو، نو دا دې ولې پښتو نه وې۰

ژبه د کلتور ښوونه او زده کړه ده، ژبه کلتور دی ژبه د کلتور په ککره کې ځای لري ، نو له دې امله د پوهیدلو او پوهولو څخه ورزیاته ده۰

## Cultureکلتوریا کلچر (لاتین کلمه ده)څه ته وایی؟

پیژند( تعریف): ۱ ) کلتور د ژوند د څرګندونې فکري یا اندیزه ټولګه ده ۰

۲ ) روزنه ( تربیه) د ژوند نازکډول

۳ ) د بکتریې روزنه، چې د دې او نورو اړوندو سره یې موږ سر او کار نه لرو۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

په کلتور پوهیدنه او د کلتور زده کړه، چې د ژوند ځرګندونې فکري یا اندیزه ټولګه وي ، نو دا کار په پیدایښتي توګه په ژبه کېږي، یا د ژبې له لارې وړاندې کېږي، نو له دې امله ویلې شو، چې پخپله ژبه کلتور دی او د کلتور په ککره کې ځاي لري٠

کړی شو چې ووایو ، چې د پښتنی کلتور په ککره کې هم ژبه ځاي لري، که څنګه؟ چې نه یواځې په دولت، ښوونه او روزنه کی یی هغه خپل قانوني ځاي نه دی نیولی، بلکی زموږ په هیواد کې ، چې پښتو د پښتنو شتون له امله سراسري رسمی ده هغه ورځنی ژبه نه ده٠

په پوهنه کی پښتو- لکه څنګه چې اړیین او قانوني دی- هغه خپل ځاي نه لري، پښتو او پښتانه له پوهې وروسته پاتی دي٠ که ووایو، چې پښتانه کلتور نه لري، نو دا به بیځایه وي، ځکه چې هر اولس خپل ځان ته یو ځانګړی کلتور لري، ځانګړې ژبه لري او پښتانه هم د داسې یوه ځانګړي کلتور او ځانګړې ژبی خاوندان دی( په دې زیات نه غځیږو، چی پښتانه څومره لوړ یا ټیټ کلتور لري، موږ یواځې یوځو ریښتیایني دلته څیړو) او پښتو ژبه هم یوه خورا غښتلې ژبه ده، که چیرې د دې ژبې ویونکې په پوهه سمبال او غښتلي شي او دا ژبه له کاره ونه غورځوي او یا یی داسی له کار غورځوني ته پرې نه ږدي. خو که ووایو چې ډیرو پښتنو یا کم له کم له هغه زیاتو د لیکلوست پښتنو خپل پښتني کلتور پریښودی او یا لږ تر لږه ورته غوره والي نه لري دا کار شوی٠ که ژبه ژوندۍ پاتی وي، وده وکړي، کلتور ژوندی پاتیږي او وده کوي. چې ژبې وده نه وي کړې کلتور وروسته پاتی وي.

پښتو ژوندۍ پاتی شوې په غرو رغونو کې او همداسی مو پښتنی کلتور، چې پر مخ تللی او که وروسته پاتې دی ، د همدې غرو رغوپښتنو له برکته دی٠

## ژبې مري:

که کومه ژبه له اړتیا ولویږي، که کومه ژبه په ټولنه کې له دې ولویږي، چې د خبرو اله او نه وي، د خبرو لیکلوست څخه ولویږي، دا په دې مانا، چې په ټولنه کې نوره د پوهیدلو ه ژبه ونیسي، د دفتر څخه ووځي، د ښوونځي ژبه نه پوهولو اله نه وي، یانې ځاي یی بله وي، په لوړو زده کړو یانی پوهنتون کی خپل ځاي ونه لري نو داسې ژبې د مرګ سره دا د نړۍغټ ٠مخامخ کیږي، چې ګران لوستونکی یې د تاریخې بیلګو سره ښه بلد دي دي اړتیاوو لویدل کلتورونه او ژبې، چي له منځه تللې یواځنی لامل یې د ژبې د کاره او او بس.

## پښتو مري » ؟ «:

د دې سرلیک لاندې، چی «پښتو مري» ښایي ځني پښتانه ښه لید ونه لري او د دوي په اند به داسی لیکنې د پښتنو زړونه وغورځوي او ناهیلی به راپیداشي، خو زما موخه د داسی لیکنو څخه او بیا د داسې سرلیک لاندې داده، چې موږ پښتانه خپلو ناتوانیو او د دې ناتوانیو لاس ته راوړنو ته په پام شو او پرې نه ږدو، چې ژبه مو په مرګوني رنځ رنځوره وي٠ لا تراوسه وخت دی که وغواړواو باید دا وغواړو٠ زه د ژبې په هکله ښه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لید لرم ژوند مې ژبه ده نور څه راته دومره غوره والی نه لري، مګر دا چې موږ پښتانه د کمی په رنځ ګیر یواو ژبه راباندې دومره ګرانه نه ده، ځکه یې پریږدو٠ وخت له وخته تیر نه دئ یا یې همدا وخت دئ، چې پښتو مو لا پوره له لاسه نه ده ورکړې او د پوهنیزه کیدو توان په پښتنو او پښتو کې لا پوره پاتې دئ، ځکه، چې دا په منطقه کې یو ستر قوم دئ، که دې دلیکلوست پښتنو پښتو یا ټولو یا یې زیاتو د لاسه ورکړي، نو په کلو او باندو کې لا پښتانه زیات دي او ژبه ژوندئ ساتي٠ نو زما هیله له دې سرلیک سره دا ده، چې پښتو راباندې ګرانه شي او دا ژبه مو د نړئ د ژوندیو او پوهنیزه ژبو په لړی ( قطار) کې ودریږي٠

۱۲ په سلو کې پښتنو پښتو پریښودې که نور هم دا د لیکلوست پښتانه پښتو پریږدي، که څه هم دا د لیکنی له لور وي، نو پیدایښتي ده، چې بیا نو پښتو مري، ځکه، چې هر دلیکلوست پښتون، چې پښتو پریږدي، دا د پښتو لومړی پل دئ، د مرګ په لور٠ موږ پښتانه د نورو ژبو سره مخامخوالي (ضدیت ) نه لرو، خو خپله ژبه باید راباندې ګرانه کړو او وپوهیږو، چې پریښوول یې ګوناه ده٠

لکه چې پورته مو ګوته ورته ونیوله، ژبې مري، چې د هغی ژبې د ټولنی ژبنیزې اړتیاوې پوره نه کړي، د لیک لوست او خبرو ولویږي، د ښوونی او روزنې ژبه نه وي او د دولت په څلوردیوالی کي هم هغه خپل د اړتیا وړ قانوي ځاي غوره نه کړي او دا اړتیاوې یې نورې ژبی پوره کړي٠

د کلتور او کلتوري ودې یانې د ژبی د ودې ځای د هر هیواد مرکز وي٠ پښتو په کابل کې، چی د افغانستان زړه دئ، له خبرو اترو لویدلی، چی دا د قانون سپکاوی حتی غیر قانونی کار دئ٠ په کابل کې ګورو، چې که دوه پښتانه هم سره یوځاي شي، یو له بل سره په پښتو نه غږیږي ٠

که چیرې یو پښتون د یوه غیر پښتون سره په پښتو خبرې پیل کړي، سملاسي ورته ویل کیږي، چي په پښتو نه پوهیږي٠ دا که یو کس، چې ښوونه او روزنه ترې پاتې وي پروا نه لري، خو که څوک د لیکلوست خاوندان وي، نو دا کار هم د قانون سره مخامخوالي دئ، چی باید ونه منل شي٠

دا غیر پښتون هم باید پښتو ته همداسی په درنه سترګه وګوري، لکه پښتانه، چي زموږ د هیواد نورو ژبو ته او همداسی په پوره کچه دري ته په درنښت ګوري اود کوم پښتون څخه به وا نه وریدل شي، چې ګوندې په دري دی پوه نه شي٠

دې ته دې ګران هیوادوال اجازه راکړي، چې زموږ د هیواد دري ژبی ته د یوې توانمندې ژبې په څیر ګوته ونیسم، چي نه یې څوک په تاوان خوښ دي، نه څوک باید دا حق ځان ته ورکړي، چی د تاوان رسولو نیت یې وي، ځکه چې اجازه یی نه شته او نه څوک تاوان وررسولی شي، ځکه چې هغه پوره توانمنده ژبه ده اوپښتانه هم همداسی نظر ورته لري٠ زموږ د هیواد ژبه ده او هرو مرو یې په همغه قانوني څلوردیوالی کی درنښت په کار دئ، له پښتو ژبې څخه نه کم او نه زیات٠

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دا چی پښتو مري، په لاندې توګه يې روښانه کولی شو:

پښتو د قانون په ځلورديوالئ کې د افغانستان سراسري ژبه ده۰ دا په دې مانا، چی د افغانستان دولت د دې ژبې او همداسې د قانون په ځلورديوالی کې د نورو ژبو حقوقو ته بايد په درناوي وګوري او د ولتې ژبې په څير بايد وکڼل شي۰ دې پسې به د افغانستان د حکومت دندو ته ګوته ونيسو.:

## ۰د افغانستان دولت او د پښتو ژبه

۰وېد افغانستان په دې اوږده تاريخ کی پښتو په افغانستان ګې د دولت ژبه نه ده پاتې شد له مخې سراسري ژبه ده مګر په دولت پورې اړونده د پښتو په افغانستان کې د قانون ۰قانون په ځلورديوالي کې ورته دا نن هم پام نه کيږي

دا چی ولې؟ او دا د چا ګوناه ده؟

بايد همدلته په ګوته کړم، چی دا ګوناه د تاريخ په اوږدو کې او دا اوس هم يوائې د په ون په مخامخ(ضد) کار دئ او قانوني بايد حکومت کې دننه خلکو ده، چې دا کار يې د قاڼ ورته کتنه وشي، چي له دې کار څخه ياني د پښتو له پامه غورځوني څخه بايد راوګرځي ۰پښو لاندې نه کړي د او د حکومت په ځلورديوالي کې د پښتو قانوني حقوق

په واک کی دننه پښتانه ، چی په دري غږيږي، دا خو موږ نه رده وو، خو د پښتو موږ پوښتو، چی داسی ۰ريښوول يې د پښتو سره تيرئ او د قانون مخامخ خوزښت دئږ نه شعور يا پوهه لکه پښتنو کې چی ده، داسې شعور نو زموږ نور په قدرت کی دننه ورو ولې ونه لري؟

جمهور ريس ښاغلی کرځی، چی خپل زيات وخت په دری غږيږي، پخوانی موږ لکه ی خليلی هم بايد په پښتو غږيږي، چی پښتانه پوه شي ، چ ولی زموږ ښاغلی مسعود او ۰کلتور ته يی درناوی کيږي

: ورزياتوم، چی –بيا هم له ډاره، چی هسې بې ځايه د فاشت له نومولو ډايريږم –دا دلته

ل دا ګوره د کوم قوم په مخامخ(ضد) خبرې نه دي، له داسی خبرو بايد بده ګڼه وانه خسته انون موږ قانون بايد وپيژنو او په ۀ ۰کومې ژبی د لوړتيا غوښتنه شته شي او نه په کې د يو موږ يوائې او يوائې په دې ډول له يو بل سره له کينو ازاديدلی شو، چی ۰تلنه وکړو بل ايد دبل او يو د بل کلتور او ژبی ته د قانون په ځلورديوالی کی احترام وي او هيڅ قوم ب ا به دا اړ نه شي او نه دې تيريدني ته ځان اړ وګڼي، که نه نو بيا قوم حق باندې تيريدني ته پښتانه که چيرې د بل وررور قوم ژبي ته تاوان رسوي، دا د ۰يو تل پاتی جنجال وي افغانستان د قانون سره مخامخوالی دئ او بايد قانونی تلنه په ځان پسې ولري.

۰پښتو او دري د افغنستان دوه سراسري رسمی ژبی دی

سره له خپلی دري ژبې تير شي نو دا به يي له خپلی ژبی يا بل دري ژبی که چيرې تاجک خيانت کړي وي او يا يی کوم پښتون يا بل څوک دی ته اړ باسي چی ګوندې په دري دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا يې حق نه دئ او ۰نه کوي يا نه غږيږي ورسره خبرې نه شي او يا دی په دري ليکنه
ي دې خبرې څخه تيريدنې ته بايد راو بلل شي، همداسی د پښتون هم دنده ده، چې له خپل
ژبی تير نه شي او نه د بل دې خبرې ته غوره والئ ورکړي، چی ګوندې، دې په قانون
۰کی ځاي ورکړ شوې ژبې باندې نه پوهيږي

غه او د بل او خپل حق ته په ه ۰کي ورته ټاکلی حق وپيژني هر څوک بايد هغه په قانون
۰ورکړ شوي حق قائيل شي او کار ترې واخستل شي

وشي، لنډ : په واک کې دننه هم قانونمندي بايد وپيژندل شي او په هغې بايد هم هغسې تلنه
په يوه د ژبو په هکله دا لږ غوره له دې امله ده، چې دا ژبه ۰که دا په هره څانګه کی وي
ونه قوم اړه لري او د ژبې په هکله قانون ته په درنه سترګه نه کتنه يا د قانون نه پلی ک
ن زه وايم، چې قانو ۰احساسات راپاروي، چې دا بيا د دې ټولني په پوره زيان تماميږي
۰قانون او بيا قانون پيژندنه قانونقبلونه او ورسره سمه تلنه

ونو چې ګوندې دولتي ژبه دې وي، دا حق يې دولت يا دولت ،پښتو تراوسه دولت نه ده منلې
۰ترپښو لاندې کړی

سره پښتني واکوالو او د ي د ليکلوست خاوندانو د خپل تاريخ په اوږدو کي د خپلی ژبې
دي، که مينه نه ده ښولی حتی بيخي يې پرېښودلی او د پښتو د ليک لوست څخه تير شوي
ترنن ورځې، نو د ډهلي تخت به يی هيراوه، چې د دا د احمد شاه بابا څخه راونيسو
ره کي چې ژبه يی په کک -افغانستان د غرو سرونه به يی وه يادېدل، مګر پښتنی کلتور
سره يی کومه مينه نه ده ښوولی، نن هم همدا حال دئ، چې په واک کی شريک -پرته ده
روري وايي ډاريږي، چې و پښتانه له پښتوتير دي، په دلايلو به يې دومره ووايو، چې ځني
خه ځني بيا د فاشست نامه څ ۰وايو، چې : ورورې به وي خو حساب ترمنځ ۰به ورانه شي
دوي په ۰ډايريږي او ځنو ته بيا ژبه کومه مانا نه لري، ياني پښتو ورته مانا نه لري
ځانګړي توګه او په دولتي څلورديوالي کی له پښتو تير شوي، دا د قانون سره
د الي(تضاد) دئ چې پايله يی بايد د قانون منګولو ته راکښونه وي، ځکه: قانونمخامخو
نده ده، پښتو خو د افغنستان رسمي ژبه ده او دا د دولت د ۰دی لپاره دئ، چې بايد پلی شي
د هغه قانون په څلورديوالی کې کې چې د نورو رسمی يا هغه کليوالي رسمي ژبو څنګ
که دا کار هرې بلې ژبې ته هم ونه ۰کي د هلو ځلو دنده لري وده ورکړي او په دې لار
وي بايد شي، دا غيرقانونی کار دئ او بايد د دولت له مسئولينو څخه دا وپوښتل شي، حتي د
۰د قانون په چوکاټ کې د قان پر خلاف تلنې له امله محکمی ته راکښل شي

ځاي ورکړشوی وي، وده نه چې په يوه هيواد کی قانونی -هره ژبه چې وي –يوه ژبه
)شي کولی، چی دولت دا قانون پلي نه کړي او قانون ته شا کړي ياني د قانون په مخامخ
۰څټ يا ضد) کار وکړي

که چيرې دولت دا کار نه کوي، نو بيا د دې اړونده ژبې د ويونکو دنده ده ، چې دولتي
په دې لور بايد کم له دا کار ستونځمن دئ، خو ۰چارواکي حتی محاکمی ته راوغواړي
۰يکمه هڅې وکړي، دا حق دئ اوبايد وغوښتلي شي، دا د قانو پلی کول دي او بايد پلی شد

د ۰دا خورا اړينه خبره ده ۰په واک کی دننه پښتانه وايي، چې ګوندې دوي ملت جوړوي
د ملت جوړونه ۰ژبې غوره والي اوس په دې وخت کی دومره اړيين نه ورته بريښي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ی د هر افغان لپاره یو اړیین کار دی، نه یوازې د پښتنو لپاره او نه په دې نرخ، چې له ژبـ
قوم له ژبې تیریدنه د ملت جوړونې ته زما په اند زیان رسوي، ځکه چې دا د یوه ۰تیر شي
وو، چې ایا دا په دې ډول ملت یوازې پښتانه جوړوي، موږ پوښتنه ک ۰د حق سپکاوی دی
چې له پښتو تیریږي او که زموږ نور په دې واک کې دننه ورونه هم زموږ پښتو ته په
داسي درنه سترګه نه ګوري، چې د ملت جوړولو له خاطره په پښتو خبرې او لیک لوست
وکړي او خپلې ژبې ته شا کړي ؟ او که څنګه؟

دیوالي کې باید څه وشي؟د دولت په څلور

.یا نوره هم ښه: قانون په دې هکله څنګه قضاوت کوي

م دا چې پښتو رسمي سراسري ژبه ده په دې مانا، چې پښتانه په دې هیواد کې یو ستر قو
دی، چې په څومره والی یې نه غږیږو، خو دا چې ډیر دی او له دې امله پښتو رسمي او
:ته راځې سراسري ژبه ده، نو دا ترې لاس

:اول : الف : د افغانستان په دفترونو کې

ي او د افغانستان هر غړی، چې په دولتي څلوردیوالی کی په کار بوخت وي، باید په در
نه پښتو وپوهیږي، چې څوک ورسره په پښتو غږیږي، دی ورته ونه وایي ، چې په پښتو
ا ي ۰ دري قانوني حق هم دی همداسی د ۰پوهیږي، یانی په پښتو دې ورسره خبرې نه شي
ی موږ د پښتو لپاره د قانوذ ۰لکه چې د دري دا قانوني حق، چې له پوره څخه ورزیات دی
دري حق څخه ور زیات څه باید و نه غواړو، یانی په دولت کې دننه یو پښتون هم باید یوه
دی ژبی ته دا ونه وایي، چې ګوندې په دري نه پوهیږي، چې دا کار تراوسه هم نه
۰شوی

ه پښتو ب: دا چې د پښتنو له امله دا ژبه رسمی ده نو هر پښتون باید او بیا وایم، چې باید پـ
ن نه د لیکلوست خاوندا او یوازې په پښتو وغږیږي دلته هغه کسان ځانګړوالی لري، چې
۰وي، چې د همغه کس په ژبه باید دا د لیکلوست خاوند ورسره وغږیږي

ی ري تیر شي نو بیا د دري رسمیوالی ته څه اړتیا ده او همداسکه چیري دري ژبی له د
اوداسي به پښتون، چې له پښتو تیریږي، نو د رسمیوالي اړتیا یې بیا له منځه باید لاړه شي
۰وشي، کهچیږې پښتانه ورته پام ونه لري

: دویم : د ښووني روزنی په څلوردیوالی کې

نه او روزنه رګوټ کی باید د پښتنو لپاره په پښتو ښووپه افغانستان کی، د افغانستان په هـ
۰دا حق د دري ژبې لپاره هم بایدوي ۰شته وي، دا یې قانوني حق دی

د ښووني ژبه مو پښتو نه ده پاتې شوې، دا د یوه ستر قوم ژبه په ښوونځې او
۰لمنځتون(جماعت ) او هر ځاي کې له لیک او لوست پاتې شوې ده

دولت خو دا چې د دې څارنه نه کوي، ۰نې څارنه د دولت په غاړه ده‌د قانون د پلی کو
و کې له پخپله دا حق ترپښو لاندې کوي او په دولتي څلوردیوالی کی یې پښتو په ښوونځیـ
د دا په دې مانا، چې د پوره زیاتې اړتیا سره سره د افغانستان دولتی ۰ پښو غورځولی
ـه‌ه نیولې، چې پخپله مورنی ژبه پښتو زده کړې ورتواک خاوندان د پښتنو لپاره د دې مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې هکله هره پلمه بې ځایه او د قبلولو وړ ۰شوني کړي، چې له دندې یې سرغړونه ده ۰نه ده

:دريم : پوهنتون کې

ځير قانونې حق لري، چې د افغانستان د هرګوټ پښتو د افغانستان د رسمې ژبې په ګورو، چې په ځانګړي توګه کابل او ۰پوهنتون کې درسی ژبه وي او همداسې دري يو همداسې نورو زياتو ولايتونو کې لاتراوسه پښتو د درس ژبه نه ده پاتې شوی داسی ښتنو سره د هغو پرېدا د قانون ۰څو پوهاند یا استادان دي، چې خپل درسونه په پښتو ورکوي پښتو خو ۰مخامخوالی ( تضاد) دی، چې په پوهنتون کې درس ورکوي، خو په پښتو نه دې که خپله پښتانه په ۰لکه د پخوا مو چې وويل د پښتنو له املہ رسمی سراسري ژبه ده ونه دريږي او د واک خاوندان يې پاملرنه ونه کړي، خو پيدايښتی ( طبيعي ) ده، چې ۰له اړتيا لويږي مري، ځکه چې

په پوهنتون کی بايد درس ورکونه او درس نيونه او بيرته ورکونه څنګه وي ؟

دا په دې مانا، چې ۰موږ په افغانستان کی دوه ژبې رسمي سراسري لرو، پښتو او دري د دې نورو ۰پښتون درس ورکونه او زده کړه په پښتو کوي او دري ژبی يې په دري ه خوښه ده، چې ورښوونه او د ښونې نيونه او بيرته ورکونه څنګه قومونو وګړو بيا خپل کوي، خو د قانون له مخی، چې پښتو کم له کمه لومړنی ژبه ده هغوي هم بايد د خپلو ځانونو او راتلونکو د اسانتيا لپاره هم ومنی، چې درس ورښوونې او زده کړې په پښتو موږ دې کار ته د قانون له مخې ټول وکړي، دا د ملت جوړنه کې هم غوره لور لري او ۰رابولو

دا چې په افغانستان کې دا دوه ژبی سراسري رسمی ژبی دي، دا د پوهنتون لپاره هم ۰ولري قانوني شکل لري، چې ترې تيريدنه يې ناقانوني ده او هم هغسې تلنه بايد ځان پسې

که نه دري ژبی په دري، لنډ: پښتانه بايد درس وروکونی او درس نيونی په پښتو کړی او تو دا داسی ده ، چې پښد ۰نو بيا د دې ژبو سراسري کيد لپاره بايد اړتيا نه وی حس شوې ي او ژبی زده کړي هم خپلې زده کړې بايد په پښتو بيرته ورکړي، که استاد يې پښتون و همداسی دري ژبی زده کړی هم بايد خپل هر څه په درې سرته ورسوي، بې ۰که تاجک ۰دې، چې په پام کې ولري، چې استاد يې د کومی ژبی خاوند دی له

ی تاجک استادان او زده کړي بايد د خپلې ژبې سره مينه ولري او ترې تير نه شي، همداسه پښتانه استادان او زده کړي بايد له پښتو تير نه شي او هيڅ څوک بايد د خپلې ژبی ۰ې هم بايد څوک دا تيريدنه ونه منيپريښوولو ته اړ نه شي او د هيڅ ډول زور لاند

## د ژبې غوره والی

سويه ( له او ل : دا چې ژبه د کلتور په ککره کې ځاي لري او کلتور د يوه هيواد د پوهنې په ګوته کوي، نو ژبه په پوهنه کې زيات (دې مخه مي کچه ليکلې وه، چې ناسمه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

غوره والی لري، ځکه چې: په خپله ژبه زده کړه ساده وي او زده کوونکي اوزده کړی
٠هره پوهنیزه موضوع ښه رانیولی شي

٠دې لاندې ته د ګرانو لوستونکو پام را اړوم او د پښتنو ستونځې ته ګوته نیسم

لی ته دومره پام نه کوي، ځکه، په دولت کی او له دولت دباندې پښتانه د ژبې غوره وا
چې پښتنو د تاریخ په اوږدو کې د کمی احساس پیداکړی، پښتو یې پریښوولې او د بل
تون پښد ٠کلتور یې غوره بللی، چی اغیزې یې په راتلونکی زیږنده باندې خورا زیات دي
٠خپل ځان له دې نه دی ژغورلی، چی ځوک ورپورې ونه خاندي او بې عقله ونه بلل شي
دا د افغان غول نومونۍنې څخه د تختیدنې لار یې پښتو پریښوونه کی لیدلې یا نې چې
هوښیار وي او له دې امله یې احترام وشي ، نو پښتو پرېږدي، چی دا د پښتوژبې غوره
٠والي له منځه وړي

٠دویم : د ژبي غوره والي په لومړنیو زده کړو کې خورا غوره اود پام وړ او اړیین دی
ګورو، چي د پښتنو کوچنیانو څخه تاجک ٠رڅوک په خپله ژبه هرڅه زر زده کويه
پښتون ٠کوچنیان ، په ځانګړي توګه کابل کې، چې ښوونه یې په دري ده چټک زده کوي
٠د درس په پیل کې په دري نه پوهیږي، نو په نه پوهیدونې ژبه به څنګه زده کړه وکړي
لږ وای، چی پښتو یې بیخې پریښودې وای ، خو دا که چیرې پښتانه په کابل کې دومره
دباندې کار بیا دې پښتو پریښودو پښتنو ته هم ساده کیده، خوچې کوچنیان په کور او د کور
نه په پښتو روځنۍ ستونځې اوبی ( حل ) کوي، نو بله ژبه بیا که هرڅومره اسانه هم وي
٠شي زده کولی

د اګست څخه وروسته مې شپږ ٠ز ک ۲۰۰٤ په دې هکله به زه په کابل کې ، چی د
٠میاشتې تیري کړي، خپلې لیدنې کتنې ګرانو لوستونکو ته وړاندې کړم

راغلل، د پښتنو کوچنیان، چی له میندو پلرونو سره ، دزیاتو کالو جنګ وروسته کابل ته
و ل، ندا چې په کابل کې درسونه په پښتو نه وو او دا د پښتنو کوچنیان په دري نه پوهید
ه چې دوي ب ٠میندو پلرونویې خپل کوچنیان، کم له کمه دوه کاله راتیټ ټولګیو کې واچول
ی له د نورو کوچنیانو سره کښیناستل پیدایښتي (طبیعي) ده، چی زوریدل به ، ځکه ، چ
٠یوې خوا په دري نه پوهیدل او له بلی خوا به د نورو همټولګیوالو څخه لوي وو

## راوړنه څه ده؟ لرنه یا پسی د دې کار په ځان

دا پښتانه زده کوونکي، نو باید ځانونه کم حس کړي او دا د کمۍ رنځ همدا د ښوونځې د
وه دا پښتانه کوچنیان نو په ډیرو ستونځو سره ځانونه و ي ٠ پیل څخه د ځان سره اخلی
٠پوهنیز ځاي ته رسولی شي

ه شي کولی، دا چې څو کاله دوي خو د دري ژبو زده کوونکو سره اصلاً سیالي ن
و خووروسته پاتی او له دې برسیره ځان ته په هغه ځاي بیا نه شي قائیل کیدی، چی ي
.تاجک یې لري

(c) ketabton.com: The Digital Library

.په کابل کې د درس سیستم، چې طبعاً غیرقانوني دئ

چي ،لپاره په کې په پښتو زده کړې لیکلوست ځاي نه وو غیر قانونی په دې،چې د پښتنو دا جرآت د پښتنو کوچنیانو میندو ۰پښتانه یې د کمۍ په رنځ اخته کړي او کوي یې اوپلرونو هم نه دئ کړی، چی راپورته شي او دا خپل حق له دولت څخه وغواړي او دولت ۰خو تل په پښتو په پښو ختلی دئ

داسی وو، چی په هغی هغه تاجک کوچنیان هم نه شو پوهیدلی، له یوې خو ا یې کتابونه :پښتانه خولا څه کوې

: بیلګه

راوسه د دویم ټولګي لپاره کتابونه( دې ته مو ګوته ونیوله، چی درس په پښتو نه وو او لا ت پښو لاندې کوې ) ، چی دري لیکل شوي وو، په هغي هغه تاجک مور د دا قانون دولت ۰ي خورا لوړ درس یې نه وي ویلی پوهیدی نه شيِاوپلار هم، چ

انیول د دویم ټولګي کتاب د سعدي په شعرونو پیل کیدل یا نوره هم ښه له پنجکتاب څخه ر :شوي وو، چي پیل یې داسی دئ

کریما ببخشاي برحال ما که هستم اثیر کمندې هوا

د دریم ټولګي کتاب یې داسی پیل وو

................. رانیم نام حق بر زبان همی

زه ډیره بخښنه غواړم، که په لیکنه کې مي کومه ناټیکوالی راوستې وې، زما هم درې ) ۰(داسی ښه نه ده زده، خو پوهیدنه او پوهونه پرې کولی شم

زما د ترور ځوي په کابل کې اوسیده، چې زامنو سره به یې کله کله د لوست مرسته یما باندې به ګیر وو او له دې څخه چی ترڅو زه هلته وم راونه کوله، نو په همدې کر دا پریږده بل ځاي ما ورته وویل، چی ۰ووت، ځکه، چې د ځوی سر یې نه پرې خلاصیده ې د کتاب بل ځاي خو به بیا ساده وي، خو دی په دې ښکیل وو، چې په پیل ی ۰ته لاړ شه ۰پوه نه شي، نو بیا ورسته ورته ستونځی پیښیږي

ګران لوستونکي دې دې ته پام وکړي، چی دا څومره زورونکی او ستونځمن کار دی او ۰تاسو باور وکړئ، چې زما خوب یې له ځان سره همداسې د ستونځو په لور وځغلاوه

ما د ښوونځی د دویم او دریم ټولګي دا کتابونه، چی طبعاً په دري دي د پوهنی وزارت ل( خستل او د علومو اکاډمی ته می له ځان سره یووړترڅنګ د کتابونو پلورنځیو څخه وا اره دا دې دلته په ګوته شي، چي ما دا شپږ میاشتی د پوهني اکاډمی کي د دندې په توګه بیک ۰(تیرې کړلي

هلته مې دا کتابونه هغو د پوهی خاوندانو ته وښوول اوومې ویل، چی : داخو د دري ژبو تنو ونه یی داسې ستونځمن پیل کیږي او د پنزده کوونکو سره خورا تیری دی، چی درس و زده کوونکو سره سوچ کفر دئ او د دولتي چارواکو څخه خورا تیری او د پښتو تر پښ د لاندې کول اود پښتنو کوچنیانو راتلونکي بې برخلیکه کول دې او د هغوی د ناپوهی او دولتي چاراواکو ده، چی دا بیا هم وایم، چی دا ستره ګوناه د ۰کمۍ رنځ باندې ګیرول دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ت دلایل یي پښتانه او دولـ ۰تر یوې کچې پښتانه میندې پلرونه هم دا ګوناه په غاړه لري زیات راوړي، چې دا یا هغه دلیل دئ یا دا، مګر د چا تحقیرول بیا په ځانګړي توګه د و زما دا حالت چي ما لیدلی ، ذ ۰یانو تحقیرول هیڅ د منني نه دي او باید ونه منل شيکوچنـ ۰کینه یې راپارولی

ی نه زه ما په کوچنیوالي کی پنج کتاب، ګلستاب ، خلاصه او قدري لوستلي، خو په مانا یـ په خلاصه او قدري یو څه پوهیدل، ځکه ۰پوهیدلی یم او نه زما استادان پرې پوهیدل ه دا باور وکړئ، چی ز ۰چی هغه ژباړل کیدل، په پنج کتاب او ګلستان خو هیڅ نه پوهیدل باندې نه پوهیدم او نه پوهیږم ( هیله ده، چی ټیک به مې «کمند (ي) هوا »اوس هم په ړای لیکلی وي) نو یو داسی کوچنی به ، چی په هیڅ کلمه دري باندی نه پوهیږي څه زده ک ۰روحی ناروغی ازاد وي شي او څنګه به له

ی ژبی دلته په المان کی پښتانه کړی شي ، په پښتو ژبه ازموینه ورکړي، د دریمی یا دویمـ پرځای او په افغانستان کې خو د قانون له مخې دا لومړئ ژبه ده، نو پښتانه ولی داسی ځانونه کم بولی اوولی د دې کمئ رنځ څخه ځانونه نه خپلواکه کوي، د قانون په ښتو په المان یا کم له کمه په نورد راین وستفالن کې پ ۰وردیوالی کې نه زیات او نه کمڅلـ ۰د دویمې او دریمي ژبې په څیر پیژندل شوې او دا دلته د اوسیدونکو پښتنو له برکته

جه څه دا چي زموږ پښتانه کوچنیان په پښتو لیکلوست نه لرې ، د دې لاس ته راوړنه یا نتیـ دهٔ؟

د رنځ په پوره روښانتیا ویلی شو، چي د کوچنیانو روحیه به بیخی خرابیږي، د کمې دا خو ې ځني ځانګړوالي به یې شته وي، چ ۰سره به ګیریږي او یا به بیخي له ښوونځي پاتیږي ۰ کوچنیان به ځانونه ښه رسولی شي، چي د ما سره یې بیلګي شته

وه ه یاد کړ او و یی ویل، چی: په ید کابل پوهنتون یوه پوهاند خپل پخوانی وخت را پـ وخت کې په پوهنتون کې ترسلو زده کړو شاوخوا په لومړي سمستر کې ناکام شول، د هغو له جملی یوازی یو تن تاجک وو، چي هغه هم له هرات څخه راغلی وو، نو وګورئ ۰دا ستونځي او دا د کمی مرض سرچینه، چي پښتانه ورسره خپل هیواد کې ګیردي

لي خپلو تاجکو ورونو ته په پوره درناوي قایل یم، ځکه چی دوي د خپل کلتور او خپ زه ژبې سره، چي د کلتور په ککره کې ځاي لري مینه لري او دوي او ژبی یې پوره وده کړې او نور هم د ودې په لور روان دي، د کمئ مرض څخه ازاد دي، د ژبې سره مینه کړه موږ پښتانه هم باید له خپلو هیوادوالو څخه دا زده ،لري او دا نه ترې تیریدونکې مینه ۰وکړو او له پښتو سره مینه پیدا کړو

هرڅه له مرکزه کیږي، د یوه هیواد هرپرمختګ یا وروسته والی د مرکز د کړنو لاس ته ۰راوړنه ده

نو د ژبې په هکله څه باید وکړو ؟

ړې، کم له کمه هغه خپلې لومړنۍ لومړی : پښتانه، چی په ښار کې له هرچا سره مخ کیـ یې خبرې باید په پښتو پیل کړي، که بیا یې ځان د قانون په څټ اړیین باله او پښتو دا د ،په دې هکله باید په کابل کې تل داسی تبلیغ شي ۰پرېښوله هغه ته دې بیا پام وکړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

انه پښتو ۰تيت پاڼوله لاري او همداسي د ليکنو ، اخبارونو او مجلو له لاري، لنډ او اغيزمن ا دې نه خپه کيږي، که څوک ورته ووايي، چی په پښتو نه پوهيږي، خو د خواشينی ځاي د ۰دی، چی پښتانه له پښتو تير شي

مخ او د نورو غوره ځايونو ترمخدويم: په کابل کې په ځانګړي توګه د پوهنې وزارت تر ار بايد نا بايد په کابل کې د پښتنو کوچنيانو لپاره د پښتو ليکلوست غوښتنه وشی او دا ک ۰پريکيدونکې دوام وکړي، تر څو دا قانون پلی شي

دريم : په همدې ډول بايد د کابل پوهنتون، د پولې تخنيک پوهنتون او د لوړو ښوونو اد انې خپری شي او دا تل، چی په کی ليکلي وي: د پښتون استې کې مخ په جوړښتونو ۰دنده ده، چی خپل درسونه په پښتو ورکړي، چی دا امر قانون کوي او داسی بايد وي

دنده هم ده، چی د زده کړو بيرته ورکونه يانی ازموينی او پښتون همداسې د زده کړي د لپاره همداسې امر بايد نورو درې ژبو او داسې نورې په پښتو بيرته ورکړي او د تاجکانو .وي، چی خپل کارونه په دري سرته ورسوي

## پښتو پوهنيزه کيدنه

ډاکتر ماخان ميری شينواری

پښتو بايد په پوهنه کی د پښتنو د اړتياو پوره کيدنې جوګه وي، که نه، نو بيايې بايد پريږدو۰ ژبې همداسې له منځه ځي، چی اړتيا ورته نه وي او بله ژبه يې دا اړتياوې پوره کړي۰

د يوه قوم وده او د هغه قوم دژبې وده يو له بل سره سيده او په ښځ اړيکې لري، دا په دې مانا، چی د يوه قوم ودې سره د هغه قوم ژبه وده کوي او په څټ: د يوه قوم ژبه، چې وده کوي، نو دا د قوم وده ځان پسې لري( بخښنه غواړم، چی دا می شميرپوهنيز وليکه، چی د سيده او په څټ اړيکو څخه وغيرېدم). په خپله ژبه ليکلوست له دې امله هم اړين دی، چی له يوې خوا ژبه ژوندی پاتيږي او له بلې خوا ژبه اسانيږي، چی دا د ژبی اسانول بيا په ځان پسې د قوم پوهنيزه - او زر وده هم لري۰ موږ پښتانه هم دې ته بايد خپل پام راوګرځوو، چی ژبه مو پوهينزه شي، ساده شي، چی زر پوهوړ کيږي او پښتانه د کمی ناروغی څخه راباسي، روحيه يې قوي کيږي، د ژبی او د قوم او همداسی د قوم د روحي ودې په ساده ډول لوړيدلی شي۰ بې له پوهنې د قوم هراړخيزه وده که ناشونې نه وي کم له کمه خورا ستونځمنه کيږي او پڅه کيږي۰

پښتانه له يوې خوا د پوهنې څخه وروسته پاتی دي او له بلی خوا کومو پښتنو، چی پوهنه خپله کړې هغه يې زياتو په پښتو نه ده زده کړې، چی له دې امله پښتانه په پوهنه کې د پښتو پوهنيزو ترمينولوجيو څخه لرې پاتې دي يا نوره هم ښه: پښتنو هڅه نه ده کړې ، چې په پښتو کې پوهنيزې ترمينولوجې ورمنځ ته کړي او همدا ناپوهوړ ي نومونی يا هغه نومونه يې چی په مانا يې نه پوهيږي يا يې په ستونځو په مانا پوهيږي، تراوسه ساتلي۰ دا چی دا کار تراوسه ولې پښتنو نه دی کړی زيات دلايل به ولري، خو هغه يې زه دلته نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

څېړم، يواځې دومره وايم، چې پښتنو خپلې ژبې ته په پوهنه کې غوره والی نه دی ورکړی او بې د تړاوکلمو يا تړنکلموڅخه نور څه په پوهنه کې نه کاروو، دا کلمه نه ليکم چې نه يې لرو بلکې نه يې کاروو، دا ځکه چې زياتې پوهنيزې نومونې - په تيره بيا د لومړنيو زده کړو لپاره - په پښتو کې تراوسه ساتلې پاتې شوې او شته خو موږ نه دي رامنځ ته کړې او تراوسه هغه خپلې د پرديو راپاتې په پوهنه کې ورسره بلدې پردۍ پرې نه پوهيدونکې نومه ونې کاروو. تراوس دا کار په پښتنو کې چا نه دی کړی، چې ژبه يې پوهنيزه شي.

ما په دې اخرو کالونو کې زيار باسلی دی، چې د پښتو پوهنيزه کيدنه کې خپلې هلې ځلې وکړم، زه په دې وتوانيدلم، چې په خپل مسلک شميرپوهنه(رياضي ) کې د لسو کتابونو( اوس له څلوېښتو اوښتي) په راټولونه او ژباړه بريالی شم. ( زما لومړۍ راټولونه په نږدې ۹۰۰ مخونو کې چاپ شوې، دا کتاب زيات پراخه شميرپوهنيزه خونديونه ( متن) لري، دا ډاډ هم بايد ګرانو هيوادوالو ته ورکړم، چې په دې سويه کتاب زموږ په ګاونډيو هيوادونو کې نه دی چاپ شوی( دادې راته ګران لوستونکې اجازه راکړي، چې د خپلو ليکنو لپاره تبليغ وکړم، دا هم د هيوادوالو وپوهنې ته د راکښنې او ډاډ ورکونې له امله، چې پښتو د پوهنې ژبه ده او دا توان لري، چې پوهنيزه شي، که چيرې پښتانه وغواړي)) ما دا کتابونه په پښتو ليکلي، دا په دې مانا، چې شميرپوهنيزې نومونې مې له پردۍ ژبې په پوهنه کې ورسره بلد نومونو، چې په مانا يې نه پوهيږو، په خپلې په پوهنه کې ورسره نابلدې ژبې، چې پرې پوهيږو اړولي. موخه داده، چې ما شمير پوهنه په ټوله مانا، تر کيدونکې پولې پورې په پښتو ليکلی او ژباړلي. موږ- لکه چې ګوته مې ورته ونيوله- په پوهنه کې د خپلې ژبې سره بلد نه يو مګر ژبه مو دا توان لري، چې مسلکي- کم له کمه هغه لومړۍ نومونې، چې د لومړيو زده کړو لپاره اړين دي- په پښتو ونومول شي. زه له پيله داسې پيل کوم، چې موږ پښتانه سره وپوهيږو ، چې دا نومه ونې تر کومې سويې پورې سمانديزې(منطقي) دي او منل کيدی شي.

يادونه: د منلو وی دلته اړيين ځکه نه دی، چې دا څه چې ته د نورو ژبو اندول په خپله ژبه ليکو، چې تراوسه نه دی ليکل شوی، دا بايد همداسې وي، يعنې دا همداسې دی او منل کيدو ته اړتيا بايد ونه لري او نه يې لري.

دا چې موږ د ټولو پوهنو په تيره بيا د شميرپوهنی سره په خپله ژبه نابلد يو، نو له پيدايښته (طبعآ) دا څه چې راته پاتې دي او يا څه چې لرو، هغه د شميرپوهنی مسلکی خلکو له خوا منځ ته نه دي راغلي، که غواړئ وبه وايم، چې زيات کار يې کړی دی، خو د شميرپوهنې قانونمندۍ ته په کې پاملرنه نه ده شوې او يا نه شوه کيدی.

دا هم غواړم په ياد ولرم، چې ما دا څه په خپلو شميرپوهنيزو کتابونو کې د هرڅه يانې تر ښوونو پورې روښانه کړي، خو د دې لپاره، چې يو بل سره يو اند ته ريشو، اړيين ګڼم، چې دا لږ وڅيړم، په دې موخه، چې خبره مو سره يوه شي او راټلونکو لپاره دا ستونځې اوبې ( حل ) شي.

د يو څه يا په ټوليزه توګه د شيانو نومونې يا د پيدايښتې ژبې څخه رانيول کيږي او يا که دا نومونې په پيدايښتې ژبه کې نه وي( که دا هره ژبه وي بې پروا ده) دا نومونې بيا خپلې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځانیزې لارې لري. ځنو شیانو ته چې نوي پیژندل شوی یا تعریف شوي وي، که هغو ته په هغه اړونده پیدایښتي ژبه کې نوم نه وي، نو بیا د هغه چا نوم، چي دا څه یی د لومړي ځل لپاره پیژندلي، ورکول کیږي، لکه د څیلسیوس یا سیلزیوس د تودوخې درجه او همداسی د کالوین دتودوخې درجه یا هغه لکۍ لرونکې میتیوریت یا که غواړۍ ستورۍ، چې ځمکې ته نزدې راغی د لومړي ځل لپاره د « شومخر» له خو ا کشف یا ومیندل شو ، چې له دې امله د شومخر( انګریزان یې شومیکر بولې) په نامه یادیده. ګران لوستونکی به له داسی نومونو سره پوره بلد وي. داسی بیلګې زیاتې شته لکه د یو ډول زور، چې په ماخ کچیږي او ماخ ( مخ) یو اتریشي فزیک پوه دی یاني په فزیک کې یو د کچ یووالی یا یوون( واحد) ماخ دی. موږ باید د پښتو نومونو ته هک پک نه شو. غوره په نوموونو کی د هغه شي پیژند یا تعریف دی. د پیژند له مخی یو څه پیژندل یا ټاکل کیږي، چې په دې کې بیا د نوم سره ساده بلدیدنه کیدونکی ده.

زه په الماني نومونو ښه پوهیږم نسبت و عربی نومونو ته، چې زموږ په هیواد کې، په دري ژبه کې نه دا چې ورځني(مروج) دي ، بلکه خپل کړي یې دي او له هغې څخه سم پوهیدنه زما لپاره پوره ستونځمنه ده. زه له دې امله هڅیږم، چې دا نومونه تر کیدونکي پولې پورې په پښتو ولیکم او که نه بیا نو هغه په نړۍ کی ورځنی بلد نومونه رااخلم، چې هغه د ګرانو لوستونکو تل په کار راځي. د پښتو نومونو څخه باید ونه ډار شو، دا کار که څه هم ستونځمن بریښي، ناشونی نه دی او باور وکړی، چې یو ځل موږ ورسره بلد شو( دا کار د ځوانو زده کونکو لپاره بیا پوره ساده او له لومړي سره پوهوړ دی) بیا پوره ساده هم دی او د ستونځوبیو( دستونځو د حل ) لار مو یواځي همدا ده، چې د لومړی سره باید د پوهنی سره په پښتو بلد شو بیا به زموږ کوچنیان دا ستونځي ونه لري. موږ په ښوونځی کې نه پوهیدو چې مثلث به نو څه وي؟ خو د پیژند له لارې راښودل کیده. له درې ګوډي یا درېګوټي او که غواړئ: دریکونجي څخه به سملاسي پوه شي، چې دا په یوه هواره څرنګه څیره ده ، چې درې ګوډه یا ګوټه یا کونجه لري.

ګرانو هیوادوالو !

که چیرې وغواړو ، چې ژبه مو پوهنیزه شي، باید پوهنه په پښتو شي. دا په پښتو نومونه په پښتو پوهنیزه کونه کې ور دننه کونه اړیین دي. وروسته به بیلګي راوړم، چې که دا نومونې په پښتو نه شي، پښتو مو بتي یا په کراره- د لیکلوست پښتنو منځ کې - مګر له منځه ځي، ځکه، چې په غیر له تړاو کلمو څخه نور څه په کې د پښتو نه شته او د دې یو لامل دا دی، چې زیاتو پښتنو زده کړې په پښتو نه دي کړي او له بلې خوا تراوسه دا هڅه نه ده شوې، چې هغه د پوهی سره بلد پښتانه یا په بل ډول په پوه سمبال (سنبال) پښتانه دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوهنه سمه په پښتو کړي یانی د تړاو کلمو څخه پرته یې نومه ونې هم په پښتو کړي. دې ته به بیا هم ګوته ونیسم، چې دا نومه ونې، چې په پښتو نه شي، زموږ راتلونکي پښتو له لاسه ورکوي. ګورو، چې دا اوس همدا پښتانه مقاومت کوي، چې دا پښتو نومه ونې دې پښتو پوهنو ته نه راننوځي او لامل یې دا دی، چې دوي نه غواړي د پښتو نومونو سره یا ځانونه بلد کړي او یا یې د پښتو نومونو سره ستونځي پام ته راځی، چې دا ډول اندونه زما په اند سم نه دي. پوهنه په خپله ژبه ساده او زر پوهوړ کوي. د دې څخه موږ پوره ستونځې لیدلي، چې دا نومه ونی دا عربی راته همداسی ناپوهوړ وي لکه د المانی. زه په شمیرپوهنه کې د دې پوهنیزو نومه ونو سره بلد شوم، چې پیل مې وکړ، شمیرپوهنه په پښتو ولیکم او په شمیرپوهنیزو نومونو هم وپوهیدم، چې څه څه ته وایي.

د دې لپاره ، چې ښه بلد شو، چې پوهنه او همداسې شمیرپوهنه په پښتو څومره ساده او اړینه ده یو څو بیلګي راوړم او دا بیلګی هغه په پوهنه کې ورسره بلدې پردی ناپوهوړی ترمونولوژي او په دې نوې په پوهنه کې ورسره نابلدې پوهوړې پښتو ولیکم .

په شمیرپوهنه کې بیلګې، هغه چې ورسره بلد یو مګر زیات وخت یا تراوسه مو یې په مانا نه پوهیدلو ته مو ځانونه اړیین نه دي بللي:

دایره : د یوې سطحي د تمامو نقاطو سیټ ته، چې له یوې نقطی داسې په نامه مرکزي نقطی څخه یې فاصله، چې شعاع یې بولو مساوي وي، دایره وایو.

ګورو، چې په پورته بیلګه کې له : د یوی، ته ، چې له، څخه ، وي، بلل،۰۰۰ نور څه په پښتو نه دي. یانې هغه څه، چې پوهنیزه غوره والی لري، په پښتو نه دي او یو د ښوونځي زده کوونکی یې په مانا نه پوهیږي۰، زه دا اوس هم کله کله په فکر کې شم، چې «نقطه» به په «ط» وي او که په «ت»

زما لیکنه :

ګردی: د یوې هوارې د ټولو ټکو ډیری ته، چې له یوه ټکې، داسې په نامه منځټکی څخه همغه یا برابر واټن - چې وړانګه یې بولو- ولري ګردی وایو.

دا هم غواړم په یاد راوړم، چې موږ په کلو کې دایره نه ده پیژندلې او د کلی خلک اوس هم نه پرې پوهیږي، چې دایره به څه شی وي. دلته، چې کله کله د افغانانو سره په موټر کې ناست یم، نو کله، چې په یوه ګردې راشو، نو دوي نه وایي، چې له دې دایرې بلکه وایې ، چې له دې ګردی زیات وخت زموږ پښتانه، چې کله کله د مرکزي نقطي په ځای منځټکی واوري ، نوخاندي، دا ځکه، چې منځ ټکی یې له خپلې ژبې دی او تراوسه یې منځټکی نه دی اوریدلی. څوک چې څه د لومړي ځل لپاره واوري ورته بل ډول

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکاريږي، مګر دا باید په ګوته کړم، چې هر یو پښتون په منځنکي پوهیږي، که څه هم ورته هکپک شي.

ګورو، چې دا ټول په پښتو او له ستونځو ازاد دي او که څه ځاي کې ستونځې ولري، هغه زر اوبيوړ( حل کيدونکی ) دي. دې پردیو ناپوهوړو نومه ونو ته ما په دې هکله یوه کتاب هم » شمیرپوهنه له عربی په پښتو« د نامه لاندې لیکلی، چې هغې ته هم د ګرانو لوستونکو پام را اړوم. دا خواشیني به همدلته وکړم، چې کوم کتاب، چې په پښتو لیکل کیږي، د هغه چاپ کتابونو ( تیراژ) د زرو څخه نه جګیږي، چې د هرچا لاس ته نه شي ورتلی٠ زه په دې پوهیږم، چې زما کتابونه به هم د لږو لوستونکو په واک کې وي او هرچا ته به یې پیداکیده هم ستونځمن وي. دا زما د شمیرپوهنې کتابونه کم له کمه د کابل، خوست ، کندهار او ننګرهار پوهنتونونو کې د لوستلو لپاره شته٠

یادونه: موږ په افغانستان کې ، چې شمیرپوهنيزنومونه عربي دي، په سیده کرښو رابندې ځیرې د اړخونو له مخې( د اضلاعو ) له مخې ) ځیړلي. زه دا سیده کرښو باندې رابند نومونه د ګوډ(ګوټ یا کونج ) له مخې ځیړم، چې موږ پښتنو ته دا کار ساده والي پیښوي، نو له دې امله زه درې ګوډې، څلورګوډې ، پنځه ګوډې او ډیرګوډې وایم، چې وروسته به بیا پوره روښانه شي٠

د بیالوژي څخه یوه بیلګه ( تراوسه): که په یوه مرطبان( مرتبان؟؟) کې یو ممبران کیږدو او د ممبراب یوه طرف ته د مالګي غلیظ محلول واچوو او بل طرف ته یې رقیق، نو ګورو، چې د مایع حرکت د مالګی له رقیق محلول څخه د مالګي د غلیظ مخلوط یا محلول په طرف صورت نیسي.

له دې وروسته وړاندیز:

که چیرې په یوه لوښي کې یوه پرده ( دا به ژویزه پرده وي، چې اوبه یا بل بهیدونې( مایع، خو نه اوبلن) ترې تیریږي) واچوو او د پردې یوه لور ته ټینګ ملګوبی واچوو او بلې لور ته نرې ملګوبی واچوو، نو ګورو، چې د بهیدونی خوزښت له نري ملګوبي څخه د ټینګ ملګوبي په لور ځان نیسي یا په لور وي.

دا دواړه دې ګران هیوادوال سره پرتله کړي او داسی دی فکر وکړي، چې د لومړي ځل لپاره د داسې لیکنې سره مخامخ کیږي او ودې ګوري، چې کومه لیکنه ساده او زر پوهوړ ده، چې بیا یې ورته ښوونکی روښانه هم کړي.

کیمیا څخه بیلګه ( تراوسه ): که چیرې یو محلول ولرو او په هغه کې د خواست سره نور څه هم حل کړوتر هغې چې نور څه په کې نه حل کیږي، نو دې محلول ته ٠٠٠ وایو٠

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما وړاندیز یا پښتو یې : که چیرې یوه اوبې کې وغواړو نور څه هم اوبې کړو، ترهغې چې نور څه په کې نه شي اوبې کیدی، نو دې اوبې ته ۰۰۰ اوبی وایو۰

ګران هیوادوال دې ورته نوم وټاکي، چې د پښتنو لپاره اسان وي. دلته خو یو ډول اوبی روښانه شو، چې نور څه نه شي زغملی.

وایي، په عربي ورته مشبوع، چې د دواړو مانا موږده. نو راځی، چې موږ یې وبولو.Gesätigtدې اوبی ته په المانی کی ګورو، چې په مشبوع خو به موږ هیڅ وخت نه یو پوه شوي، چې مانا یی موږ ده مګر زه یې د المانی نوم څخه، چې یوه پښتون کیمیا پوه مې ورته پام راواړاوه او وپوهیدم، چې دا اوبی، چې نور څه ځان کې نه شي اوبی کولی یا نه شي زغملی مړیږي، یا موړ شي، چې له دی امله یې موږ اوبی بللی شو.

په فزیک کې : که یو موټر په یوه ساعت کې یو څو کیلو متره لار ووهي ، دا سرعت بولو. یانی واټن په وخت او وایو، چې د موټر سرعت په یوه ساعت کې ۰۰۰ کیلو متره دی او په وخت کې د سرعت تغیر ته تعجیل وایو. دې ته موږ پښتو ویونه چټکتیا اوبیړه لرو.

نو که موږ په پوره چټکتیا دا سرعت چټک نه کړو او په بیړه دا تعجیل بیرنی نه شي، نو په بیړه به مو بیړه ، د تعجیل او چټک به مو د سرعت لپاره خپله چټکتیا د لاسه ورکړې وي یا به مو خپله چټکتیا د سرعت او خپله بیړه به مو د تعجیل لپاره له خوزښت څخه ایستلې وي.

:دا یادونه دې بخښنه وي

ما د هنر په هکله زما د یوه دوست لیکنه ولوسته۰ په دې لیکنه کې له دوه ډوله هنر څخه خبری وي، چې هنر یې په پوره هنر د هنر په کلمو کې نغښتی وو۰ د ده په کلمو یو استاده هنر او بل متحرک هنر وو ۰ زموږ دې لیکوال دا استاده هنر د پښتو په پښو ونه دراوه ، چې ولاړ هنر شي او نه یې دا متحرک هنر د خپل خوزنده هنر لپاره له خوزښت و یوست۰ که موږ د بل څه همداسي استاده متحرک پریږدو، پیدایښتي ده، چې پښتو له پښو لویږي او بې خوزښته یا ناخوزنده پاتیږي۰

دلته دې د ګرانو هیوادوالو دې ته پام وي، چې هغه نومونه، چې شمیرپوهنیز او تخنیکي او یا بل پوهنیز کیدي شي، په تخنیک او نورو پوهنو کی ونه کارول شي، زر له منځه ځي، ځکه چې ژبه د کمښت سره مخامخ کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په یاد دې ولرو، چې هغه نوم، چې له پیدایښتي ژبې و پوهنیزې ژبې نوموونې ته، که فزیک وي، کیمیا ، شمیرپوهنه وي، ټاکل کیږي، هغه نو دا څه، چې وغواړو وپیژنو، کره نه په ګوته کوي٠ په دې څه چې پوه شو، نو د اړونده پوهنی څخه ورته پیژند (تعریف) ورکول کیږي او د پیژند له مخې د دې نومه ونې تول خویونه روښانه کیږي. دې لاس ته راوړنې ته رسیږو، چې هر نوم د هغه اړونده پیژند څخه جوت لاس ته راځي.

داسی ویل کیږي، چې دا نومه ونې دې یو دولتي ډله، چې د همدې لپاره ټاکل شوي وي، منځ ته راوړي، خو ترهغې باید ډیل وکړو، چې د وخت له لاسه ورکونه ده، له بلې خوا ویلی شو، چې همدا د پوهې خاوندان دي، چې بیا به هم دا نومه ونی منځ ته راوړي او دا چې دا کار اوس وشي، دا د راتلونکی لپاره یوه مرسته ده٠ دا خو اوس هم کیدی شي، چې د اړونده پوهې خاوندان په ګډه خپل اندونه یو له بل سره بدل کړي، چې خپلې ژبی ته پوهنیز اړخ ورکړي٠ هرڅوک، چې یو څه کې لوړې پوهنې کړي وي، هغوی د دې توان لري، چې مناسبې نومه ونې په پښتو هم وټاکلی شي٠

## د ژ بې پوهنیزه کیدنه که د ژبې سوچه کیدنه:

که څوک وغواړي، چې ژبه دې سوچه شي، نو بیا دې د غرونو او رغونو څخه نه راوځی٠ څومره چې د بیلابیلو قومونو او ولسونو اړیکې سره نزدې کیږي په همغې سویه کلتورونه- چې په ککره کی یې ژبه ده- یو په بل اغیزې لري او یو د بل د ژبو څخه څه رانیسي. په پوهنه کی هم هر څه په یوه ژبه کې نه شي پیداکیدی، نو باید دا څه نومونه له بلې ژبی ومنې٠

زما موخه په دې بنسټ د پښتو پوهنیزه کیدنی څخه د پښتو اسانونه او پرې زر پوهیدنه ده نه د پښتو سوچه کیدنه. که کوم څه ته خپل د پښتو نوم لرو او یا مناسب نوم ورته پیداکولی شو، خو ښه او که نه، نو بیا د بلې ژبې نوم باید وي او یو نامناسب نوم باید ورته ونه کاروو

په راتلونکې کې زما موخه دا ده، چې هغه د لوړو زده کړو پښتانه باید په خپلو مسلکونو کې یو له بل سره په پښتو نومه ونو کې خپل اندونه ګډ کړي او په دې توګه پښتو ته هم د پوهنې په لور لار وازه کړي، که نه نو بیا مو پښتو له اړتیا لویږي او موږ پښتانه بیا بی پښتو کیږو، چې ګوندې بیا به پښتانه نه یو٠ په نړی کې زیات انسانان هڅیږي، چې واړه کلتورونه له منځه ولاړنه شي او موږ پښتانه، چې په دې اوسید ځاي کې له نورو ګاونډیو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځخه پوره زيات يو، ياني د پنځوس ميليونو په شا وخوا، نو بايد داخپل كلتور، چي په ككره كی پښتو ده او د پښتون قوم په پښتو ژوندی دی، د لاسه ورنه كړو او كره پښتانه پاتې شو، تراوسه خو د پښتنو په هغه پښتونولی پاتې دی، چی هغه مو نور په كار نه راځی، چی انتقام په خپلو منځونو کی مرګ ژوبلې او ۰۰۰ او دې۰ راځی، چی اوس پښتانه په پوهنه پښتانه شو او د پښتو د ودې له لارې او د پښتو ژوندی پاتی كيدو له لارې خپله پښتونواله نړی ته وښايو او نړی ته څرګنده كړو، چی نه مو پښتو په ټوپک كې ده او نه پښتانه يواځې د ټوپک سره بلد دي ، يانی په پوهنه كې هم پرمخ تلی شي ۰

زه ټول پښتانه، چی په كوم مسلک كې مسلكي وي،په ځانګړي توګه د پيداينتي يا طبيعي پوهنو پښتانه دې ته رابولم، چې هغه د خپل مسلک كتابونه يا راټول او يا وژباړي او دا كوښښ هم وشي، چې د كيدو په حالت كی دا مسلكی نومونه هم په پښتو كړي، خپل وړانديزونه وړاندې كړي، چی د مسلكي پښتنو مشوره ورسره وي۰ په دې اوس حالت كې بيا اخرنی پريكړه د هغه چا ده، چې څه ليكي۰تر هغې دې دې ته نه ګورو، چی دولت دا خپله دنده په لاس واخلی كتابونو ليكلو ته افغانان چمتو كړي، زموږ پښتو ژبی ته د دندې په توګه هم دا امكانات برابر كړي، چې پوهنيزه شي او دا په هغه پوهنيز ډول، چې د ژبی مسلكی كليمی مو په راتلونكی كی د لاسه نه وې وركړي۰

كه دې پورته بيلګو ته پام وكړو، نو وبه ګورو، چې زموږ پښتو نومه ونی ساده او زرپوهوړ دي۰ موږ به د مشبوع په ځاي په موږ زر وپوهيږو.

كډ كار اړيين دی. د لانور ګډ كار په هيله.

:دلته دې يو څو لنډو يادونو اجازه وي، چې بې له سرليک يې راړو

داسې كيدی شي، چې يو څه يا يو شی يوه ځای كې وی په يوه بل ځای كې نه وي، ځكه چې هلته به يا دا ستونځې نه وي او يا دا د شيانو څرګنديدني، نو بيا د بل ځای نوم بايد وكاروو. كيدی شي، چې يو څه په بيلو بيلو ځايونو كې په بل نوم نومول شوي وي، چې دواړه يې سم دي او دا په ټولو ژبو كې داسې شته.

د بيلګې په توګه كه وی ( لغات) ځلوبې نوم را واخلو او په هسكه مينه كې له چا وپوښتې، درته وبه وايي: په پارچاوونو ( له لوړې چې كښته اوبه لويږي يعې اوبه په زوړي لويږي دا په دې معنا چې زوړوبې) كې چې په ژمي كې اوبه رالويږي ، د دې څاڅكې، چې په څنګ كې لويږي يخيږي او د وخت په تيريدو سره دا سې تيرې د ستنو يا ميخونو يا موږيو په څير د يخ ټوټې ترې جوړيږي او همداسې د ځنو وښو يا بوټو په منځ كې دا كله كله ګړې وړې، خو نه خوړي وي ، جوړيږی چې دا موږ ځلوبې بولو.

كه دا پوښتنه په جلالكوټ كې له چا وكړي، چې ځلوبې پيژني؟ نو هغه به درته دا كړې وړې خوړې په ګوته كړي، خو دوی هم بيا دا د هسكې مينې نوم، چې پرې وپوهيږي را

(c) ketabton.com: The Digital Library

اخلي او باید هم، دا بیا د معلوماتو د ردبدل له لارې منځ ته راځي ( زما په اند به دا نوم له همدې ځلوبیو را اخستل شوی وي).

ځنې کسان په دې اند دي، چې دا اوبه چې یخې شي، زوړوبی دې. دا اوبه چې پرې رالویږي، دا زوړوبی دی، خودا یخ چې وشي او ځلیږي، نو دا ځلوبی دي.

یوه بله بیلګه یې د ناسم نومونې د مایع پښتو نومونه ده. دا نومونه زما په اند هغو کسانو کړې، چې نه یې د اوبو فزیکي خوې ته پام کړی او نه یې په یوه بله د باندنۍ ژبه واک لروده او همداسې دیوه ځای وي، چې هلته واوره نه شي، چې له امله یې اوبلن نوم نه دی اورېدلی.

څوک چې دریږي موږ ورته دربدونکی وایو، چې کښیني کښیناستونکی ورته وایو، همداسې تلونکي، ځغلیدونکي او په پای کې بهیدونکي یا بهیدونکي هم لرو. دا هغه څه دي، چې بهیږي. تیل، شرومبې، شیدې او اوبه، دا ټول بې له دباندنۍ اغیزې بهیږي، نو بهیدونکي دي او نه لکه زموږ دا اوس نومونه ،، اوبلن،،. اوبلن د اوبو خوی دی او نه د دې نورو بهیدوکو. اوبه که جوش کړې، نو تبنتي یا بخار شي او تیل او دا نور که جوش کړې، نو اوبه ترې تبنتي یا بخاریږي او پخپله ټینګیږي.

اوبه ترې تبنتي یعنې څّه؟

دا د یوه بل څه سره مخامخ کیږو، چې هغه د بهیدونکو او کلک نومونو سره توپیر لري. دا بل ډول بدن یا د موادو بل ټولګی لاس ته راځي او هغه تښتیدونکي بدنونه دي، چې پرته له اوبو شتون لري. دا غازونه دي، چې تښتي. تښتیدنه د غازونو خوي دی، نو که غازونو ته تښتیدوني ووایو هم بده به نه وي او د خوي څخه یې مناسب نوم راجوړ دي.

هیله ده، چې د داسې نومونو څخه ونه ډار شی، دا داسې ده، که منی یې یا نه. دا د چا د خوښې کار نه دی.

یوه بله یادونه:

ما د علومو اکادمي، پوهنتون او په نصاب کې د محترمو پوهانو څخه وپوښتل، چې عرب به کره څه ته وایي. هر یوه یې تعریف وکړ او ځنو به یې بیلګه هم راوړه لکه د ځمکې کره، خو په هغه معنایې چا فکر هم نه وو کړی.

عرب د فوټبال توپ ته کرته القدم وایي ( زه هغه ګردی ت نه شم لیکلی بخښنه دې وي) یعنې د پښو غونډوسکه. په ټولو ژبو کې دا همداسې ده، خو موږ یې د پښتو نوم څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډارېږو، ځکه چې په پښتو باور نه لرو، ورسره بلد نه يو، فکر نه کووو چې دا هم يعني پښتو هم هر څه، چې نورې ژبې يې په پيداېښتي توګه لري، لري.

که دا ځانپالنه يا ځانستاينه وبرېښنده، نو ډېره بخښنه دې وي:

د اول ځل لپاره مې شميرپوهنه په پښتو کړې. دا په دې معنا، چې د لومړي ځل لپاره مې يوه پوهنه په پښتو کړي. دا نوي ګام دئ او ستونځې يې هم همدومره ډېرې دي. له دې سره زموږ مشران ځکه شتونځې لري، چې هغوی دا نوې يا په پښتو څه، چې ورسره بلد نه دي، نه شي منلی او ځغملی، که څه هم زموږ کوچنيان او ځوانان په دې پوهيږي، د بيلګې په توګه، که تاسو يوه د پنځم ټولګي زده کوونکي څخه پوښتنه وکړئ، چې مثلث څه ته وايي، نو درته وبه وايي، چې نه پوهيږي او که هندسه باندې پوه وو، هغه هندسي تعريف به يې درته وکړي، خو که ورته ووايې چې درېګوډی يا درېکونجي يا درې ګوټی څه شی دی، نو درته وايي، چې هغه څه چې درې ګوډه، - کونجه لري او همداسې څلورګوډی، - کونجی، پنځهه ګوډی، - کونجي او ...

موږ بايد پښتو نومونه په ژباړه کې، چې زموږ له پاره ډېره غوره ده، هم وکاروو او پرې نه ږدو، چې د کاروني راڅخه پاتې شي، ځکه چې بيا ورکيږي. هغه څه چې لرو، هغه بايد ټل استعمال کړو.

په ځنې ژبو کې د يو څه له پاره ، نه داسې نه ده، د يو څه د دوه لورو( دننه او دباندې لورې) له پاره بيلابېل نومونه شتون لري اوځنو ژبو کې دا يو نوم لري، لکه د عربي زاويه. په يوه ودانۍ کې همداسې په يوه پټي کې موږ دوه ډوله په پښتو زاويې لرو، چې موږ په پښتو کې د دې له پاره دننۍ زاويه کونج او دباندئ زاويه ګوډ بولو.

په الماني کې هم دا دوه کونج او کونج توپير لري، خوپه انګرېزي کې نه، لکه فارسي کې.

غمازه مه کوه بې ځايه او دا هسې هڅې ته مې له غيرې بيلولی جانا ن ګوره نه شي

که چيرې تاسو د کومې ژبې وي ګوګل کړئ، نو زياتې معناوې به ترې لاس ته کړئ، چې بيا ترې هغه موخوره نيول کيږي.

د بيلګې په توګه تاسو د out put معنا په عربي وغواړئ، وبه ګورئ، چې څومره معناوې لري.

ډاکتر ماخان ميرزی شينواری

## د پښتو سره دنوروژبو زده-کوونکوستونځې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګرانو لوستونکو!

که ما دا لیکنه یو ساعت د مخه سرته رسولې وی، بل ډول به وی، خوداسې بیا د خوب ته تګ وروسته یا بیا خوب ته د تګ وخت کې ورته هکپک هم شوم او د لیکنې بڼې یا خوندیونې هم بڼه بدله کړه. زه دې کار ته لږ هکپک هم شوم، چې پښتوربښتیا په څنو برخو کې د نوروژبو سره پوره توپیرلري او غزېدلې ده، چې له دې امله د نوروژبو ویونکو له پاره یې زده-کړه لږستونځمنه ده.

زما دې خوب ته تګ کې فکر شو، چې زموږد پښتو غونډالو د کړنو د ډول سره څنګه نومځاینیوي بدلیږي؟

دا اوس لږروښانه کوو:

دلته به له سره داسې یوڅه هم راوړو، چې زموږد نورو ژبو یاپه ځانګړې توګه درې ژبې افغانان ولې اوڅنګه له پښتو سره ستونځې لري اودا څنګه روښانه کولی شو، چې دا ستونځې اوبی کړو؟

زما دې ته پخوا فکرنه وو، ما غوښتل، چې په نومځاینیوو څه ولیکم، نو دې ته مې راپام شو.

په نورو ژبو یا لږترلږه په درې اوالماني کې د کړوني له پاره په رول کې د راتلونکې-، تلونې- لنډ – او اوږد تیر وخت له پاره بدلوننه راځي، خوپه پښتوکې دابل ډول دی، چې دلته لږرڼا په اچوو.

درې بیلګې به راوړو، بیا به خبرې پرې وکړ.

لومړۍ بیلګه: تلل

زه ځم.

زه به لاړ شم

زه لاړم.

زه تللم

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه تللی وم.

په دې بیلګه کړنه  وخت-اړوند بدلیږي او کړونی نه بدلیږي.

د دا ډول کړنو ډولونه او کومولی باید وڅیړل شي اوروښانه شي، چې کوم او څنګه بدلیږي (ګردانیږي).

پوښتنه: په تلنه اوتګ کې به څه توپیروي؟

دویمه بیلګه: لیدل، کتل، که دا سره په ګډه بڼه بدل کړو.

زه ګورم.......... زه وینم

زه به وګورم.... زه به ووینم

ما کتل ........... ما لیدل

ما وکتل........ما ولیدل

ما کتلي وو.... ما لیدلي وو

دا ښی او کین د دویمې لیکې وروسته سره بدلیدلی هم شي.

په پورته کړنو ،، لیدل،، او هم ،،کتل،، کې ګورو، چې دا  د نورو کړنو غوندې بلدې ګرامري لارې نه لري، چې له لیدل څخه ګورم او کتل راځي. موږباید نورداسي بیلارې کړنو ویونه هم پیدا کړو او هغه ځانګړي وڅیړو.

پوښتنه: داسې ویونه په نوروژبوکې هم شته، خوهلته یې موخه سره بیلیدلی شي. پوښتنه دا ده، چې ایا ،، لیدل،، او ،،کتل،،  همغه څه یا کتمت دي اوکه څه توپیر سره لري؟

د دې روښانه-ونه راته لږ اړیینه برېښي او بیا دا لټول یا پلټل سره څومره نږدېدي؟

دریمه بیلګه:  غونډالي د کړنې، کړوني او (پرې) په کړوني سره.

 بخښنه دې وي، چې د وهلوبیلګه راوړم، دا وهل موپه ذهن کې داسې کلک ناست دی، دا وهل او ...، خو اوس مې لیکلي اوبیایې سمون راته لږ ستونځمن برېښي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دريم الف- د لومړي کس له پاره:

۱ - زه تا وهم Ich schlage dich

۲ - زه به تا ووهم،خو , Ich werde dich schlagen

۳ - ما ته ووهلې Ich habe dich geschlagen

۴ – ما ته وهلې Ich schlagte dich

۴ – ما ته وهلی وې Ich hatte dich geschlagen

د پورته او لاندې دري تاسووليکي، د وړانديزونو سره

دريم ب – ددويم کس له پاره
ته ما وهې.

ته به ما ووهې.

تا زه وهلم.

تا زه ووهلم.

تا زه وهلی وم.

دلته نو کومه ژبلارده، چې لومړي کې يواځې کړنه بدليږي او نومځاينيوی نه بدليږي اوپه دې نوروکې بيا وخت-اړوند نومځاينيوي او کړنه دواړه بدليږي؟ خبره څه کې يا چيرته ده؟

دا د نومځاينيووبدليدنې له پاره هم کړنه ونډه لري يا د کړنې په غاړه دئ.

موږ دا بدلون د دې ډول کړنو په بنسټ کوو:

لومړی: کړنې، چې هغه يوڅه ته اړنه وي، دا په دې مانا، چې دا کړنې پرې کيږي، که ووايو، چې خپلواکې وي.

دويم: هغه کړنې دي، چې هغه يوبل څه ته يا د يوبل څه له امله دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړي ته: د دې کړنوبيلګې دي. تلل، بيدېدل، پاڅيدل. دلته يواځې کړونې دۍ اود هغه کړنه.

دويم ته: د دې کړنو بيلګې دي: ليدل،وهل، اورېدل. دلته کړنې دي او د کړنو سره مل يو بل څه ونډه لري، که ياد يې شوی وي يا نه، په دې مانا، چې يوڅه به ګورې، يوڅه به اورې، يوڅه به وهې، که يو په -کړونې وي اوکه نه.

د هرې بلې ژبې کسان، چې پښتوزده-کوي،ستونځې يې په څه کې دي؟

دا خبره مو پورته ځواب کړه، چې په پښتو کې ګړن-اړوند نومځاينيوي هم بدليږي.

په پورته کې ګورو، چې د پښتو د نومځای نيوي کارونې سره پوره توپير لري.

داسې لږ څه ګډې وډې به راشي:

ګورو چې د الماني نومځاينيوو کې بدلون نه دۍ راغلی يا نه رځي، خو په پښتو کې

ګورو، چې په راتلونکي او تلن وخت کي د کړوني اوپرېکړونې رول د لنډ - - اواوږد تير وخت سره توپير لري اوپه نوروژبو يا لږتر لږه الماني اودري کې داسې نه ده.

دا هم بايد په ګوته شي، چې د کومو کړنوله پاره.

د هرڅه د مخه بايد په ياد ولرو، چې هرد بلې ژبې زده-کوونکی(ردکوونی) خپله لومړۍ ژبه په دويمه ژبه ژباړي. هغه غونډالي، چې دوی په دويمه ژبه وايي، د هغې له پاره دا غونډاله په خپله ژبه لږترلږه په فکر کې وايي اوبيا يې په دويمه ژبه اړوي. دا کار تر هغه وخته کيږي، چې دويمه ژبه هم ښه زده شي اوپه ژبلار يې هم ښه وپوهيږي يا د غونډالو جوړولو په لار.

تل په فکرپسې فکر راځي: کړل کيدل دي او که کيدل؟؟؟ يوه کړنه ده، چې کړونې يې نا څرګند دۍ او په يو چا څه کيږي. ايا دا په-کړونې دۍ اوکه څنګه؟ ووهلم؟ دلته زه وهلکيږم دلته وهل کيدل اووهل، دا هم بيا بله لار ده، چې يوه څه کيږي او يو څه کيدل کيږي، دې ته هم بايد په کړنو کې پام وشي........

زه ليدل کيږم. ته ليدل کيږي. زه ليدل شوی يم. دلته بيا ټاکلی کړونی نه شته.

يادونه: دا ما ته نه دهروښانه چې زه دلته په کړونی دۍ اوکنه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوایا دې ته اړیو،چې په پښتوکې د لیدلو او کړلوتوپیر هموکړو،که څنګه؟

ایا دا کړنه او کیدنه په نوروژبو او پښتو کې څنګه دي؟

په الماني او همداسې په فارسي کې دوي باید داسې ووایي. دوي فکرکوي، چې ګوندې په ټولوغونډالیډولونو کې د کړوني له پاره د درې ،، ما،، له پاره زه راځې، خو داسې،

۳ –م يو : زه تاته وهم

۴ – م يو : زه تاته وهلی يم

دا ځکه چې دوي دا څه له خپلې ژبې پښتوته را اړوي.

د پښتو پوهانودنده: دوي باید دا روښانه کړی شي او لارې چارې يې سمې روښانه کړی شي. دې تغیرته باید دوي له پیله پام وکړي او دا د پښتو زده کوونکو ته له ښوونځي روښانه کړي.

ګران لوستونکي به راته دا بخښنه کوي، چې زه ددې لیکلو څه یادونه کوم. دا به یا د مخه روښانه او لیکل شویوي او که نه، نو ما لږ ترلږه دا لارورته پرنیسته.

دا هره موضوع د یوه پوهنیز کار لیکنه ده، چې پوره روښانتیا ته اړتیا لري او دا هم ښه روښانه شي، چې دا د بلې ژبې کسان دا څنګه اسانه او ښه زده-کولی شي.

یادونه: دا بدلونونه باید دښوونځي نصاب کې راشي او د نورو ژبورده-کوونکوله پاره باید له پیله دا بدلونونه په ګوته شي، چې هغو همغه له پیلهورته پام اوبلد شي، خو:

دا باید له پیله ټول وڅیړل شي او ژبلارې ته د ژبلارې له یوې لارې برابرشي، چې د خپلې پوهې برسیره، نورهم ښه پرې وپوهول شي.

## افغانستان هرګوټ کی قانوني امر دی ہ پښتو ښوونځي د

ورنی ژبه په مہ »د بینوا درنی وییپانی یو کمپاین پیل کړی او پښتانه یې دې ته رابللې، چې ما د زیاتو پوهانو ۰باندې خپل اندونه او وړاندیزونه وړاندې کړي «د زده کړو اړتیا

(c) ketabton.com: The Digital Library

ه کی ولوستل، چي خورا ورته خواشيني اندونه او وړانديزونه  په همدې درنی ويبپاړ
دا داسي نه ده، چې ګوندې موږ پښتنو دا ستونځې پخوا نه درلودې، دا ستونځي له ۰شوم
د ښاغلی ډکتر افغان ۰موږ سره تل مل دې او موږ تراوسه لا د دې ګيلو څخه ازاد نه شو
له ښوونځي په ليکنه، چی خپل کوچنيان يې د درسي ستونځو له امله چی په دري وو
۰باسلي

پښتنو زموږ د ۰ ښاغلی ډاکتر افغان خو به خپلو کوچنيانو ته هيله ده پخپله درس ووايي
و له کوچنيانو ستونځې دورمره دې، چې د زياتو پښتنو کوچنيان، په دري ژبه د نه پوهيدلډ
امله د کمی ناروغی سره ګير کيږي او ښوونځی د ناروغی سره مل پريږدي، چی ټول
»زما يوه ليکنه د ټول افغان په درنه ويبپاڼه کې د ۰ند يې بيا هراړخيز خراب ويژو
سرليک لاندې خوره شوې، چی هلته می زيات څه څيرلي، خو دلته بيا ځنو «ژبی مري
۰څه ته ګوته نيسم، که څه هم تکرار به وي

تاب يي زما د ترور زوی په کابل کي غوښتل خپلو کوچنيان سره درس ووايي ، چی ک
هغه د سعدي شعرونه وو، له ۰راواخسته نو په دري وو او فارسي شعرونه په کي وو
ا پنجکتاب څخه يې رانيولي وو، ما ځکه فارسي وليکله، چې سعدي (ر) خو فارسيوان ي
۰پاړسيوان وو او نه افغان، چی په دري وي

ه پوه شوی له دې، چی ږ ما پخپله د سعدي کتابونه تر ګلستان او بوستان پورې لوستلي، بی
يم او همدا اوس می، چی دا لوست وليد نو ورته هکپک شوم، دا له دې امله، چی د ځنو
۰لغاتو په مانا يې زه دا اوس هم نه پوهيدلم

د دويم ټولګي کتاب داسی پيل کيده

کريما ببخشايې بر حال ما     که هستم اسير کمند هوا

»ليکنيزې ناټيکوالی په کې وي بخښنه غواړم که «

ما سملاسي سهار دا کتاب واخست او د ځان سره مې د علومو اکادمی ته ، چی ما هلته د
ه شپږو مياشتو لپاره کار کاوه، يووړ او هلته مې استادانو يا د پوهی خاوندانو ته مخ ت
ځم دی او د د دې کتاب پوهيدل خو دري ژبو ته هم پوره ستونز »کيښودل او ومی ويل چې
د دري ژبو کوچنيانو سره تيری دی، او د پښتنو کوچنيانو سره خو سوچ ظلم دی، چی

(c) ketabton.com: The Digital Library

يوی خوا په دري درس ويلو محکوم او له بلې خوا په داسی فارسي، چی په هغي زما
۰ غوندی پښتانه هم نه پوهېږي

کمدی باندی نه پوهيږم، چی کمندي ،، تاسو باور وکړی، چې زه د دې نن ورځي پورې په
۰ هوا ياني څه

شته او د دريم ټولګی کتاب يې بيا په نام حق برںان بخښنه غواړم، چی دا کتاب له ماسره نه
ګوری، چی داسی درسونه ، چې له يوې خو ۰باندی پيل کيده-دا نور می له ياده ووت
ي په بله پلوه ه داسی د سعد اپښتانه کوچنيان له خپلې ژبی بې برخی پاتی شي او له
ما چی هر ۰ستونځمنو شعرونو پيل کيږي څنګه د روحي رنځ سره نه مخامخ کيږي
ه دي، پښتون ليدلی په کابل کی کوچنيان يا سوچ له درسه پاتی دې او يا څو کاله وروست
چی ناروغي ورسره مل کيږي مخ ته يا وروسته به دوي هم ښوونځي پريږدي او يا به د
۰ څخه په پاخه عمر راوزي، چی دا ټول په ځان پسی روحی ستونځي لرلی شي ښوونځی
پښتانه له دې امله د کمی په رنځ ګير دي او دې ته غاړه هم نه ږدي وايې چی ګوندې ډيرې
۰ژبی زده کولی شي

دا چی هرڅوک ډيری ژبی زده کولی شي يوه بله بيلګه به راوړم:

په ما ترې ۰ر کی د يوه تاجک افغان سره مخامخ شومزه د افغانستان په هکله يوه سيمينا
پښتو وپښتل چی ډاکتر صاحب لوړی زده کړې په فرانکفورت کې کړي؟ هغه بی انده
وږ زه پوره خواشينې شوم که څه هم م ۰ «( متآسفانه په پښتو نه پوهيږم(ژباړه «وويل،
هم ده او تآسفانه دا منلې‌پښتانه له داسی افغانانو سره زيات مخامخ کيږو او ډيرو پښتنو م
ګريزي زه په دې زيات خواشينی شوم، چی زموږ دا افغان په اذ ۰تل له خپلې پښتو تيريږو
دري ، المانی ، فرانسوي ، عربی پوهيده، خو په پښتو نه پوهيده لکه، چی هيڅ يې ،
هم زه او دببيا له دې وروسته په المانی غږيدو، ځکه چی زما دري ۰اوريدلی هم نه وي
سهار مړی مو چې خوړه زه او دی په المانی غږيدو يو بل پښتون ۰دومره خوندوره نه ده
هلته ناست دی وايي، چېتاسو نو ولې په دري نه غږيږی دا په دې مانا، چی زموږ دې
«ه پښتانه افغان هم پښتو له فکره غورځولې وه او نابلده ورته بيريخيده، چی ګوندې ز
ه دې افغان سره په دري ونه غږيږم او ولی دی ګوندې پښتو پري نـ دې نو ولې له »پښتون
د دې خبرې سره سم زموږ دې بل ورور افغان ورته وويل، چی ډاکتر صاحب ۰ږدم
ا شينواري له دري سره حساسيت لري، ما ورته وويل، چی ډاکترم صاحب محترم ولی م
له تاسو ته نه دی ويلی،باندې دا ګوناه اچوی، چی زه له دري حساسيت لرم ما خو هيڅ ک
چی ګوندې زه دې په دري ونه پوهيږم، زه په دري پوهيږم

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاسو چې هر څه وایي، خو زه چې د افغان سره غږیږم دا مې وپله دنده بللې، چې پښتو د ،ه دهنه پریږدم ځانګړي هغه افغانان دي، چې بې لیکلوسته دي او مورني ژبه یې پښتو نه هغو سره پیدایښتي ده، چې بیا په دري غږیږم ۰

۰په هر حال اوس هغه خپلې اري موخې ته راځم

په افغانستان کې پښتو سراسري رسمي ژبه ده، دا په دې مانا، چې نه یواځې کابل کې و ژبه درسونه بلکې د افغانستان هر ګوټ کې پښتنو ته باید او بیاد د قانون په بنسټ په پښتو د دري ژبو لپاره هم غواړم، چې د همغه قانون په ځلوردیوالې کې دوي وي، همداسې ۰دا حق باید د نورو لږکیو لپاره هم وي ۰ لپاره د اړتیا سره سم درسونه په دري وي

پوښتنه ده، چې ایا موږ باید وړانیدیزونه وکړو او که څنګه؟

ده ده، چې د افغانستان پهدا د حکومت دنـ ۰نه موږ ددې وړاندیزونه نه کړو بلکۀ دا غواړو ړي، هر ګوډ( ګوټ ) او په هرځاي کې د پښتنو لپاره باید په پښتو درس وبینه کیدونکې که د دې کار نه کولو لپاره باید هیڅ دلیل ونـ ۰دا حق قانون ورته د اړتیاو له مخې ورکړې ۰منل شي او دا ټول امکانات باید دولت یا حکومت چمتو کړي

: و تهزما وړاندیز پښتنـ

اره پښتانه د دې اړتیاو په مخ باید د حکومت څخه دا وغواړي، چې د پښتنو د کوچنیانو لپ ۰درسونه په پښتو برابر کړي او د دولت هیڅ پلمه ونه منې

خپلۀ باید ښوونې او روزنې وزارت څخه دا جدي وغواړي او که نه بیا باید عریضه په ی دې زوریدنې ته د ۰په ناقانوني سترګه کتل دي دا د قانون ماتول دي قانون ته ۰وکړي ګران پښتانه پخپله وګوري، چې څومره روحې ستونځې د غټو او وړو لپاره دا په ځان ۰پسې لري

ل چا پښتانه باید پښتانه شي او خپلې ژبې ته په درنه سترګه وګوري او خپله ژبه د ښ ۰دخوښي لپاره له خبرو ونه غورځوي

ه لري ژبې سره مینه ولري، زموږ تاجک ورونه د خپلې ژبې سره مینـ پښتون باید د خپلې پښتون دې د پښتون له حقه ۰او دایي حق دی بیا وایم، چې دا ښه کار دی او دایي حق دئ ینه تیریږي ژبه د ولس ملیکیت دی او پریښونه یې د خپل ولس سره تیریدی، همداس

(c) ketabton.com: The Digital Library

ه پښتو رپښتو لاندې نه کړي او خپل ليکلوست او ورځنۍ خبرې پښتانه هم بايد قانون ته
کړي۰

په دې لار کې بايد متين ګامونه واخستل شي، چې بيا پښتانه پښتانه نه پاتيږي

پښو دا په کابل کې او د افغانستان هرګوټ کې د پښتنو دنده ده، چې پرې نه ږدی پښتو له
ه نور ورځيږي پخپله پښتانه کوي او پښتانوغورځول شي، دا کارونه، چې پښتو له پښو غ
هيڅ څوک ۰بايد له دې کاره لاس په سر شي، دا کار غواړي د قانون په څلورديوالي کې
ون د دپښتا ۰او همداسې پښتانه دا حق نه لري، چېد بل د ژبې او کلتور سره تيري وکړي
به د چې کومه بله ژ ،ډيرکې په ډول بايد دا دنده هم وي، چې په افغانستان کې پرې نه ږدي
قانون لږکيو ژبه هم زيانمنه شي، موږ يو ډيرکتوريز هيواد يو او ټول کلتورونه مو بايد د
په څلورديوالي کې ولمانځل شي او وده و رکړای شي۰

انی په المان کې د پښتنو په هلو ځلو پښتو د دويمې او يا دريمې ژبې په څير منل شوې ي
د انګريزې يا د بلې ژبې په ځاي پښتو ازموينه ورکړي دلته پښتانه کړای شي، چې۰

په افغانستان او په ځانګړي توګه کابل کې دا ميندې او پلرونه تل او هره ورځ دا د
حکومت څخه وغواړي تل او هره ورځ حق لري، چې قضا ته لاړ شي او په حکومت
يد څوک تير نه عريضه وکړي، دا يې حق دیدا يې د قوم حق دی او د قوم دحق څخه با
ان کې د زه په دې ايمان لرم، چې دا به په افغانسټ ۰شي او نه ترې تريدنې ته اړباسلې شي
ګه ملت جوړيدنې سره مرسته وکړي، يو د بل سره پوهيدنه او يو بل ته په همداسې ستر
کتنه لکه ځان ته ،دا وروري توانمنده کوي او د ملت د جوړونې لپاره متين ګام دی۰

ز هيڅ نه کيږي، هرڅه بايد دوه يا ډير لوريز يا کۀ غواړي هرلوريز وي او بس‌يو لوري

له دې ورسته له دې څخه بايد نور ځانونه خپلواک کړو، چې په خپل هيواد کې دې بې له
خپلې ژبې يو۰

او هم خپله ژبه پريږدو ،ملامتيا په بل چا نه اچوو، دا زموږ د پښتنو ګوناه ده، چې لا نور
و پښتانه چې په کابل کې د چا سره مخامخ شي نو سملاسې پښت ۰ هرځاي کې يو که دا په
فکر کوم، چې په پښتو ويلو شرميږي او ځان ورته کم ۰پريږدي، چې پرې وغربيږي
بريښي۰

قانون، قانون او بيا قانون او قانوني کړه وړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ژباړه

## د شمیرپوهنې ژباړه او اړیینوالی یې؟

شمیر پوهنه څه شی دي؟

یو ټیک ځواب به ډېر راتنګ اوموخه ور نه وي.

شمیرپوهنه د درس یوه زړه، پراخه او ژوره پوهنه ده.

پیژند: شمیرپوهنه ( ماتماتیک یوناني نوم دئ او معنا يې د زده کړې هنر دئ) یو ه پوهنه ده، چې د ځکمککچیزو څیرو د څیرنو او د ګڼونو یا عددونو سره د شمیرلو څخه منځ ته راغلی. د شمیرپوهنې له پاره ټولیز پیژندل شوي پیژند یا تعریف نه شته، نن په ورځني ډول د یوې پوهنې په څیر پیژندل ښوول کیږي، چې له خپله ځانه .........

د شمیرپوهنې سره خوراپیچلي جوړښتونه شمیرل کیږي.

## د شمیرپوهنې ژباړه او اړیینوالی یې؟

دشمیرپوهنې ژباړه هم د تخنیکي پوهنو په څیر د ادبیاتو د ژباړې سره توپیر لري او هغه په دې، چې د شمیرپوهنې په ژباړه کې د لیکونکي احساستي اړخ ته پام نه کیږي یا په ریاضي کې احساساتي څه نه شته. هلته همغه څه بیرته په خپله ژبه ورکول کیږي، د کلتور او نورو اړخونو ته د بام اړتیا نه لیدل کیږي.

شمیرپوهنه او دشمیرپوهنې سم اند یا – منطق د نخښو علامو څخه کار اخلي، چې زیات وخت ژباړه راساده کولی هم شي.

د بیلګې په توګه دا لاندې د زیاتون یوه بیلګه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هر دوه ګڼونو a,b د پاره چې پیداښتي یا طبیعي ګڼونو سټ N کې پراته یا له سټ څخه دي یو پیداښتي ګڼ یا عدد c شته داسې چې باور لري:

a+b= c

دا په شمیرپوهنیزه ژبه داسې لیکلی شو، چې له کیڼ لور و ښي لور ته لوستلکیږي.

هغه شمیرپوهنیزه لکینه نه کیږي. په بخښنه.

بیا یې لوستل چې له کیڼ وښي لور ته یې لولو. د ټولو a,bله پاره چې د N توکي دي په N کې یوه c شته داسې چې باور لري:c =a+b

د شمیرپوهنې د ژباړې دپاره د پوهنتون کې د ژباړې لوستنه اړینه نه ده، خو ژباړي باید په وتونژبه او موخه ژبه او همداسې په شمیرپوهنه واک ولري.

په شمیرپوهنه کې شتونځې: دا چې موږ شمیر پوهنیز ویونه ټول له عربي رانیولي او پرې پوهیږو هم نه، نو ماته دا اړینه برېښي، چې هغه څه چې په خپله ژبه کې لرو په خپله ژبه ونوموو.

# تاریخ:

شمیرپوهنه یوه له خورا زړې پوهنې څخه ده. له انتیک څخه د مخه وخت کې د مسوپوتامی، هندي او چینایي او د انتیک څخه وروسته وخت کې یې په یونان او هیلینیزم کې خپلې غوټۍ وغوړولې. ښووني (حلونه) سوچه سم اندیزه یا منطقي وو، چې وروسته بیا اکسیومونه داسې په نامه د اوېکلید یا اقلیدس اکسیمونه وو، چې په بنسټ یې ښوونې مخ ته بیول کیدې. . په منځنۍ دورو کې دا په عربو کې ژوندۍ پاتې او وده وکړه.

اکسیم څه شوی دی؟

پېژند: یوه وینا، چې بې له ښوونې منل شوې وي، هغه ته اکسیوم وایي.

په نوي وخت کې بیا د مختلفو شمیرپوهانو له خوا د سطحو( هوارو) ، مربع ( څلوریو) او داسې نورو شمیرل د ښوونې لارې شوې. په وروپسې وختونو کې لا تراوسه دانورو ډېرو څانګو ته پراخه شوې پوهنه ده،

د شمیرپوهنې غوره والی:

شمیرپوهنه په ټولو پوهنو کې - له فزیک تر روحیاتو پورې – ځغلي او بې له شمیر پوهنې – داسې ویلی شو- د پوهنې هیڅ یوه څانګه وده نه شي کولی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

داچي مرغان ځنګه الوزي او الوتکي ځنګه پورته کيږي، د دي دمعلومولو او شميرلو دپاره شمبرپوهنه دنده په غاړه لري، چي هغه امکات يي شميرل کيږي. د نړۍ داننی وده اوپخوانۍ پوهني هم ، بي دشميرپوهني ناشوني کيدې.

شمير پوهنه خپله څه منځ ته نه راولي يني ماتول، جوړول يوځای کول نه شي کولی، نو له دې امله يې پيژند يا تعريف هم ستونځمن دۍ. ځني پوهان وايي، چي شميرپوهنه خپله پوهنه نه ده، بلکه مرستندويه پوهنه ده. د نورو پوهنو سره په وده او ښونو کي مرسته کوي.

په هر صورت شميرپوهنه ګڼونو سره سر او کار لري، چي دټاکلو قوانينو له مخي ورسره شميرل او ګڼل کيږي، لکه زياتون (جمع)، کمون(تفريق) او يا  لکه انتيګرال شميرنه او داسي نور .

دا چي زموږ ټوله پوهنه په ژباړو ولاړه ده، نو بايد وهڅيږو، چي څه ديوه اړوند وي يا لغات د پاره لرو هغه راڅخه ورک نه شي، ځکه چي دپښتو يو نوم په مسلکي ژبه کي ونه کاروړل شي، له منځه ځي، چي مخه يي بايد دا ژباړي راونيسي. ژباړي ياد موخه ژبې – چي خپله ژبه يي ده – ته وفادار وي. يواځي په هغه وخت کي يو ژباړي بايد دبلي ژبې وی وکاري، چي خپله ژبه کي يي نه وي.

موږ په دې هکله په شميرپوهنه کي ډيرې ستونځي لرو، نو له دې امله مي هرچيرته په اړوند ځای کي ورته ګوته نيوې.

د بيلګي په توګه، که موږ له انګريزي يو نوم پښتو ته اړوو، نو بايد هغه ـ که لرو- پهپښتو واړوو يا وليکو. د بيګي په توګه د ادګريزي triangel  يا الماني Dreieckپه پښتو که اړوو، نو اړيينه نه ده، چي داپه بله دباندنۍ ژبه وليک، يا بايد په بله دبتندنۍ ژبه يي ونه ليک. انګل انګل موږ کونج يا ګوډ ته وايو  . همداسي درای درې ته وايي او ايک ګوډ ته وايي. نو له دې امله موږ دا درېګوډی، درېګوټی يا درېګوډی بولو. ماته درېګوډی ښه برېښي دليل يي دلته نه راوړم، خو سړی خبرې پرې کولی شي.

موږ په پښتو کي ګوډ او کونج لرو. دننه ته يي کونج او دباندې ته يي ګوډ وايو، چي الماني کي کټمټ همداسي ده.

په شميرپوهنه کي زموږ د پښتو ويونه بايد وکارول شي، دا يو ستونځمن کار دۍ، خو له ښه مرغه ما دا کار سرته رسولی، چي په دې هکله زماد انګريزي پښتو لغات کتاب شته او بله ليکنه شمير پوهنه په پښتو هم شته، چي پرته له دې زما نور نږدې شپږدېرش کتابونه هم ګران لوستونکي يي په ketabton.com  کي کتلی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې هکله زه د شمیرپوهنې د ژبارو سره، که ژوندي ووم، مرستې ته تل چمتو یم.

ماتماتیک یا شمېرپوهنه یوه پوهنه ده، کومه چې په لړو بنسټ نیونو یا بنسټفرضیو ودانه ده. دا بنسټنیونې اکسیومونه نومیږي، کوم چې بې له ښوونې د رښتیا وینا ( وینا دې زماد سم اند کتاب کې وکتل شي) په څیر لیدل کیږي یا د رښتیا وینا په څیر منل شوي دي. ټوله شمیرپوهنه د دې اکسیومونو له لارې لاس ته راوړل کیږي.

هره شمیرپوهنیزه تیوري ځانله ځېل اکسیوم لري.تیوري یو په بل ودانیږي، چې د تیوري اکسیومونه نورو تیوریو ته وغزیږي. داچې دا تیوري باوري دي، دتاریخ په اوږدو کې ښوولکیږي.

زیات وخت د شمیرپوهنې تیوري ودانونه یا جوړونه د یوې ودانۍ تیوري د جوړښت سره پرتله کیږي. د ودانۍ بنسټ د اکسیوم په څیر نیول کیږي یا که غواړۍ نیول کیږي (فرضیږي) .

د شمیرپوهنې تیوري موخه دا ده، چې پیچلي یا ابسرکت ( ذهني) جوړښتونه تشریح کړو او په جوړښتونو وړاندوییه وکړو.

د شمیرپوهنې تیوري کشف د پاره زیات وخت نمونې راوړل کیږي، چې زیاتی وخت یا،، په طبیعي ډول،، رامنځ ته کیږي.

زموږ او ستاسو په شاو خوا څه یا شیان یا مسئلې چې غواړو شمیرپوهنیز روښانه کړو یاوڅیړو، دا ساده خبره نه ده، موږ نه پوهیږو، چې د دې زموږ د خوښې څه څیزنې له پاره د کوم اکسیوم څخه کار واخلو.

یوځل چې اکسیومونه وکارول شي یا وضع شي، نو ،، زموږ په شاو خوا نړي کې خپلوان شتون لري،، - او له دې ټولې رابیلې شوې سماندیزې پای لاس ته راوړنې هم. په بل ډول: فزیکي او کیمیاوي تجربې دې ته تغیر نه شي ورکولی.

اختراعګانې یا منځ ته راوړنې،، چې دا یوې او بلې لور ته کښولی شي. ،، الجبر،، او ،، ګڼونتیوري یا د اعدادو تیوري،، د بیلګې په توګه سوچه شمبرپوهنه پور ې اړه لري.

شمیرپوهنه څه شي دی؟

د دې د پاره یو ټولیز منل شوی پیژند یا تعریف نه شته، متمئنه دا ده، چې د ګڼونو سره شمیرنه، د اووښتونو یا واریابلو( مجهولو) سره شمیرنه همداسې د څیرو څیرنه – همدا اوس په ښوونځیو کې – د شمیرپوهنې غوره برخه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوښتنه –چې شمیرپوهنه څه شیدی- که غواړو ځواب کړو، نو د سرچینې څخه به پیلوو او بېلابیل د شمیرپوهنې کارونچاپیریالونه به روښانه کوو.

## شمیرپوهنه څه شي دئ - د انسانان په منځ کې خبرې اترې یا کمیونیکیشن.

سره له دې څوک نه پوهیږي، چې دشمیرپوهنې بنسټیز خوزښتونه کله منځ ته راغلي، سړی په پوره باور ویلی شي، چې شیانو شمیرل له پخوا څخه کارول کیده او په همغه یا عین وخت کې د خبرو پیدا کیدو سره هم همداسې تلنه شوې.

موږ نور څه راوړو بې له تشریح.

شمیرپوهنه څه شي دی- د اقتصاد بنسټ.

شمیرپوهنه څه شي دی- د طبیعت یا پیداښت ژبه.

شمیرپوهنه څه شي دی- د انجینرانو د لاس اله.

شمیرپوهنه څه شي دئ - راتلونکې

شمیرپوهنه هرچیرته شته، خو نه لیدلکیږي.

به اخر کې چې شمیرپوهنه څه شي دئته ، ځواب ووایو، نو دا به ډېر را تنګ شوي ځواب وي.

په اخر کې: زموږ دپاره ، چې ژباړې ترې وکړو، کومه ژبه غوره ده؟ غوره ژبه په ترتیب انګرېزي، روسي، فرانسوي او الماني دي.

.

.

.

.

.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د افغانستان پوهنيزه مؤسسو نصاب ته يوه کتنه

## د ښوونځي د نصاب سمون
| ډاکتر ماخان ميرزی شينواری

د هيواد ستونځو باندې نه غزيږم، ځکه دا يوه نه ده، دا ټول ژوند او هر اړخ يې ستونځه ده، چې زموږ پوهنه هم ترې په همغه سويه اغيزمنه ده.

راځو خپلې موخې ته او دا ټول په لنډ ډول:

د نصاب غوره والی:

پوهنه چې دنده يې دپوهني د وزارت په غاړه ده، د يوه هيواد مغذ دی. همداسې لکه پوهنه د هيواد مغذ دی، نصاب د پوهنې مغذ دی، ځکه چې پوهنې ته هر څه چمتو کوي، نو له دې امله يې غوره والی بايد همدومره وي.

د نصاب ليکونکو غوره والی:

دا چې نصاب غوره دی، نو په همدې ډول يې ليکونکي غوره دي، دوي د نصاب د غوره والي بنسټ اېښوونکي دي، چې بايد د غوره والي په څنګ کې يې هم توان ولري، چې د دې درندې دندې له توانه ووتی شي، يا د ښه نصاب د ليکلو ښه توان ولري، چې د نصاب د ليکونکو غوره والی را باسي.

نو دا بايد څوک وي؟

نصابليکونکي (د نصاب د کتابونو ليکونکي) بايد د پوهنتون د هغه غوره وتلو کسانو څخه وي، يعنې

(c) ketabton.com: The Digital Library

–دپوهنتون اول نمره یا دوم نمره وي، چې په مسلک پوره واک ولري.

– د خپلو دوه ژبو پښتو او درې، چې هغه خو هرو مرو زده دي یا بایدزده وي، په یوه بله

پرمختللي دباندنۍ ژبه هم ښه پوه وي، چې ډېره ښه یې طبعآ انګریزي ده خو روسي، فرانسوي اوالماني هم په ترتیب ښې دي او په پوهنه کې ښه کار ورځخه اخستل کیدی شي.

هغه ځوک که په دې درې ژبو کې د کومې ژبې نیمګړتیا ولري، نو د نصاب د لیکلو له پاره

به هیڅ برابر نه وي او نورې ستونځې به رامنځ ته کړي.

– موږ دوه ژبې هیواد یو، نو د بیلګې په توګه یو پښتون باید له درې وژباړلی شي او درې ژبې له پښتو.

لکه څنګه، چې په دې دوه ژبو پوهیدنه اړینه ده، به انګرېزي یا ... هم پوهیدنه همدومره

اړینه ده. بې له یوې پرمختللې ژبې زموږ خپلې ژبې هم نیمګړې راځي. درې هم دومره

مخ کې نه ده او پښتو خو یوه نوې ژبه ده، چې لایې هر څه نیمګړي دي.

نصاب لیکونکوته غوره کتنه یا امتیازات:

علمي درجې یې باید د پوهنتون سره برابرې وي یعنې رطبې، معاش اود تقاوت امتیازات.

د ماستري زده کړې خو باید سملاسي سر ته ورسوي هغه هم باید په انګرېزي ژبې هیواد کې وي.که د دې کار هند په غاړه اخسته خو دا به ډېر ښه وي. دا روزنه که په شعوري توګه د نصاب په لور لوریزه کیدی شوه، خو دا به نوره هم ښه وي.

له یوه وخته وروسته باید دوي ته د ډاکترۍ امکانات هم برابر شي، چې هغه هم په یوه پرمختللي هیواد کې وي. هند هم په پوهنیزه اړخ کې پرمختللی هیواد دئ.

د دوي د درس په وخت کې، چې له هیواد دباندې یې کوي، باید دا دنده ولري، چې د هغه هیواد د ښوونځیو د خپل مسلک کتابونه وګوري، او هغه څه چې ستونځمن ورته په کې برېښي، بې له دې چې ځان ته شرم وګڼي، د ستونځوبیو له امله د خپلو پروفیسرانو سره پرې وغږیږي. په زده کړه کې‌باید شرم نه وي او هغه استادان په دې پوهیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا دنده دي ولري، چې د هغه هیواد د خپل مسلک د ښوونځي کتابونه د ځان سره راوړي، چې مخ د مخه یې لوستلي دي. د کتابونو د چمتوالي له پاره هم که د اړوند هیوادله اړونده کسانو سره خبرې او ان  په دې هکله روزنه اوښونه وي، دا به لا ښه وي.

د نصاب د پروفیسر دندې

د ښه کتاب لیکل یې د هرڅه لومړۍ دنده ده:

– دښه کتاب لیکل: دا یواځې هغه وخت کې شوني دي، چې په لیکلو کې یې  یواځې او

یوائې دپورته ځلورو یادو ژبو له یوې څخه ګټه  واخلي.

نن پوهنه هر چا ته کورته ورغلې، هرڅه په ن ج  کې شته، که نورو کتابونو ته

لاسرسی نه وو، نو نړیوال جالونه خو شته.

د نصاب استادان باید تل ن ج ته لاسرسی ولري او لیک الي یې هم باید په واک کې وي.

 نصاب پروفیسران د ښه او معیاري درسي کتاب لیکلوجوګه دي، د هر ډول ناټیکاوي

مخه باید نیول شوې وي. لیکونکی باید دا سړه سینه ولري، چې درس د ځو نورو درسونو

سره پرتله کړي او پوهنیز نومونه، چې موږ ورسره ستونځې لرو او تراوسه مو خپل نه

 دي، د ځو لغاتکتابونو سره هم پرتله کړي او  هغه ښه مناسب نوم ورته غوره کړي یا له

خپلې ژبې ورته انډول راوباسي، چې بیا خبرې پرې کیږي.

– دا استادان باید د ښوونځي ښوونکي وروزي. دا څه چې دوي لیکلي، باید د هغوي سره یې

 شریک کړي، خو داځنګه؟

د ښوونکو پرلپسي روزنه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

په مسلکي اړخ کې د ښوونکو روزنه باید په پوهنتون کې په پوره توګه شوې وي ( دا بیا د پوهنتون د نصب دنده ده)، خو بیا هم دې ته اړتیا شته، چې د نصاب استادان ورسره مرسته وکړي او هغه د ښوونځي له پاره لیکلي درسونه ورسره د ښه ورپوهاوي له امله ورته نور هم لا ښه روښانه کړي.

موضوع ته ګوته نیسم،خودا پوره خبرو ته اړتیا لري.

دا څنګه؟

دا وړاندیز په ځانګړې توګه د پیداښتي - یا طبیعي پوهنو له پاره ډېر اړین دی. ګومان مې دی، چې اوس هم د ولایتو ښوونکي راځي او په نصاب کې ورسره خبرې کیږي، خو دا بسیا نه کوې. ښوونکي ټول باید په خپل مسلک کې تل وروزل شي او دا د یوه تل لرلي پروګرام سره.

دوه شوونتیاوې شته:

لومړي دا چې په هرولایت کې یوه دنصاب کوچنۍ برخه جوړه شي، چې دوي د مرکز معلومات هلته تل داسي ورکوي، چې هر د نصاب د هر مسلک غړی ښوونکي د ولایت مرکز ته راغواړي او هلته په یوه ټاکلي وخت-انتروال کې هغه دوي څه د ځان سره لري ورسره شریک کړي.

دا دولایتونو د نصاب پروفیسران دې همغه د نصاب د مرکز په څیر وټاکل شي او همغه امتیازات ولري.

دویمه لار یې دا ده، چې په ټاکلي وخت کې د مرکز د نصاب پروفیسران ولایاتو ته لاړ شي او هلته ورسره خپل کار شریک کړي. د دې له پاره به زماپه اند، که د ورځې شپږ ساعتونه کار وشي، دوه اونۍ بسیا وکړي.

غوره څه خو د نصاب پروفیسرانو ته څرګند دي او په همغو سره خبرې کوي.

دا چې پروف یا نور ښوونکي د پسې زده کړو د پاره کوم ځای ته ځي او هلته څومره وخت تیروي دا باید امتیاز ولري او د وخت مجرا وره ورکړی شي.

ـد نصاب استادان پرته د درسي کتابونو له لیکلو دا دنده هم په غاړه باید واخلي یا ولرې،

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې نور کتابونه هم ولیکي، په ځانګړې توګه طبیعي پوهنو کې، چې هغه د اړونده پوهنیزو

کتابونو برابرول دي یعني د لوستلو او نورو پوهنیزو کلیمو کتاب لکه پوهنیزه دکشنري، نه

د لغاتو بلکه د کلمو. دا په نورو ژبو کې شته. دلته به دا ډېره ښه یا اړینه وي، چې د

انګریزي دا ډول دکشنري راواخلي، دا وژباړي چې یواځې لیکنه یې په لکسیکوني ډول په

خپلو ژبو وي.

دا خو لا ډېر لګښت ځان پسې لري. دا به څنګه شي؟

دا سمه ده، خو دا لاندې لار یې شته او دا د نصاب له پاره کوم زیان هم نه لري:

د ښوونکو له پاره د کتابونو لیکل او چاپول یواځې وخت نیسي او ډېر لګښت لري، دادې سپما شي، دا په دې مانا چې د ښوونکولپاره کتابونه دې نه چاپېږي او نه لیکلکیږي.

د ښوونکو چمتووالی د ښوونکود تل بیا روزنې له لارې باید پوره سرته ورسیږي.

دا پیسې چې سپما کیږي، دا پوره پیسې دي.

دا شاګرد محوری پروګرام څخه تیرېدل د کتابونو پنډوال راکموي او د ښکلا له پاره په درسي کتابونو کې د نا اړینو څیرو چاپول هیڅ اړیین نه دي. له دې لارې څخه هم پوره سپما کیدی شي.

که دا نور کتابونه هم دشمیرپوهنې کتابونو په څیر لیکل شوي وي، نو هلته دکتابونو د پنډوالي له امله پوره سپما راتلی شي.

دا به څنګه شي؟

دا هم یوه موضوع ده، چې پوره روښانه ونه غواړي، چې دا پوهنتون یا نورو د لوړو زده کړو آنستیوتونو کې څنګه باید ترتیب شي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوښتنه دا نه ده، چې نصاب کې باید څه راوړل شي بلکه دا ده، چې نصاب څنګه ولیکل شي؟

دا چې نصاب کې څه راوړل شي، دې کې دومره ستونځې نه پېښیږي، ځکه دا اوس چې څه لرو، دا سمیدی شي او په دې هم یو څه ابادید ی شي او هغه د لوستلو عنوانونه د نورو ګاونډیو یا نورو هیوادونو څخه رانیول او هغه بیا سره پرتله کول او وروسته خپل مضمون جوړول یې غوره دي.

که ن ج وکتل شي، نو د هرځای دښوونځیو کتابونه په کې شته، د هغې ځایونو دې سرلیکونه راواخلي یا همغه را اخستلی شي او یا نور پخپله لیکلی شي.

د کتابونو لیکل. څنګه:

غوره د نصاب لیکل دي، چې هغه باید نړیوالې سویې ته ورنږدې وي. دا غوره دي او دا کار د نصاب د کتابونو د لیکونکو دی، هغه موضوګانې اخلي او هغه یې راټولوي او په پوهوړه ژبه یې لیکي.

د کتابونو د لیکلو او څنګه لیکلو له پاره مو استادان نورو هیوادونو ته تلل او هلته یې معلومات برسیره د هغه ځای پروګرام هم د ځان سره راوړ. که اشتباه ونه کړم، نو دا اخر د نصاب ترتیب له پاره استادان اردن ته تللي وو او چې بیرته راغلل، نو پرېکړه داسې وه، چې کتابونه دې په شاګردمحوری ولیکل شي. داسې لږڅه به هلته ورسره استادان غرېدلي وو، خو دا چې دوي به څومره له دې ښووني ځان سره راوړي وي، دایې بله خبره ده.

شاګرد محوري او استادمخوري؟

دا لاندې څه هم د غور وړ دي، چې بیاد روښانه شي، چې زه یې داسې لنډه یادونه کوم

پخوا مو متخصصین نورو هیوادونو ته لیږل

هغوي څه راوړي؟

دا څومره په درد خواړه کیږي؟

نو څه وکړو او دا اوس کتابونه له کومه کړو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

په مختلفو مسلکونو کې باید کسان په داخل یا خارج کې چمتو کړي، چې څه د نصاب له پاره غوره کړي؟

موږ دا تراوسه لرلي څه را اخلو کمښت ته یې فکر کوو او د څه زیاتوالي وړاندیز یې هم کوو.

په دلیل.

نږۍ نږدې شوې او پوهنه کور ته راغلې

د مختلفو هیوادونو کتابونه راټولول او کتل، بیا ترې یو ښه څه راوستل. په کومه پرېکړه ، چې وشي، نو د چا هغه او دغه بیا په کې نه وي.

د بیلګې په توګه د یوه هیواد درسي تاریخ کتاب راواخلۍ او وګورۍ، چې څه لومړی او وروسته دي، موږ بیا هم په همغه ډول تاریخ برابرولی شو.

زه وایم، چې په لومړي سر کې به هر هیواد خپل تاریخ رااخلي او په اړین ډول به یې لیکي او وروسته د کاوندېانو او پسې غوره دوخت پیښې.

که ژبه راواخلو، دا به سړي ته اسانه وبرېښي، خو دا هم د شمیرپوهنې په څیر ستونځمنه ده، که په هغه اصل ډول راوړل شي. تاسو په نورو هیوادونو کې درسي پرګرامونه وګورۍ او بیا قضاوت په وکړۍ.

په پوهنتونونو کې باید دښوونکو روځنې له پاره ځانله څنګې منځ ته راشي او هلته درسونه هم د ښوونځیو په لوړ لوړیز وي، هرومرو د په د پوهنتو په سویه( ماهم دلته کچه لیکله ، خو کچه نا سمه ده). په جدې توګه باید د ښوونځي له پاره په اړونده کتابونو غور وشي او د علومو اکادمي ته دنده ورکړ شوي، چې دا کتابونه وژباړي.

په دې بیا هم باید خبرې وشي، چې د علومو اکادمي کارونه باید څنګه په لار وي.

دا یوه اوږده موضوع ده،زه به دلته په همدې بسیاوکړم.

په همدې ډول د ښوونکو د کمښت له امله هم باید د چټکو زده کړو پروګرام جوړ شي او په چټکه توګه د ښوونکو کموالی پوره شي، په همدې ډول په چټکه توګه باید د ښوونکو د پوهنیزې یا علمي سطحي جګیدنه هم د پروګرام لاندې ونیول شي. دا



خو د ډېرو خلکو کار دی، خو یو پروګرام باید ورته ولرو او هغه ورته لرودی شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بیلګي په توګه شمیرپوهنه باندې خبرې کوو.

د شمیرپوهنې نصاب داسې لږ سمون غواړي او په هغې په شمیرپوهنه ښه واک لرونکي لیکونکی پوهیدلی شي.

په نصاب کې د بحث موضوع هغه غوره د موضوع نوم دی، د نوم سره اړونده لیکنه کې باید بیا لیکونکی فکر وکړي، چې کومې اړونده لیکنې ورسره ریشي او ځای یې هم باید لیکونکی وټاکلی شي او ټولګی هم.

د پوهنتون د پاره نصاب داوایي، چې په کوم سمستر کې کوم کوم مضامین لوستل کیږي. دا چې د پوهنتون استاد  له کومه ځایه دا درس رااخلي اوڅنګه یې ترتیبوي، دابیا د هغه خوښه ده او کار.

د ده خوښه ځکه ده، چې دی اختیار لري، د مختلفو ادبیاتو څخه ګټه واخلي، طبعآ به دا د یوې پرمختللې ژبې ادبیاتو څخه وي.  د پوهنتون استاد لږ تر لږه په اومه ډول خپله لیکنه د تمرینونو سره لږ تر لږه د درس په جریان کې وړاندې کړي.

ډاکتر ماخان شینواری

## د افغانستان علمي مؤسسو ستونځوبیو ته څه باید وشي؟

یادونه: دا به ورځنی نه وي، چې د یوې موضوع د پیل د مخه د خان په دندوغږیږم، خودا اړین بولم  ګرانولوستونکو ته دا روښانه کړم، چې ما د علوموااکادمي کې هم داسې لږکارکړی اود ښوونځي نصاب کې هم، دا په دې مانا،چې داسې لږ تجربه په کې لرم.

زده کړه او ورزده کړه یو د بل سره سیده او په څټ اړیکي لري، دا په دې مانا چې که ورزده کړه ښه وي، نوزده کړه ښه ده او په څټ که زده کړه ښه وي، نو ورزده کړه ښه ده.  په خواشینۍ باید ووایم، چې موږ په افغانستان کې دوه اړخیزې ستونزي لرو ، دا په دې مانا، چې دا دواړه مو ښه نه دي، نه زده کړه او نه ورزده کړه. د د ې لاس ته راوړنه  د ښوونځي په پوهنیز نصاب کې پوره لیدل کیږي.



لیکنه به اوږدوم نه. لنډ:

(c) ketabton.com: The Digital Library

په افغانستان کې د درې علمي مؤسسو يعني د پوهنې - او د لوړو زده کړو وزارتونو اود علومو اکادمي لرو.

دا بايد په خواشينۍ سره ووايم، چې د دوي په منځ کې همغږي نه شته او نه يو دبل په منځ کې ملاتړ.

د هيواد د پوهنې او پوهنه معياري کوني له پاره دا همغږي بايد د دوي منځ کې پيدا شي او د دوي کارونو په منځ کې هم بايد فکر وشي. د دې موئسسو د کارونو لار بايد بدله شي پروګرامونه بايد د ورځې ګټو په اساس وي او ترې د کاراخستلو په بنسټ بايد سم شي.

لنډ: د دې درې مؤسسو په منځ کې بايد نه ځانله همغږې پيدا شي، د دوي په منځ کې بايد يوسم عملي کيدونکی پروګرام جوړ اوپلی شي.

دا نو بايد څنګه وي؟

موږ د دوه ډوله پروګرام ټاکلوله پاره بايد فکر وکړو.

لومړی:د هرې مؤسسې خپل درسي اوکاري پروګرم.

دويم: د ربړواړوپه منځ کې د همغږۍ اوګډ کار پروګرام.

## د پوهنتون له پاره نصاب:

دلته هم لومړي توبونه دا دي، چې استادان بايد هغه د سر کسان له پوهنتون څخه و نيول شي، موخه مې هغه د پوهنی په اړخ کې يا پوهنيز( علمي) همکاران دي او دوي هم لکه څنګه دښوونځي د نصاب استادان د خپلو دوه ژبو برسيره په يوه پرمختللې ژبه ښه وپوهيږي، نړدې لکه دواړه پلې ژبې. دې خو اړتيا نه شته، چې خپلې ژبې بايد په يادې راوړم، چې بايد ښې يې زده وي، دا خو يو قانوني امر دی. د پوهنيزوهمکارانو امتياز هم همدا دی،چې د لوړوزده کړو له پاره دباندنيو هيوادونوته ولېږل شي. په اړونده لوستو کې يې د پوهې سويه بايد جګه شي اونوروهيوادونود درس ورکړې او کتابونو راټولولوکې هم تجربه تر لاس کړي. په دې خو پوهيږو، چې په پوهنتونکې د ښوونځي په څير د درس له پاره کتابونه نه ليکلد کيږي، په پوهنتون پوهان يا علمي همکاران په معلوم نصاب کې په



نصاب کېد ياد درس له پاره په خوښه موادراټولوي، چې دا کار هم بايد درسورکونکويا پروفيسرانوزده کړی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دپوهنتون د درس ورکوونکو اجوره خو ښه شوي، چې همدسې باید د ښوونځي د نصاب لیکونکو اود علوموااکادمي علمي کارکوونکو له پاره هم وي.

د لکچر ورکوونکي دنده دا هم باید ي، چې متو شوي لیکچرونه د یوه کتابډوله لیکي له لارې را وباسي، تمرینونه چمتوکړي، چې هغه هم په هغه ورته ټاکلي وخت د زده کړوسره روښانه شي یا کار پرې وشي.

د مضامینو ټاکلو له پاره باید استادان په هغه روزنیز هیواد کې بلد شي او بیا د هغه هیواد او نوروهیوادونود درسي پروګرام سره پرتله کړي اود پوهنتون له پاره هغه مناسب مضامین خوښ کړي، چې په کوم سمستر کې کوم وویل شي.

د استادانو نور کارونه: استادان باید د علمي همکارانوپه مرسته لکچرنوټونه ترتیب کړي د تمرینونوسره، چې هغې ته شاګردان لاسریسی ولري.

د لکچرنوټ ترې رانیول شوي مرستندوی کتابونه باید له هر څه د مخه زده کړوته په ګوته کړي، پیداښنتي ده چې دابه هغه کتابونه وي، چې زده کړي ورته لاسرسی لرودی شي ( دا یو پیچلی کار دی،چې دا ادبیات دې نوله کومه شي؟).

دا چې کوم مضمون په اونی کې څو ساعته درس ورکړشي، دا به هم استادان د خپلې تجربې له مخې ټاکي، خو زه به د فزیک او شمیرپوهنې یوه یو هبیلګه له تاسوسره شریکه کړم:

فزیک ۱ او ۲ : دوه سمستره د تمرینونوسره. په اونی کې څلور ساعته لکچریا درس اودوه ساعته تمرینونه.

دبرنځیال – اوانتیګرال شمیرنه: دوه سمستره. څلور ساعته اونۍ لکچرنوټ اودوه ساعته تمرینونه، چې تمرینونه، پیداښنتي د، چې د پوهنیزو همکارانو په مرسته اوبی کیږي، یعنې بروفیسر ته اړتیا نه شته.

درس باید څنګه ورکړل شي؟

پرته له طب او ګومانمیږدی،چې حقوقبه هم په دېکتیګوریکې راشي او دواچوړولو زدهکړې یو استاد یودرس د مسلک سره سم نیسیاو همغه بیا تل مخته بیایي.

دې نورو مسلکونوکي استادان باید مضمون تل بدلکړي او هغه مضمون، چې سږکال یې درس ورکړي، د هغه تکرار دې بیا څلورکاله وروسته ( اړتیا کتل کیدی شي، چې



څومره زر) بیا ورکړي. دا د استاد له پاره اړین دی، چې د استادانو نورڅه هم له د یاده ونه وځي او تمرین یې نور هم پسې زیات شي. زه ګومان کوم چې په افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوهنتونوکې چې استاد کوم مضمون ونیوه، نوهغه بیا د ژوند ترپایه درس ورکوي، چې دا نه د استاد اونه دزده کړوله پاره ګټوردي. نه دا چې ګټورنه دی،زیان هم لري. استاد په سرکا ل ورګړي درس کې باید لږترلږه یوڅوسمسترونه دمه ولري، چې بیرته یې تکراروي.

مونوګرافونه یا تیزسونه باید څنګه ولیکل شي؟

موږ اوتاسوخوپه افغنستان کې مرستندوي کتابونه نه لرو اوکه لرويېنوخورا کم دي.لهدېامله زما وړاندیزدا دی،چې دا لیکونکي دا لیکنه د نورومووادو د راټولولو په ځای یوکتاب وژباړي یا کتابونه وژباړي او د همغه په بنسټ دې بیا هغه علمي رطبه ورته ورکړ شي.

دوه ګټې، چې د علمي کتاب ژباړېپه څنګ کېمرستندوي کتابونهزیاتیږي اودا کتابونهچې ژباړل کیږي، باید موخه ور ټاکل شوي وي.

## د مضامینوټاکل:

دا پروګرام خود څوکالوله پاره یوځل ټاکل کیږي،خوباید ټاکنې دېرې په زیر یا دقیقې شوې وي.

په دې لار کې هم د نوروهیوادونودرسي پروګراموونه باید وکتل شي.

اجازه دې وي، چې زه یې د شمیر پوهنې بیلګه راوړم.

د هر څه لومړی باید همدا اوس په یادراوړم، چې د افغانستان د پوهنتون په نصاب کې لږترلږه د ټولیزیا عمومي الجبر universel algebra مضمون نه شته، چې اړیین دی اوبل اړیین یې ګڼونتیوري Nummber theory ده، چې دا دواړه باید همدا اوس نصاب ته دننه شي، په نورومې دومره فکرنه دی کړی او د پوهنتون له پروګرم څخه هم پوره معلومات نه لرم.

دا ستادانو د ترجمې له پاره باید استادانو ته پوره اجوره ورکړ شي، چې دوید نوروژباړوله پاره همځانونه جوګه وبولي.

دا دې همدومره لنډ دلته بسیا وکړي.پسې به د علومو اکادمیپه هکله لنډه لیکنه ولرو.



# د علومو اکادمي د پروفیسرانو دندې

(c) ketabton.com: The Digital Library

موږ دوه پوهنيزې مؤسسې او دندې يې داسې لږ د څيړنې لاندې ونيولې. اوس راځود علومو اکادمي د کار له پاره وړانديز ته:

له هرڅه لومړی خودې د علومواکادمي همکاران په همغه اندول و ګومارل شي، لکه د پوهنتون ـاود ښوونځي نصاب پوهنيز همکاران او په همغه امتياز.

پسې: پوهيږو، چې په نوروهيوادونوکې د علومواکادمي د نويو څه پيداکول اودا شته څه ته نوره وده ورکول دي، دا په دې مانا، چې د تل ودې له پاره پوهنيز کارونه مخ ته بيايې.

زموږ ستونځې خودا دي، چې که په يوه څه ابادول وغواړو، نو د هغو د پاره هيڅ شته څه يا شونتياوې نه لرو.

ما د علومواکادمي د يوې علمي همکارې وپوښتل،چې: د ماستری موضوع يې څه ده؟

د هغې ځواب وو، چې د رابيليدنې يا دفرنځيال کارونه په صنعت کې.

زما بله پوښتنه دا وه، چې دا به نوله څه ليکې. باوروکړی، زه هم نه پوهيدم، چې دا به له کومه او په څه بنسټ وليکل شي. موږ خونه پوهنيز ادبيات لرو اونه د جوړښت فابريکې. په دې هم نه پوهيدم، چې د دې علمي همکارې به انګريزي يا بله وتلې ژبه زده وي اوکه څنګه؟

زما ،،د شميرپوهنې سترکتاب،لومړی برخه ،، کې شته، چې د انوفابريکې جوړ څه څنګه ډيره ګټه کو، چې يوڅه وساتې اوله همدې ځايه يې هغه غوښتونې ځای ته وليږې او که څنګه؟

موږ په افغانستان کې د يوه پوهنيز څه ليکلو ته شونتياوې نه لرو، نو زما وړانديز:

(c) ketabton.com: The Digital Library

موږ ددې د مخه وړاندې شوېپوهنيزو مؤسسو دندې وځيړلې،هغوي د پهنې په ورکړه کې کړنده يا فعاله ونډه لري او تراوسه د علومواکادمې دنده کړنده نه ده، چې په دې هکله دې هم فکروشي.

د علومو اکادمي دنده بايد د ډېره وخته پورې دا وي، چې غوره کتابونه کوم، چې په پوهنتون کې درس کيږي او د ښوونځيو نصاب ترې ګټه پورته کولی شي وژباړي.

علمي رطبې دې په کار پورې وتړل شي او نه د کلونو په شمير. که دلته څوک هغه د کلونو رطبئ د معاش له امله ټاکي هغه دې بيا د وزارت له خوا وټاکل شي، خو د استادانو څخه د پوهې په څنګ کې بايد پوره کار وغوښتل شي او امتيازات دې هم اړوند جګ وي.

په نصاب کې دې دا اندول وي، چې په پښتو او درې ژباړې وشي، دا چې کوم کتاب دې په پښتو او کوم په درې وژباړل شي، دا هملته استادان ځان ته ټاکي.

هغه کتاب چې په پښتو ليکل شوی هغه په درې نه ژباړل کيږي او هغه چې په درې ژباړلشوی وي، په پښتو نه ژباړل کيږي.د پوهنيزو کتابونو د زياتولو هغه غوره لار همدا ده. دا چې استاد دې په يو کال يا څو مياشتو کې څومره کار وکړي او په څو کالو دې يوه درجه جګ شي، دا دې هم له مخه وټاکل شي او دا د پوهنيزه اړخه په ښه او عادلانه توګه.

دا داسې لږ څه راوړل وو، دا په دې مانا، چې په دې هکله پوره فکر شوی اوداړتيا په وخت کې يې ستاسومخ ته کيښولی شم.

د ژباړې له پاره نور کتابونه څنګه وټاکل شي؟

دا تر دې ځای ليکنه پوره نه ده، مګر هغه غټ ټکي په کې راغلي. که ما ته له دې ځايه هر څه کولو ته امر وي، زه ورته تيار يم.

نور څه اړين دي؟

د نصاب ليکونکي دې په هرمسلک کې دا دندې هم ولري:

- د هر مسلک د لغاتو کتاب ليکل. په پوره شننيز يا تشريحي ډول.

- د مسلک د مرستندوی کتابونو ليکل( موږ ورته ځکه اړتيا لرو، چې نور څوک نه لرو، چې دا کار يې په غاړه اخستی وي).

نور موضوات بيا له خبرو منځ ته راتلای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کابل د ۲۰۱۹ ز ک د جولای دوم

# د شننيزې دکشنري ليکل

ما دا څه موده د مخه خبر ولوسته، چې د پښتو يوې شنيزه ډکشنري د ليکلو له پاره چمتووالی نيول کيږي، نو ومې پتيله، چې د دې ډکشنري د ليکلو په اړه زما وړانديز د ګرانو لوستونکواو ليکونکوسره اود ډکشنري د ليکلومسئولو سره کډ کړم.

ګورو، چې زموږ نړۍ اود نړۍ ژبو ډېر پرمخ تګ کړی او موږ له دې امله د هر څه د ښه، پوهنيزه ليکلو له پاره د نړۍ ژبوته پوره اړتيا لرو، نو دا اړتيا هم بايد د نوروژبود ودې په مرسته پوره کړو.

د ټولو له مخه ( دامې ناسم ليکلی، سم يې: له ټولو ( څخه ) د مخه دی) مې وړانديزونه په لاندې توګه په لنډو ټکو ستاسو مخ ته ړدم.

لومړی: هر هغه کسان چې د ډکشنري ليکلوکې مرسته کوي او يا دا دنده ورسپارل کيږي، لږ تر لږه بايد د پښتو او دري د ښه پوهيدلوپه څنګ کې - چې دا خو قانوني امردی - په انګريزي پوره واک ولري.

دويم : د هرې ريښې پوه کسان بايد ورته ګومارل شويوي.

دا له دې امله، چې څنې ويونه په بيلابيلو پهنو کې راځي، چې اړونده ترې پوهيدنه ور څخه لاس ته راوړو.

دريم: د انګريزي ژبې د يوې بنسټيزه شننيزه ډکشنری ټاکل:

زموږ ډېرو پښتنو پوهانو بيلابيلې، د بيلابيلو ژبو او په بيلابيلو ريښو کې ډکشنرۍ ليکلي، د هغو څخه ګټه پورته کول اړيين دي، خود ډکشنرۍ ليکل بايد پوره وي او هغه داسې کيدی شي، چې د انګريزي ژبې يوه بنسټيزه شننيزه ډکشنری وټاکل شي او هغه د هر مسلک له پوهانو څخه په پښتو اندول وژباړل شي، چې يواځې يې بيا د پښتو الف بې په ترتيب سم کړي.

څلورم: د ښوونځي د نصاب اود پوهنتون د هر مسلک پوهان بايد داسې ونده په کې ولري، چې د خپلې ريښې د هغه درسي کتابونو په درس کې د خوندي ويونو شننيزه ډکشنري يې بايد ترتيب او ليکلي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا په دې مانا – لکه څنګه په نوره نړۍ کې – د افغانستان کتابونو کې هم د کتاب په پای کې دا لوستلې پوهنيزې کليمې يا ويونه د مخښوونې سره - چې دا وی په کوم مخ کې دی- ليکل شوي وي.

پنځم: يوه ډله(کميټه) بايد ټاکلشوې وي،چې دا ټولې شننې ورته راځي،هغوي يې،ګوري ترتيبوي اوبيا په ډکشنري کې هغه خپل ځای ورته د پښتو الف، ب په ترتيب ټاکي.

شپږم: هر هغه پوهنيز وی، چې په څو ريښو کې راغلی وي، بايد ورسره وليکل شي، چې دا په ...کې داسې مانا لري او...کې داسې.

بيلګه: تړل، تړونی، برېښناتړونی تړون وي و داسې نور.....

برېښنا تړوني يا برېښنا تړن -اله...........

دا ولې اړيين دي؟

ګرځنی، لنډ ګرځنی اونور

ټوټه په بيلابيلو پوهنو کې او همداسې ځمککچپوهنه کې

نيمی

اوځنې نور

ژبه خو همداده، چې لرو يې. دې روځنۍ ژبه باندې، چې يو له بل سره خبرې پرې کوو، اړکيږو، چې همدا د ژبې ويونه په پوهنوکې هم وکاروو، موږ د هغوشيانوله پاره نورنومونه يا ويونه نه پيداکوو، نو له دې امله هرو مرو به يو نوم په مختلفو پوهنوکې په ورته موخه کاروو،

لکه:

په الماني ژبه کې بدن جوړښت يا اناتومي کې زړنې Sehne د عضلې اوهډوکي منځ کې تړوني، نښلووني اوکه غواړۍ بيلووني ته وايي اوپه هندسه کې هغه کرښه ده، چې د ګردۍ څخه يوه ټوټه بيلوي، چې موږتراوسه وتر بللی، چې پښتو انډول يې ټوټه-ونې بلل کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



همداسي بله بيلګه: مور: په ورځنۍ ژبه کې، چې څوک نوره مړۍ نه شي خوړلی موږ بولو او همداسي ګومان مې دی کيميا کې موړ ( تراوسه مشبوع) هغه اوبې بلل کيږي، چې نور څه په ځان کې نه شي اوبې کولی دا په دې مانا چې مړيږي. نوله دې امله وايو،چې دا اوبې موړ شو (تراوسه: دا محلول مشبوع شو).

ځنو(که ځينو؟) ويونو ته بايد هکپک نه شو، چې لرو يې اوکاروو يې نه، چې له دې امله راته هکپک کوونکيیعني نابلده دي . محلول چې موړ يې زيات وخت حل بولو، په پښتوکې اوبې دی.

دا زموږخوښه نه ده او نه غوښتنه، دا پيداښتي همداسي دی.

ډېره هڅه بايدوشي، چې يو کره پيژندل شوی نوم يا وی د يوه بل کره پيژندل شوي وي په ځای – چې ناسم دی - کيږدو.

بيلګه: د شيانو يو ټولګي د يوه ګډ خوي سره، چې هغه خوي بهيدل دي اوله دې امله بهيدونکي بلل کيږي، په پوره ناسم ډول اوبلن وبولو او همداسي سلمه په شنه زور سلنه نه کړو.

## څو ليکونه د پوهنې وزارت اړوند يو.

د افغانستان اسلمي جمهوريا د پوهنې وزارت Dr. Makhan Shinwari
معين محترم

Smakhan1946@gmail.con

ډاکتر ابراهيم شينواري ته

21.10.2016 Bonn; Germany

د افغانستانن اسلامي جمهوريت د پوهنې وزارت معين محترم ډاکتر ابراهيم شينواري صاحب ته په مينه او احترام.

د لوي څښتن څخه مو روغتيا او بريا غواړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



محترم ډاکتر صيب.

ما دا ليکنه پوره د مخه بايد تاسو ته ليږلی وي، خو دا وروسته ليږنه يې هم ناوخته نه ده.

زما هيله دا ده، چې د شونتيا په حالت کې دا ليکنه د پوهنې محترم وزيرصاحب سره شريکه کړي.

د افغانستان د درسي کتابونو په ځانګړې توګه د شميرپوهنې يا رياضي کتابونو په هکله مې د افغانستان جمهوري رياست کلتوري چارو مشاور محترم غظنفر له لارې د افغنستان اسلامي جمهوريت جمهور ريس ته يو ليک ليږلی، په هغه کې دا ستونځې پوره ليکل شوي او يوه پخوانۍ ليکنه چې د پوهنې وزارت ته وه، هغه هم مل درليږم.

که چيرې يو بل کس د دې کتابونو د سمون له پاره تيتر وهلی وي او يا هلته په نصاب کې پخپله يې سمون منځ ته راغلی وي، خو ډېر ښه او که زه دا يواځنی کس يم، نو بيا د پوهنې په وزارت غږ کوم، چې د کتابونو د سمون له پاره چې ډېر اړين دې چانس او امکان راکړی، چې دا ستر کار د هيواد د راتلونکې له پاره سر ته ورسوم. دا په دې معنا چې دامشاورت نه بلکه زه کار ته د کولو يا د نصاب د کتابونو ليکلو او سمولو له پاره چمتو يم. کتابونه ما په نړيوال معيار چمتو او ليکلي.

زه به داسې يواځنی کس يم، چې ستونځو يا ناسمونونو ته ګوته نيسم او پخپله يې د شميرپوهنې کتابونو د سمون کار سرته رسوم او دا ستاسو په چوپړ کې ږدم.

که چيرې د پوهنې وزارت د دې کتابونو سمون له پاره خپله مينه لرله، نو نور کارونه، چې دا کار ښه‌ګه سرته ورسول شي، خبرې پرې کولی شو.

دا دې په ګوته وي: دا کار چې زه تاسو ته وړاندې کوم، د دولسو کسانو د دوه کالو کار دی.

تاسو به وپوښتی، چې ما نو په ځانله توګه ښه‌ګه دا ستر کار سرته روسولی، وبه وايم، چې دا کار ما د دوه لسيزو په وخت کې سرته رسولی، چې اوس مې د ښوونځي له پاره هم سره رايوځا کړي.

يادونه: د پيسو خبره مطرح نه ده. دا کار له لرې هم کيدی شي، چې په دې حالت کې به هيڅ له دولت ونه غواړم.

د هرڅه له مخه ستاسو د ستونځو ګاللو څخه مننه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستاسو د لا ډېرو بریاووپه هیله.

ستاسو ماخان شینواری.

دا لیکنه مې محترم مشاور غظنفر صیب ته لیږلې وه.

د افغانستان د اسلامي جمهوریت جمهورریس د کلتوري چارو مشاور محترم استاد غظنفر ته سلامونه او نیکې هیلې.

هیله ده، چې دا اړونده لیکنې به د افغاستان اسلامي جمهوریت جمهورریس ته ورسوئ. پوهیږو، چې دا ډېرې مهمې دي.

دا چې وپوهیږم چې دا لیکنې تاسو ته دررسیدلې، هیله ده ماته به ډاډ راکړئ.

د هرڅه له مخه له تاسو مننه.

ستاسو ماخان

دا لیکنه مې دپوهنې وزارت د معینې د غوښتنې سره سم په ۲۰۲۰ ز ک کې لیکلې او ورلېږلې.

د افانستان اسلامي جمهوریت د پوهنې وزارت محترم مقام ته.

ما د پوهنیزو مؤسسو او په ځنګړې توګه د پوهنې وزارت د نصاب په هکله پوره فکر کړی او په دې هکله مې لیکنې هم د تاند خپرونې کې خپرې شوي دي.

څو کاله د مخه مې دپوهنې په نصاب کې کار هم کړی، چې د ستونځو په هکله مې د پو هنې وزارت اوجمهوري ریاست ته لیکونه هم لیږلي. زه جنجال غوښتونکی نه یم، خو د کار سمون کې ونډه اخسلی شم.

که د نصاب جوړنه کې مو زما مرسته اړیینه بلله، زه دې کار ته چمتو یم، زه معاش نه غواړم او نه د پوهنې وزارت نور لګښتونه، خو که لازم مو بلل، نو په نصاب کې د شونې ونډې غوښتونکی یم، چې لږ تر لږه د شمیرپوهنې څانګه کې راته غوره رول راکړ شي، لږ تر لږه ځان د شمیرپوهنې د نصاب د سمون جوګه ګڼم.زما څو لیکنې د افغانستان پوهنیزو مؤسسو په هکله څه موده وړاندې د تاند درنې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپروني له خوا خورې شوې،هغه له تاسوسره شريکوم او له دې د مخه دا يادونه د يوه لنډيز په توګه وړاندې کوم:

۱ ــ د نصاب ليکونکي بايد د ليکنو توان ولري او په انګريزي اومسلک بايد پوره واک ولري او دولت د پوهنتون د استادانو په حقوقو بايد ورته قانع شي.

۲ ــ ښوونکي بايد د يوه کره ټاکلي پرګرام لاندې تل د همدې نصاب ليکونکو له خوا بيا بيا چمتو شي.

۳ ــ د درسونو سرليکونو ټاکل غوره دي، خو همدا اوس چې څه لرو، دا به د يوه وخته پورې بسيا وکړي، خو ليکونکي اوښوونکي بايد د دې ليکنو او ورښوونو جوګه وي.

په دې هکله زما د اند پيژندلو له پاره زما ليکنې مل دي.

زه خپله ليکنه نه غزوم، خو که زړه مو وو ماته زما برېښنا پته ليک رااستولی شی.

د هر څه له مخه ستاسوله ستونځو مننه

ډاکتر ماخان شينواری

## پنځمه برخه: داسې ګډې وډې پخوانۍ او اوسنۍ ليکنې:

## خوب د شپې کډه وکړه.

وې مې،چې د طالبانو اوامريکا په منځ کې د کوم تړون، نو د افغانستان له پاره څه؟
-- که زموږ هر څه د امريکا په لاس کې وي، نوبيا خو بې له دې د ويلوڅه نه لرو.
-- که داسې نه وي، نود دې دوه ډلو منځ کې کوم تړون د افانستان له پاره هيڅ باورنه لري. موږ خپل حکومت لرو او د قانون په څلورديوالی کې ورته ولس واک ورکړی، چې د ولس له پاره ګټورې پرېکړې وکړی شي.
خبرې ډېرې دي، خواوږدوم يې نه.
نور چې هرڅه وايي، هغه به وايي اومسئوليت يې نه لري.
مسئوليت د حکومت دی او د خپل مسئوليت سره به د ولس په خوښه تلنه کوي، نه دا چې طالب اويا امريکا چې څه غواړي، دوی به يې کوي.
دا تر اوسه هرځل موږ ته بل چا روغه راوستې، چې ستر جنګ يې تل پايله وه.
دا ځل بايد دروغه راشي اوپخپله افغانان سره روغه وکړي، چې د يوه اړخ پرېکړه کوونکی يې حکومت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کسانو رول، چې ځاني ګټې لري بایدنورله منځه تللی وي، که نه روغه نه شته.
مسئول غني دئ اونه بل څوک او پسې حکومت.
ټاکنې یوه دموکراتیکه پروسه ده اوباید د - په پوښتنه کې - روغې قرباني نه شي.
باید دا سره بیل کړو:
-- د امریکا اوطابانو روغه اویا بل څه د افغانستان حکومت سره د روغې په مانه نه دي.
-- ټاکنې او د روغې خبرې سره تړاونه لري.

## نړۍ فضا

په دې لیکنه کې مو ډېرې ښې څېړې لرودئ، خو په خواشینئ باید ووایم، چې هغه ورکې شوي. په لامل یې نه پ،هېږم، خو دا د ن ج

Category:ساینس او ټکنالوژي

WELTRAUM نړۍ فضا
زموږ لمرسیستم
د الماني له ن ج-مونو څخه
ګرانو لوستونکو!
یوه ورځ مې په تلوېزیون کې د ساتورن په هکله یوخبر واورېده، ډېرپه زړه پورې وو. ما چې له ځانه وپوښتل، چې دا زموږ لمرسیستم، نوڅنګه دئ، پوره ورسره ځان راته بلد ونه برېښیده، نو په ن ج کې مې چې را پیداکړ، ډېر په زړه پورې داتنیا داتای یې لرل، چې هغه غواړم، له تاسوسره ګډ کړم.

موږد پښتو یا په پښتوساده لیکنوسره لږ بلد یو او زما د عربي ویونپانګه هم ځواکمنه نه ده، چې له دې امله مې داسې په ساده پښتو لیکلي نو هیله ده چې زما د لیکنولوستلوسره به ستونځې ونه لرئ.

موږ په خپل لمرسیستم یولید اچوو. او موږ تاسوته د خپل لمرسیستم ستوري ښایو: ځنې د سخت بادغونډوسکې دي، ځنې ابشیدونکې سرې(ګرمې)اویا داسې یخې دي، چې په هغو کې هوا یخیدی شي.

*Solar system, illustration*

(c) ketabton.com: The Digital Library



د لمرله لوري لدنه: مرکور Merkur، وینوس Venus ، ځمکه Erde، مارس Mars ، یوپیتر Jupiter,، ساتورن Saturn، اورانوس Uranus او نیپتون Neptun.

زموږ لمرسیستم له لمر او د هغه اته ستورو اود هغو ستورود سپوږمیو، وړو ستورکیو او میلیونونو وړو تنونو یا بدنونو، لکه استیرویدونو او کومیتونو څخه جوړدی. دا ټول په لمر راڅرخي.

د دې له پاره، چې موږ په ترتیب د ستورو نومونه اولمر ته یې واټن په یاد راوستی شو، نو لاندې د زده-کړنغونډاله، چې په الماني ده، په پام کې نیسو: '' : " Mein Vater erklärt mir jeden Sonntag unseren Nachthimmel

مانا یې: زما پلار ماته هره یونۍ زموږ شپنی اسمان راښايي یا تشریح کوي. د الماني غونډالي.... د هر وي پیلتوری د اتو ستورو څخه په ترتیب د یوه پیلتوري دي.

زموږ لمرسیستم په نړیفضا کې یواځنی لمرسیستم نه دی، د دې مخامخ: نور میلیونونه لمرسیستمونه شته چې ستوري یې په هغو لمرونو راڅرخي، نو له دې امله زموږ لمرسیستم په ټولو پیداښتونو کې داسې دی، لکه یوه زره. زموږ لمرسیستم نږدې ۴،۵۶ میلیونه کلونه زوړ دی او د یوه ډېر ستر هایدروجنوربڅې له راتنګیدنې یا ټینګیدنې څخه منځ ته راغلی. په لاندې کې موږ تاسوته زموږ د لمرسیستم ستورو په هکله باندې یو لید درکوو.

*لمریز سیستم*

ټول ستوري په یوه څرخونلار په لمر راڅرخي.
ستوري: زموږ په لمرسیستم کې رنګه باغکي
زموږ په لمرسیستم کې اته ستوري په خپلوڅرخونلارو په لمر راڅرخي. دلته یواځې د هغوي لویوالی او د لمر سره واټن په ګوته شوی یا ورکړل شوی. په ریښتونوالي کې د ساتورن اویوپیتر نیمی (قطر) نږدې د ځمکې لسبرابره دی اولمریې د سل ځله څخه زیات لري

(c) ketabton.com: The Digital Library



Sonne: لمر
Durchmesser: 1.400 000 Kilometer نیمی
Abstand zur Sonne: – لمرته واټن
Masse*: 333 000 Erdmassenځمککتله کتله
Umlaufzeit: – څرخونوخت
Monde: 0 سپوږمۍ
Rekorde ریکارډ: لمر په پاسهواره ۵۵۰۰ او زړي کې ۱۵ میلیونه درجې تودوخي لري یا توده ده. دا یعنې ځمکه ۷۵۰ ځله دومره درنده ده لکه ټول ستوري یوځای او کړی شي ځمکه یو ملیون ځله ځان کې ځای یا خوندي کړي.
او د غازونو د توانمنده راشړنې یا راوتنې یا ډزو سره تر لس میلیارده ټنه غاز په نړۍ فضا کې د باندې شړي.
کتله Masse: د هر تن یو خوي. چې د بیلګې په توګه د هغه راکښنتوان اغیزمن کوي. د هغه یووالی یا یوون کیلوګرام دی.

WELTALL نړۍ فضا
Die Sonne in Zahlen لمر په ګڼونو کې

دا چې د لمر په چاپیریال ګڼونه ډېر ستر دي، چې هغوي په یاد کړی شو اویاد کې راوستی شو، دلته یې دا غوره په یوه لید باندې لیدلی شي.

Merkur: میرکور

مرکور په پیداښتي رنګونو
Durchmesser: 4879 Kilometer نیمی
: 57,9 Kilometer Millionen له لمرڅخه واټن
Masse: 0,055 Erdmassenځمککتله کتله
Umlaufzeit: 88 Erdentage ځمکورځې څرخونوخت( پهلمر)
Monde: 0 سپوږمۍ
ریکارد Rekorde : زموږ د لمرسیستم کوچني ستوري باندې د شپې اوورځې منځ کې ډېر ستر تودوخیتوپیر له ۵۰۰ درجو زیات واکمن دی.
دا هم هکپک کوونکی: میرکور سوکه، سوکه غونجیږي، خکه چې هغه یو ستر وسپنیززړی یا د وسپنې زړی لري، چې سره غونجیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



:Venus وینوس
Kilometer 12.104 Durchmesser: نیمی
: 108,2 Kilometer Millionen لمر ته واټن
ځمککتله Erdmassen Masse:0,815 کتله
Erdentage 225 Umlaufzeit: ( په لمرڅرخونوخت) څرخونوخت
0 Monde: سپوږمۍ
رېکارډ: هغه سم خورا دوزخي ستورى: د کولنډای اکسید ټینګي فضا له امله په وینوس باندې د ورځې تودوخي ۴۶۰ درجو ته جګیږي. له ېندووربځو له ätzender Schwefelsäure باران وریږي، او پوښهوارې سر یې په اورغورځوونو پوښلی.

Colourbox رنګبکس

:Erde ځمکه

Kilometer 12.756 Durchmesser: نیمی
: 149,6 Kilometer Millionen لمر ته واټن
ځمککتله Erdmassen Masse:1ل کتله
Erdentage 365 Umlaufzeit: ( په لمر) څرخونوخت
1 Monde: سپوږمۍ
ریکارد: ځمکه یواځنی ستوری دی، چې ژوند پرې کیږي. پرته له دې په ځمکه کلکې، بهیدونکې او ټښتیدونکې یا غازډوله اوبه شته او کله کله په زړه پورې لمرنیونه یا لمرتیاره کیدنه منځ ته راځي، چې په هغې کې ویښته-ټیک لمر د سپوږمۍ شا ته ځان پټ کړي

:Mars مارس

Kilometer 6794 Durchmesser: نیمی
: 227,9 Kilometer Millionen لمر ته واټن
ځمککتله Erdmassen Masse:0,107 کتله
ځمکورځې Erdentage 687 Umlaufzeit: (په لمر) څرخونوخت
2 Monde: سپوږمۍ
ریکارد: ۲۷ کیلومتره جګ د Mons Olympus غر یې په لمرسیستم کې هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خورا جګ غر دی، او اته کیلومتره ژور Valles Marineris په مارس خورا لوي ژورسیستم دی. او لهورسره بلد اخوا یعني افراطي بوړبوړکی ډوله (تورنادوډوله) ګرد باد په کې لړيږي، چې یوکیلومتر نیمی لري.

Jupiter: یوپیتر

نیمی Durchmesser: 142.984 Kilometer
واټن له لمر Millionen Kilometer 779 :
ځمککتله Masse:317,8 Erdmassen کتله
ځرخونوخت (په لمر ) Umlaufzeit: 11,9 Erdenjahre
لړ تر لګه Monde: mindestens 63 سپوږمۍ
ریکارد: دا لوي ستوریخورا لنډې روځېلري(9,8 ساعته) لري او خورا اوږد پاتې کیدونکی جکړ،د هغه ډېرلوي داغ ( لاندې ښي لور ته) له ۳۴۰ کلونورا په دېخوا تاویږي یا په ځان راڅرخي. پرته له دې ګومانکیږي، چې یوپیتر هغه ډېرې سپوږمۍ لري، چې Ganymed يې خورالويه ده.

زهره

:Saturn ساتورن
نیمی Durchmesser: 120.536 Kilometer
واټن لمرته Millionen Kilometer 1433 :
ځمککتله Masse:95,2 Erdmassen کتله
ځرهونوخت (په لمر ) Erdenjahre 29,5 :
لږ تر لږه Monde: mindestens 61 سپوږمۍ
ریکارد : ساتورن یو ځانګړی کړی سیستم لري او خورا لوي یخغونډاري یا یخغونډوسکي لري: د ساتورن ځني سپوږمۍ ټولې له یخ شوو اوبو جوړې دي. په ساتورن بریښنا یو میلیون ځله دومره لوي دي لکه په ځمکه او د سلو مترونو په کچه سرور.
Colourbox
اورانوس شین ستوری، زموږ د لمرسیستم دریم لوي ستوری دی
Uranus: اورانوس

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا څیره د Voyager 2 سره د جنووري په ۲۶ ز ک ۱۹۸۶ احستل شوې
نیمی Durchmesser: 51.118 Kilometer
واټن لمرته Millionen Kilometer 2871 :
کتله Masse:14,5 Erdmassen ځمککتله
ځمککلونه: 83,8 Erdenjahre ( په لمر) څرخونوخت
سپوږمۍ Monde: 27
ریکارد: د پاموږ کلونوختونه لري: ځکه چي د اورانوشمالي قطب د لمر په لور لوریز دی، هلته په ووږي کې څلوېښت کاله روڼ پاتیږي، کیدی شي هلته دیامانت هم وه- وریږي. مختربعین باور لري، چې هلته په اتموسفیر کې تیرږ کیدی شي د متان تختیدوني یا غاز جوړې وي.

Neptun: نیپتون

نپتون ( څیره د Voyager 2 له خوا ۲۵ د اګست ۱۹۸۹ )
نیمی Durchmesser: 49.528 Kilometer
واټن لمر ته Abstand zur Sonne: 4495 Millionen Kilometer
کتله Masse:17,1 Erdmassen ځمککتله
ځمککلونه: 163,8 Erdenjahre ( په لمر ) څرخونوخت
سپوږمۍ Monde: 13
ریکاردونه: بل دومره له لمرهلرې نه دی. بیا هم په نپتون کې ځواکمن بادونه لږیږي، د ۲۰۰۰ کیلو متره / ساعت چټکتیا سره، اوهمداسې غوره: په سپوږمۍ Triton یخغورځووني. دا ۲۲۰ درجې یخ نایتروجن غورځوي.
جرمني د بن ښار ۱۶د نومبر ۲۰۱۹

## نوره هم بدیږي

د المان د سوشل دفترکي ناست وم او په ستر کاغذ لیکلي مي ولید، چې پرې لیکلي:

،، ... اود شورماشورځخه یوغږ وشواوویل یې:خانده اوخوشاله اوسه، کیدی شي نوره هم بده شي.

نو: ما خندل اوخوبښ وم او نوره هم بده شوه،،.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د افغنستان غمیزې ته

موږ په افغانستان کې له دې څلوېښتوکالو را په دېخوا د داسې غمیزې سره ګیر یو، دا ټولو ته روښانه ده. دا چې څه کیده اوڅه به وشي، وړاندوویینه یې نه شوه کیدی اونه شي کیدی. همدا تازه یې بیا شاهدان شو. د دې علت دا دی، چې موږپه افغانستان کې منظم څه نه لروده او نه یې لرو، په دې ژوند کې مو ګډوډي واک لري، دا چې ولې، دا به دلته نه څیړو، خو دې روان حالت ته ګوته نیسو، چې څنګه روان دی.

ډېر له جنګه ستړي یو او د روغې غږ چې وشي، نو سملاسي ورته ښه لید لرو، خو ایا دا به فاتامورګانه ( غولوونکې لمرووړانګې. هغه په ووړي کې، چې په ډاګ کې سړي ته اوبه برېښي) وي اوکه څنګه؟

دا څوک چې ورته خوښ وو، ولې اودا چا چې شک په کې ګانه ولې؟

د دې له پاره هرڅوک خپل دلیل لري، خوزه به همدا خپل اند پرې څرګند کړم.

دا چې دا روغه څنګه راځي، په دې خو زموږ د حکومت په واک کې افغانان هم نه وو خبر تر جمهورریس پورې اوهغه لورته خو د پاکستان د حکومت پورې هرومروټول ترې خبروو، ځکه چې دا روغه د هغوي په پوره مشوره او واک کیده او کیږي به هم. جمهور ریس ته ان تردې چې د سولې مسوده لوستل کیږي اویا یې داسې چټکه لوستلوته ورکوي.

ما ته خو دا د روغې پروسه نه برېښیده، دا په دې مانا، چې د افغنستان د خلکو څخه په خرابه توګه ټاکلی حکومت، چې د نه ټاکلي حکومت او یا بل واک څخه ماته ښه برېښي، هیڅ ورڅخه خبرنه وو، یواځې له دباندې ورته ویلکیدل.

خبره رالنډوو او پوښتنه کوو، چې داسې روغې څنګه منځ ته راځي او په افغانستان کې سالمه لار کومه ده؟

لومړی:

طالبان د افغانستان د حکومت سره خبرې نه کوي او د امریکایانو سره د روغې تړون لاسلیک کوي، چې د افغانستان حکومت یې یواځې هغه لیکنه کتلې وه.

که دا روغه د امریکا اوافغانستان په راتلونکې نه، د امریکا عسکروپه وتلووي، خود امریکا خوښه ده، خوداسې نه ده. دا د افغنستان په برخلیک باندې ده، نو باید د افغان

(c) ketabton.com: The Digital Library



حکومت په کې شوني ونډه لرودی.د غني د راتلونکي لومړي مرستیال صالح له خبرو اود مخه تیرو خبرونو څخه داسې برېښي، چې کوندې افغانستان دې د لومړي ځل له پاره په دوه برخوووېشل شي ( په څنګه يې خبرې نه کوو) او بیا دې په ګډه سره د دولت چارې مخته بوتلل شي. باوروکړی، چې زما سر په دې نه خلاصيږي، چې دا به بل څه ډول وي، پرته له دې، چې يو ځل دې افغانستان په دوه برخو اوحکومتونو ووېشل شي، بيا نو پرته له بيلتون که نورڅه کيږي، هغه به يوه معجزه وي، که افغانستان يوواحد هيوادپاتې شي.

تاريخ ښوولې چې:

که يوڅوک يووار د يوه کلي پاچاهي ونيسي، هغه هم بيا بل ته نه پرېږدي، پاتې لا نږدې نيم هيواد.

پايله: د افغانستان ټوټه کيدنه.

دا نو د کندومک له ترونه بيا ستره بدنامي او تل پاتې بدبختي ده، چې دا بيا نور ټوټه واکونه زيږوي، چې په هيواد کې موبيا جنګ پای نه مومې.

دويم:

په افغانستان کې دې روغه راشي او هيواد دې بيا د همداسې، په بشپړه توګه له دباندنيو منځ ته راغلي حکومتونوڅخه اداره شي، لکه تراوسه چې ورسره بلد يو، چې دا پرته د ولس له پل په پل تخريب څخه بل څه نه وو.

دا هم زما په اند د روِغې لار نه وه.

دلايل به نور هم ولرو، خو اوس به دا پوښتنه وکړو، چې سوله نوڅنګه شوني ده؟

دريم:

سوله بايد په منظم ترتيب شوې وي او منظم ترتيب کيدونکي ډول منځ ته راشي.

خبره په ترتيب شوي اوترتيب کيدونکي کې ده.

که په جنګ کې يوه خوا ماتې وخوري، نود واک وړل و بلې ډلې ته منظم ځکه دي، چې همغه بريالی ډله حکومت جوړوي اوبس، چې دا د واک تسليمي به منظمه وي. او که په څرګنده توګه کومې ډلې ماتې نه وي خوړلې، نو دوي بيا په دې هکله دوه اړخيزه خبرې کوي، چې که نور په جنګ کې دننه واکونه هم وي، د هغوي ګډون به هم اړيين وي، خو نه پرېکنده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا خبرې به رالنډوو اوپوښتنه به دا وي، چې د افغانستان په دې حالت کې به نو روغّه ځنګه وي؟

جنګ زور اخستی اوعلت يې دا وو، چې طالبان غوښتل چې زيات ښارونه اوځمکې د خپل واک لاندې راولي.

نوزموږ قضاوت به د زورپه بنسټ وي.

طالبان به ځلوېښت يا شپيته زره وي اودولتي ځواک درې سوه زره ته رسيږي.

وړې ولسوالس او ښاړ ځايونه به د طالبانوسره وي، خو ټول ستر ښارونه د دولت په واک کې دي.

که هرڅومره ځمکه او خلک طالبان ولري، د حکومت ونډه ډېره ځواکمنه ده.

د جګړې اړخ کې طالبان ترور کې تکړه دي، خو په جګړييززور څه نه شي کولی، دوی کوم ستر ښار په ولکه کې نه لري اونه يې‌راوستلی شي اوکه دا ولري، نو اداره يې تاسي په فکرکې راوستلی شئ.

په هر صورت زما وړانديز دولت ته هم دا دئ او زما اند هم، چې طالبان دې د دولت سره روغه وکړي، طالب جنګيالي دې وبخښل شي او خپلو ځايونو ته دې لاړشي، که غواړي په عسکري خدمت کې کار وکړي، د ازموينې وروسته دې دا ده ورته ورکړلشي او په هرډولانتخاباتو کې دې لکه هر افغان د افغان په څير ونډه ولري.

په پای کې يوڅوپوښتنې اود هغوي لنډ ځوابونه:

۱ - خپلواکي اودا خپلواک نوڅوک دئ؟

۲ - بلواکي نو بيا څنګه اوبلواک څوک دئ؟

۳ - ايا زموږ قضاوتونه به خپلواک وي؟

۴ - د دې حالت راتک.

۱ – ته :

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپلواک امریکا ده، چې هم دا کوياو هم دا، خودا همداسې‌نه ده.

هلته هم د کسانو يا اورګانونزوردی، چې يود بل په واکوالي کې دی، دا په دې مانا چې هلته هم هرڅوک خپولاک نه ي.

هلته هم چې‌ترمپ څه غواړي، موږ يې د منلو او نه منلو په مخامخ بې واکه يو، خو هلته نور خلک شته، چې غوښتنې اوکړنې ماتوي. و به وايو، چې هرڅه په دې زورواړخ کې هم نسبتي دي.

۲ ــ ته:

موږ په ځانګړې توګه دا دليک لوست افغانان يا دا زما غوندې له هيواده دباندې افغانان ډېرتينګارکوو، چې دا پلانی د پلاني په واک کې دی يا زموږسياستوال بې له امريکا او همداسې دا نور يې له پاکستان څخه څه نه شی کولی او دا په ټوليزه کې همداسې ده.

يو قوم او ولس، چې ځان ته ډوډۍ‌نه شي پيداکولی او هر څه يې له بل وي، نو خپلواکيبه چيرته وي؟

سره له دې هم بيا د هغه هيواد د سياستوالو ځنې څهپه لاس کې وي، چې له هغې‌بايدتير نه شي لکه په دې خبرو کې هم زموږ دولت يا حکومت د روغې جرګې په وړاندې، چې د روغې پرېکړه نه وه، درېدل.

بيا همهغه نسبي بلواکي يا خپلواکي.

موږبايد وپوهنيږو، چې کله زموږ اود زوروړو ګټې سره شريکې دي اووپوهيږو، چې څنګه له هغو ګډو ګټو موږ ګټه پورته کولی شو.

موږبايد زوروړته وښوولی شو، چې څنګه او ولې او چيرته مو ګټې سره ګډې دي او څه د دواړو په تاوان دي.

په هيواد کې مو حکومت شته او هغه بيا خپلې ګټې د نورو هيوادونو د ګټوسره ګوډلی شي.

هغې بلې لور يعنې د طالبانو لورته: هغو د يوه با مسئوليته ډلې څخه نه اداره کيږي. نو هلته د بلواکي او خپلواکی پيژند هم بايد توپير ولري.

هغوي بايد د ترې مرسته اخستونکو هيوادونوګټې هم په پامکې‌ونيسي او هغوييبا ددويګټوته په پامکولو اړيين دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳ ــ ته:

لنډ: زموږقضاوتونه هم د شرايطو په واک کې دي او بايد وي.

۴ ــ ته:

افغانستان اونږئ: د باندني چې افغانستان ته راغلي، د ترور له امله اودا په دوي د افغانستان د خلکو حق دئ، چې له افغانستان څخه ترور ورک کړي. دا جنګ په افغانستان کې د افغان په وژنو نړيوالو راوستی او دوي د دې د منځه وړلوله پاره بايد مجبوروي.

ستره غميزه:

زما جودره بمونووالوزوله.

**هلته لرې د شينوارو د هسکي ميني د جودرې کلی د کټه-پور غره لمن کې، چې شاته يې تر سپينغر پورې نور غرونه هم جګ شوې په دوه موږو باندې خلک اوسي. ډېر ښکلی ځای دئ. جنوب ته يې غر اونورولوروته يې په شنوپټيو دا ځمکه ښکلې ده، وبڅښئ، ښکلې وه، چې به دا ښلا هم د غم ښکلا وي.**

**دا يو کلي دئ، هغه زما د مور کلی دئ.**

**مورې! دا ستا کلی وو، دا په تا ګران کلی وو، ورونه د تره زامن اوټول درباندې ګران وو، ته هم ورته ګرانه وې.هغه خو اوس په بمونو والوته، هلته خوستا ورېرونه اوبچيان يې په وينوکې ولمبيدل، هلته خوستا د تره لمسيان ټول د مسجد د خاورولاندې شو،هغوي لمانځه ته تللي وو.**

**هلته نور تل غم خپله لمن خوره کړه، هلته به نور نه هغه پيتاوی وي او نه هغه ټوکې ټکالې.**

**مورې تا خو نه شو ژړلی، زړه به دې خوږ، خو اوس زه ستا له پاره هم د هرټکي سره اوښکې تويوم، نور څه مې د لاسه پوره نه دي،همدا ژړا ده.**

**ما هم ډېر ښه وخت هلته تيرکړی، ماما ګان مې ټول ښه او د خبروخلک وو، ټوکې ټکالې به ډېرې وې، د ژمي پيتاوې کې به مې کله کله زما د همزولو سره اټيران ( يوه د سترنج په څيرلوبه ده) کاوه. ډېر هلته تلم، ماما ګان راته ګران وو او زه هم د ماما ګانو کورنيو ته ګران وم.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د جمعې په ورځ موږ په بيلجيم کې وو. د چا تلفون نمرې مې هم نه وې ورې او هغې تختې مې د جال کار نه ورکاوه، د نړۍ سره مې مزې نه درلودل. په ما زما ملګري اوخپلوان هم ملامت نه دي، ډېرلټ يم او بيکاره. بې پروا نه يم او که ځان به داسې نه ګورم.**

**په دې ورځ، د جمعې په ورځ مې زما دميرمن د وراره څخه تلفون واخسته، چې خبرونه وګورم، نو لومړی خبر مې همدا د غمونو لړلی خبر په سترګو شو، چې زما هم د هغو ټولو يادونو د مخه تيرېدو سره غبرګې اوښکې بيواکه شوې اود د ې سترغم درد ته يې نور د ودرېدو توان نه لاره.**

**په داسې يوه کلي کې، چې ولس نه يو کلی دی څو اويا کسان وژلکيدل اوله څلوېښتو زيان ټپيان خو يوه ډېره ستره غميزه ده. کلي کې خونورناريته نه شته، هغوي لمنځونه کول اوښځې خو جماعتونوته نه ځي. څوک چې ژوندي پاتې دي،هغه واړه او ښځې،هغه هم نورې په ژونديوکې نه ګڼل کيږي. هغه په ژوندينې مړې دي. پلرونه نه شته، چې دوي بيا پلرنی غيږ کې ونيسي او ويې خندوي، خدايه(ج) د دوي ژوند به نوټل ژړاوي. پوښتنه خو نه کوم، ستابنده يم، خو په فکرکې مې دا راګرځي.**

**خدايه دا مې د مورکلی وو او دا د تنونو ټوټې يې چې خلکو راټولولې، دا مې د مورد تره زامن اولمسيان وو،هغې ورېرونه و، د هغې ګران خلک وو، ښه دي، چې مورمې لا دمخه مړه ده.**

**خدايه د دې کونډو يتيمانو چغې خو ته اورې او پوهيږې، چې دا زموږله پاره څومره د غمونو ډکې دي.**

**خدايه ته خوګورې، چې دا سپينپګړي اوتورګړي به څومره دې خپل کارته خوښ وي.**

**دا کسان، دا د دې کارکړوني او امرکوونکې د خپل دوزخ له پاره د سيده تګ لارې پرانيزي. فکرکوم، چې دوزخ به هم د دوي له پاره کم وي، دا انساني فکر دی او د له غمه ډک فکر.**

**دا کسان چې دا کار کوي، دا څوک دي؟ د سپينی پګړۍ وي اوکه د تورې، دا همغه د يوه خره غوږونه دي.**

**دوي ته چې داسې کارونه کوي د ويلو څه نه لرم، داسې د هغوي د شان سره مناسب څه مې خيال ته هم نه شي راتللی او د حيواناتو سره پرتله کونه يې حيواناتو ته توهين دی، دوي توهين کيدلی نه شي،دوي له توهينور اخوا دي،نه پوهيږم، چې دوي به نوڅه شی وي. خو لويه څښتنه په ډېره بخښنه زه خو له تا د پوښتنې حق نه لرم، خو دا مې په زړه کې ګرځي، چې:**

ايا دوي هم اشراف المخلوقات دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**زما یواځې یو کار د لاسه پوره دی، چې هغه مې ماماګانو ته دعا ده. لوی ښتن دې د ټولو شهیدانو د فردوس جنت په برخه کړي، ټپیانو ته دې روغې ستې ورکړي، د ټولو شهیدانو کورنیو، زماګرانو مانیګانو او تررانو ته دې لوی ښتن اجرونه او د زړه صبر وکړي.**

**خدایه (ج) ته پوهیږې موږ‌خو(ستا پیدا) نه پوهیږو**

## د جادو جام

په لار روان وم ، د خپل خیال سره لاس په ګریوان . وې مې دا خوبونه نه ریښتیا کیږي. ددې خوبونو ریښتیا کول خو ستا کارنه دی، دا خوبونه په ځانګړتوب نه شي ریښتیا کیدی. دا جګړه ځما او ځما د خیال سره جدي شوه، خیال مې وې چې ته دې خپل خوبونه ګوره د بل چا سره ستا څه غرض نه شته، هرڅوك خپل خوبونه لري، نو هرڅوك او خپل یې کار .
زه د خوبونو د ریښتیاکولو په پلو وم په لار راون او سملاسي مې فکر شو چې زړه مې له لاسه کلك ونیولم او راکش یې کړم.

وې چې دلته ورځه، خوب دې د جادو په جام کې وګوره.

ما خپلې پښې کلکې کړې، وې مې چې نه، دا هم ځما خیال او خوب ته کوم ځواب نه لري. خو زړه همداسې له لاسه کلك نیولی او د جادو جام ته مې راکاږي.
ګورم چې د پاسه له مغزو غږ راوشو، چې پام کوه، زړه باچا دی ، څوك یې خبره بې له سزا په ځمکه نه شي غورځولی، نو پښو ته دې په هغې لور حرکت ورکړه، چې دې زړه هلته راکاږي.
د داسې لږ وخت وروسته ما چې خپل خوب د جادو په اول جام کې وکوت نو داسې لږ څه تت ښکاریده، څه ترې نه پوهیدل کیده، نو بیا مې زړه دوم جام ته وروهڅولم او وې چې ناامیدې هم ناکامې ده، بیا دې خوب د بل سحر جام کې وګوره .
ما د باچا خبره، چې مغز مې ورته پام راګرځولی وو نه شوه ردولی، نو په بل جام کې مې خپل خوب وکوت. ګورم چې راته وایې چې ستا ژوند خوب دی او ته مین یې په خیالونو، ځه ورځه هغه کوه چې څه کوی شې، چې خوبونه او خیالونه دې ریښتیا شي.

د بل کړه وړه ستاه کار نه دی دا خبره پریږده چې» که موږ داسې کړي وی او یا داسې ، نو داسې به شوی وی« بلکه هغه څه وکړه چې پخپله څه کولی شې. داپرمختګ دی ، دخوبونو د ریښتیاکولو په لور او بس.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د بون د پوهنتون روغتون د زړه او رګونوځانګه
۲۶ جولای ۱۹۹۸ المان بن

میرمن می د زړه عملیات کړي او زه ورته په کوټه کی ناست یم. د اکسیجن د بوتل شرار دئ او میرمن می د خبرو نه ده. ښاپیرۍ (زما د میرمن نوم دئ) غوښتل چی اوده یا بیده شي نو ما ورته د کاغذ ځپونې په سترګو واچاوه) د ښاپیرۍ دا خوی دئ چی اوده کیږي نو سترګی په ځپوني تړي( چی رڼا بنده شي او ښه خوب وکړي. مانو کلم او کاغذ راواخسته او د افغانستان په جنګ او روغه می په لیکلو پیل وکړ. په همدې وخت کی چی په افغانستان کی د مرګ او ژوبلی په فکر کی وم او ددې په بیان می د کاغذ سپین مخ توراوه نو دې خپل حالت ته می فکر شواو دا فکر می بیا په هیواد کی ځوانانو، پیغلو او ځوانو واده شو افغانانو او میندو او پلرونو ته شو چی زه په داسی حالت کی چی د ښاپیرۍ عملیات د خدای (ج) په فضل ښه تیر شوي ځان داسی حس کوم نو هغه په هیواد کی موچی په هیوادوالو تیر شول اوتیریږي، هغه به ځومره دردونه وو او دا چی لاتیریږي نو دا حالت به څومره دردونکی وي. ځموږ هیوادوال به د څومره ارمانونو سره له دې دنیا تللي وي او د څومره ارمانونو سره به دوي دې بدبخته ژوند ته دوام ورکوي او یا به دا ارمانونه د توپ ، ټوپك او راکټونو ګولیو لاندې فاني دنیا ته د ځانونو سره وړي.

زه غواړم چی دا راپیدا شوی احساس می د هغه عمل په بنسټ وڅیړم چی زه ورسره مخامخ شوم. دابه د پښتنولی یا ځموږ د کلتور سره شاید مناسب نه وي خو زه نه غواړم چی دا زما د پاکی مینی احساس د جهان دویرې یا بهتره د پروپاګندې د ویرې پټ او د ځان سره و هغه جهان ته یوسم . زه ځان ته د خوشال خان خټك د لاندې بیت په بنسټ جرآت ورکوم او ددې لپاره چی ځان راته بی غیرته ښکاره شي ، ځان د ډار څخه ځغلوم.

زه خواشال کمزوری نه یم چی به ډارکړم په ښکاره ناري وهم چی خوله ئی راکړه

ربښتیا چی زه خپل اصل مطلب ته راځم نو خپل ځان لږ معرفي کوم. زه د یوپنځوس کالو یم او ښاپیرۍ د یو څلویشت کلونو، دواړه د پاسپورت له مخی. د ښاپیرۍ عمر خو زیات نه دئ او ځما په عمر کی زه شك نه ګڼم مګر د شواهدو او اسنادو له لور ئی راته نور خلك زیاتوي .موږ دوه اتلس کلن اولادونه لرو چی ځانګه او اباسین نومیږي دوي غبرګوني دي. دا په دي وښایم چی ځموږ د ژوند دوه په درې او د نیمائی څخه زیات تیر شوی او د هغو سره چی ځوانان دې ځانونه نه مقایسه کوو او نه مو د میني احساسات دومره ځوان دي چی د هغو سره ئی د تلي په انډول کی واچوو ( په ځوانۍ کی مینه ځوانه وي او بیا د وخت په تیریدو سره مینه عادت شي چی بی له دې عادت هم ژوند خپل مفهوم لکه په ځوانه مینه کی د لاسه ورکوي). دا چی زه ئی بیانوم نو نسبتآ زاړه احساسات دي نو تاسو فکر وکړئ چی د ځوانو دا د مینی ځوان احساسات به څومره لیوني، ګرم او دردونکي وي.

اوس نو راګرځم خپلی اصلي خبرې ته او نور اوږد په دې احساساتي خبرو د کاغذ په مخ کربښی نه راکاږم .ځما میرمن چی د زړه د عملیاتو وروسته - عملیاتو پنځه ساعته دوام

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکړ او یوه ورځ هم په انتنزیو شتاڅیون کی- د روغتون د زړه او رګونو عادي برخی ته راوستل شوه نو زه ورته د دوه بجو په شاوخوا کي وګوتی ته چی یو نفري وه رانئوتم، د ښاپیری په سترګود کاغذ څپوني پراته وو. ما په ټنډه دوه واره ښکل کړه او د کاغذ ټوټی



می ئی د سترګو لرې کړې. یو ځل می بیا هم چی دې سترګي راوغړولی په ټنډه ښکل کړه او د کټ څخه می لږ فاصله ونیوله. ښاپیری ماته سترګي راوغړولي او غوښتل ئی چی څه راته ووائي خو د زوره ئی پوره نه وه نو په پوره تکلیف ئی په ګوته ایشاره وکړه چی ور نزدې شم . ښاپیری بیا هم څه نه شو ویلی خو په لاس تکړه وه او په خپلو شونډو ئی ګوتی کیښودلې. زه نو باید دستي پوه شوی وی او په خوله می په پوره لیونی مینه ښکل کړه او دستي مي په سترګو کی - نه پوهیږم چی د خوشالی او که د خپګان - اوبه راپیدا شوې(دا راته په دې وخت کی سخته ښکاره شوه چی اوښکی ولیکم، ځکه چی ځموږ په کلتور کی خو د نر په سترګو کی باید اوښکی راونه کرځي) .
ددې لپاره چی ښاپیری پوه نه شي نو د کوټی دستي برنډې ته ووتلم (هره کوټه و شاته برنډه لري او ښه د کښیناستو ځای هم) هلته می د سترګو اوبه داسی ناشکه غونډې وچی کړې چی ښاپیری دا ځما د مینی لیونی شوې اوښکی چی پېټتون ئی باید توي نه کړي ونه ګوري. دا چی دا ټول حالت د طبعي ناروغی باعث او پوره د کنترول لاندې دی، دومره تاثیر لري نو هغه په ګولیو او راکټونو چی لګیدلي او لګیږي، د کومو لپاره چی نه ډاکتر شته او نه روغتون، د هغوي او د خپلوانو حالت خو فکر کوم چی څوك د کلم په څوکه نه شي څرګندولی. دا چی دا سهولتونه دلته ځموږ لپاره شته او دا ځموږ برکت نه دی نو دا فکر- په همدې حالت کی چی د افغانستان د روغي په هکله په الماني ژبه می د المانیانو لپاره لیکنه کوله -نور هم ما سره قوي شوچی داچی انسان یواجتماعي ژوی دی او د اجتماع څخه دباندې ژوند نه شي کولی نو لکه چی دلته نورو ځموږ مسئولیت په غاړه اخستی، موږ هم باید ځانونه مجبور وګنوچی د هیواد دخلکو لپاره چی دا اتلس کاله د راکټو او توپونو ګولیو لاندې مري او یا په ډار ژوندکوي، مسئولیت اخستلو ته ځانونه چمتو کړو.

لکه څنګه چی دا نړی مجبوره ده او افغانانو ته د ژوند امکانات برابروي او دا مسئولیت ئی په غاړه اخستی نو دا موږ افغانان او بیا هغه افغان چی لیك او لوست ئی کړی نو د هیواد د خلکو لپاره پوره مسئولیت لرو، ځکه چی دا ښونه موږ د ملت په پیسو کړې او دا قرض باید ادا کړوکه نه نو دا پوښتنه خو باید له موږ نه وشي.

که څوك غواړي چی د بل په درد پوه شي نو باید خپل درد ته - که څه هم د پرتلې نه وي- متوجه شي.

د هغو هیوادوالو په افتخار چی ځموږ سره یی ځانونه ځموږ په درد کی شریك کړي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زړښت ته

دا چی زه کله کله وایم چی زوړ یم، فکر کوم چی ګوندې دا ټوکی دي او تواضع. داسی فکر نه کوم چی ګوندې زوړ یم، داسی فکر نه شم کولی چی ځواني را څخه تللی، داسی



استعداد زه هم په ځان کی ګورم چی فکر وغولوم. دا استعداد په هرانسان کی شته او هر انسان د خپلی ګټی لپاره د واقعیت څخه خپل فکر ځغلولی شي.

زړښته !

زه له تا څخه نه ډاریږم ، راځه ! زه چی وغواړم تا نه درك کوم، دا تجربه می د کوچنیوالی د ځان سره روزلی چی څه می ښه نه راځي، یا د څه چی ډاریږم هغه جدي نه نیسم، مګر درباندې پوه یم چی ګیر دې یم او خلاصون در څخه نه شته، خو تر څو چی زه د فکر کولو توان لرم او زده کړه کولی شم، ځان هم ځوان احساسوم . دا که زده کړه وي، که د خلکو طبیعت، کتاب او یا د ژوند تجربه وي، فکر ځوان ساتم، ته می ترڅو چی فکر له کاره نه شی باسلی، زه تاته نه تسلیمیږم. که بدن می له حرکته وباسی، لټ می کړې، له منډو رامنډو می وغورځوې، تاثیر دې نه قبلوم، ځکه چی فکر کوم او فکر روزم، تاته نه غواړم چی وخت ولرم، له تا غواړم چی وتختم، بدن می تاته تسلیم دئ مګر کوښښ کوم چی په احساس او فکر می بری ونه مومی.

نه ! داسی نه ده! په احساس او فکر می نه بریالی کیږې، جوارګرنه یم چی تاسره په دي شرط کیږدم خودا ځما له تا سره وعده ده .زه لا خوبونه لرم، د هیواد لپاره، د هیوادوالو لپاره او همدارنګه د ځان او خپل ژوند لپاره، چی ددې لپاره باید ځان ځوان حس کړم او فکر ځوان وساتم او دا قدرت باید ځان کی وبولم چی په دې کړاوونو بریالی کیږم، خوبونه می خوبونه نه پریږدم، ددې لپاره می ډیر وخت تیر کړی، دامی ژوند دئ، ددې د سرته رسولو لپاره ستا په مقابل کی هم مبارزه کوم، تر څو می چی تا فکر له ځوانی نه وي غورځولی، خو زه په دې فکر نه یم چی ګوندې ته به ځما په فکر بری ومومی، ځکه چی ځما فکر له دې هیلو او خوبونو څخه نه شي تیریدلی او ددې هدف په لور به روان وي . که د لاسونو، پښو او نور بدن څخه دا قدرت ووت نو فکر به همدا ناریې وهي چی هدف ته رسیدلو لپاره کلك همت، وایي چی کلك عزم غرونه ړنګوي، نو ته! زړښته ! باید په دې باور ولرې چی ستا زور هم ځما په عزم، خیالونو او خوبونو نه بریالی کیږي چی هغه ځما هیلی دي او زه د هغو لپاره ژوندی یم. فیلسوفان وایی چی: تر څو چی انسان زده کړه کولی شي، ځوان دئ او همدارنګه وایي چی د انسان اخرنی زده کړه مرګ دی. نو ته! زړښته!

ځما په فکر هلته بریالی کیدی شی چی مرګ تا ځما له فکر سره غبرګ خاورو ته وسپاري

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په المان کې د ژوند یوه لحظه    جولای ۱۹۹۳ ع کال

۷۵

د اوړي د رسختۍ ورځ په یوه صافه هواکی د غرمې په وخت می یوه چکر ته زړه وشو. دکور ځخه ووتم. د زیګ خوړ په غاړه مي زړه وو چې وګرځم او د خان سره چرت ووهم. پوهیږو چه که په اروپا کی د ډیر وخت راپه دیخواهم اوسیږو مګر چکر مو ددوي د چکر سره فرق لري. دوي چې چکر ته ووځي نو یا د کار او د کار د موفقیت په فکر کی وي او یا د نورو پرابلمونو په هکله فکر کوي، چې دې تمدن ورسره مخامخ کړي، یا په تیره رسختۍ فکر کوي چې څنګه تیره شوه او یا د راتلونکی رسختۍ په هکله فکر کی وي چې ځنګه باید تیره شي.
مطلب مي دادئ چې ددوي فکر یا د سپورت په هدف وي او یو فکر کوي. دوي چرت نه وهي د خیال په دنیا کی نه غرقیږي، فقط په ریالستي جهان او ریالستي اینده کی فکر کوي. دا چې دریمه نړی ځنګه بد بخته ده ، ددې نړۍ خلك ځنګه په راکټو او توپونو یو او بل سره وژني داد تلویزیون له لارې ګوري.
دوي د خبرونو له لارې دې ته متوجه کیږي چې ځنګه د یو اولس او یو ملت خلك یو او بل سره وژني او بی ګوناه خلك په وینو کې لمبیږي. دوي طبعآ دې بد بختیو باندې ډیر متا ثر کیږي، زړه سوی یی ډیر دئ مګر دا بدبختي د خپل اولس او ځان ځخه لرې ګوري. دا درد چې موږ ئي حس کوو دوي یې نه شي حس کولی.
هغه ځوك چې په راکټونواو توپونو مري، هغه ددوي ورونه وریرونه او خپلوان نه دي، هغه په لرې ځاي کې انسانان دي چې د بد بختیو سره لاس په ګریوان دي، هغه کورونه چې کنډوالې کیږي هغه ددوي نه لرې په یو بل ځاي کې دځه بدبخته خلکو دي .که ددې جهان ورانونکو خبرونو اوریدلو وروسته ددې بیچاره او بیګوناه خلکو لپاره بسپنه وغوښتل شي نو هغه دوي په پوره اخلاص کوي او په خالي وخت کی ددی دردونکو موضوعاتو سره تماس نه نیسي.
په اروپا او امریکا کې خلك په عصري امراضو مري، منځنی ژوند ۷۵ کالو ته رسیدلی او ځموږ د خلکو ژوند دجنګ نه لا دمخه د ځلویښت کالو زیات نه وو. دوي ژوند کوي او موږ مرګ ته منتظر یو. د نازو انا د شعر په اساس که ددوي ژوند د نرګس په ځیر یوه خوله خندیده وي نوځموږ ژوند یوازې د خولی جینګول دي او بس
سحرګه وه د نرګس لیمه لانده    څاڅکي څاڅکي ئی له سترګو څڅیده
ماوې ځه دي ښکلیه ګله ولې ژاړې    ده وې ژوند مې دی یوه خوله خندیده
دا اوس د خپل چرت ځخه ووتلم. پرابلمونه مي سره ډیر یوځاي کړل، ځما اصلي خبره په اروپا او اروپایانو کې نه بلکه په ځان او خپل هیواد کې ده. د انو ځما د خیال په باب ځما وروستي فکر وو چې د سریزې په توګه مې ولیکه او اوس د اخري فکر ځخه و اولي خیال ته راځم .ما دا چکر په داسې وخت کې پیل کړچې ځوي مي په کمپیوتر لوبې کولې، لور مې هم ددرس سره مشغوله وه او میرمن مې مړۍ پخوله چې د پخلنځي ځخه د مسالو بوي خوت لکه د هر افغان په کور کی که د سوپې په پیسو هم ژوند کوي )دلته می مطلب د سوال پیسی دي چې دولت یی راکوي( او که د خپل کار په پیسو، خو د پخلنځي ځخه به د زنکیو اونورو مسالو بوي پورته کیږي .د زیګ د خوړ ځلور خواو ته ډیرې په زړه پورې

(c) ketabton.com: The Digital Library

منظريږ دي مگر موږ افغانان ددي منظرو کتلو ته د خيال او چرت ځخه نه شو راوتلی او ټول چرت مو همغه د هيواد په جنگ اوبدبختيو کې وي. څما هم د نورو افغانانو غونديږ همغه چرت دی چې په هيواد کې مو په شدت راکټ وريږي، بيگوناه انسانان مری، کورونه کنډوالي کيږي او نور افغانان هم بي وطنه کيږي. نو کله سړی د خپل هيواد



دروغي په فکر کي شي او کله سړی داسې ناامیده شي چې گونديږ هيواد مو د هميشه لپاره د لاسه ورکړ. وطن ته د تگ جرآت هم نه شته او امکان هم يا په بل عبارت موږ دا دلته افغانان د مرگ ځخه هم ډاريږو، څکه چې موږ جنگيالي هم نه يو چې پخپله يا په بل چا ځانونه وساتلي شو. زه خو د وژلو جنگ ځه کوې چې د هغه لږ غونديږ جنگی خبرو طاقت هم نه لرم .دا خيال چې سړی ليکي نو کله کله فکر پکې کوي او غواړي چې د نااميدیَ جهان ځخه راووځي او په فکر کې شي: که چيرې د ا د اروپا او امريکا افغانان د افغانستان گاونډيو افغانانو سره يوځاي شي نو کولاي شي چې دروغي لپاره ځه وکړي .په هر صورت ، څموږ د افغانانو چکراو په دې اساس چرت وهل نو سړی نور هم خپه کوي. د زيگ خوږ په غاړه چکر کی گورم چې يود اوبو خالي ځای مې د اونو سره جوښت په سترگو شو.

گټې او شگې وچې او د کښيناستلو وې. ما د ځان سره دستي وپټيله چې دلته په دې گټو کښينه، دا د اوبو ځپې به دې تر يوې لحضې د پريشانیَ ځخه خلاص کړي او فکر به دې ارام شي. داسې ويل کيږي چې ځوك د روانو اوبو په غاړه کښيني ، پښې په اوبو کی کيږدي، د اوبو شرار اوري او ځپو ته يې گوري نو فکر) بهتره چرت ( يې د نوروپرابلمونو ځخه اوړي. دا نو په واقعيت کې داسې ځاي وو چې يو ليکوال او يا بهتره يو شاعر به د يوې ادبي ټوټې لپاره الهام ترې اخستی وی. زه نه شاعر يم نه ليکوال چې د زيگ د اوبو دا نازك شرار د ليلي د گنگرو د شرنگارسره او د اوبو دانازکې ځپی د ليلی د زلفو د ولونو سره تشبه کړم چې يو ښه عاشقانه شعر او يا په زړه پورې ادبي ټوټه ترې راوباسم .

ما ځان بيا دچرت ځخه و يوست غواړم چې بيرته و خپل چرت ته راشم. د زيگ د خوږ په غا ړه په همدې اميد وم چې ارام وکړم او د ا د خيالي دنيا ځخه چي فقط دبد بختي او پريشاني ده وتښتم. يوه لحضه نه وه وتلې ، بيرته مي دې ته رافکر شو چې خيال بيرته د وطن همغو راکټونو او توپونو پسې تللی چې بيگوناه او د خدای)ج( غريب انسانان وربانديږ وژل کيږي چې نه يی دا د خدای)ج( په دا لوي جهان کی ځوك په چرت کې دي او نه يی ځوك غمخور شته او د قاتلانو د توپونو او راکټوخوراك ته بې د کومې دفاع ځخه تسليم دي .موږ نو په داسې مرحله کی قرار لرو چې نه د اوبو دا شرار او نه دا نازکې د اوبو ځپې موږ دې وطن په مينه ليونی شوی چرت ځخه راگرځولی شي. دا فکر دومره ليونی دیَ چی د زيگ د اوبو د رزار او د نازکو ځپو دا زولنې ئې نه شي راگرځولی. ماته په همدې لحضه کې هغه د پښتو لنډیَ را په ياد شوه:

که فکر بند په زولنو کړم چې رانه خلاص شي برابر اشنا ته ځينه.

ډاکتر ماخان ميږی شينواری

## سيستم څه شی دیَ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

اجازه دي وي،چې دا يو وى يعني سيستم، چې ټولپوهيدونی دی، خو بيا هم له تاسو سره کډ روښانه کړم. دي ته له دي امله راوهڅيدم، چې وګورو، دوي يا دا پرمختللي نړی هر يو وی- چې فکرکيږي، دا خوروښانه دی- څومره څيري او روښانوي.

۷۷

سيستم ( زوړ يوناني وىσύστημα sýstēma د ډېرو يوګونو برخو څخه يوځای اينوولشوی ټول) په ټوليزه توګه رابندوړ پيداښتي يا هنري ،، جوړښت،، په نخښه کوي يا په ګوته کوي، چې له بيلابيلو برخو څخه جوړ دی، کوم چې د ټاکلو منظمو اړيکو په بنسټ يو له بل سره د ګډ ټول په څير راوړلکيدی شي.

د دې وی يا کليمي يووااليز پيژند نه شته، ځکه چې د هر مسلک له مخې يې پيژندورکول توپير لري. په دې پسي نو دا مخ ته تللي غونډاله د يوه خوراغټ کډ پروپشوني يا - - ونوالي په موخه يو ذهنيت دی. د يوګونو پارامترونو لاندې روښانه ونه کيدونکي ده.

- فضايي يا / او د يوه سيستم وختيزې پولې کيدی شي د هغه تنيزوالي يا د ټاکلو توانونو له لارې فزيکي روښانه کړای شي يا تشريح کړای شي( ريښتوني/مادي/ ټاکلي سيستمونه) – يا سوچه انديز يا فکري جوړشوي، موخه-چوپړيز ( د موخې په چوپړ کې) پيداښت يا طبيعت وي( اديال يا خيالي/ نه مادي/ نظري سيستمونه).

پيداښتي – يا طبيعي سيستمونه:

ټول پيداښتي سيستمونه په ريښتوني پيښ(ريل يا واقعي) سيستمونه دي، چې د موخه-وري له انسانپيداکوني anthropogenenاغيزې پرته منځ ته راغلي او ځان پخپله ساتونکی يا خپلځانساتونکي دي.( بيلګه: Quantensystem , Atom, Molekül, Lebendes System

( , Zelle, Organsystem, Psyche, Ökosystem, Planetensystem

مصنوعي يا هنري سيستمونه:

مصنوعي يا هنري سيستمونه هغه دي، چې د انسانانو له خوا په کې فکر شوی او جوړ شوي وي. دا کيدی شي مادي يا نامادي پيداښت وي، خو زيات وخت دواړه سره يوځای کوي. د دې په منځ کې سرې (ريښتوني) تخنيکي سيستمونه ( بيلګې: کارالات، ماشينونه، شميرونی( کمپيوټر)) سوسيال يا ټولنيز سيستمونه ( سوسيال ګروپونه، کورنی، نژاد،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولنې، عقيدوي ټولنې) او سوسيالتخنيکي سيستمونه ( بيلګې: معلوماتي سيستمونه، انترنت يا نړيوال جال).

يو ګډوله له پېدېښتي او هنري يا مصنوعي رېښتوني سيستمونو بيوتخنيکي سيستمونه ( بيلګې: مالساتنه او مالروزنه، پاکې جوړښتونه( کاناليزايشن)، مصنوعي زړونه) او



سوسيال ايکولوزي سيستومونه انځوروي (بيلګې: کلتوري کرنيزي ځمکې، ساتنچاپيريالونه)

-- مادي سيستمونه هر يو يې د خپل ډول له مخې د هغه د چاپيريال په ښکاره - ، بند – او رابند سيستمونو وېشل شوي. سيستمتيوري د بنسټتوپير لرونکو سيستمونو جوړښتډول او خوزښت يې د څېړنې لاندې نيسي.

نامادي يا ناشييز سيستمونه ځانله او ځانله مصنوعي جوړشوي، فکري سيستمونه دي، چې بې له انسانه ،، ټيله شوي،، له لارې کوم ديناميک نه راپيداکوي او شتون يې د مادي سيستمونو په واک کې دی(بېلګې: د کلمو سيستمونه، کواوردينا‌تسيستم، د اکسيومونو سيستم، مودلې او تيوري).\

د يوه سيستم جوړښتوټي( توکي، برخې) داسې ټاکلکيږي، چې يو له بل بيلابېلي يا رابندې، بېلابېلي دندې يا پوښتني په سيستم کې پوره کړي. په ختّه کې هر په خوښه رېښتونې( ستورو، ونو، غړو، جوړښتبرخو) يا فکر پرې شووالات ( غړونه، نخښې، زېږندې، سيمبولونه) د يوه سيستم برخه کېدی شي.

يو سيستم کړی شي برخسيستمونه ولري او هم پخپله د يوه پراخ سيستم(Supersystem) برخسيستم وي.

زه خبر شوم، چې د نومبر په ١١ ، ٢٠٠٦ ز کال په بلجيم کې د ننګيال په وياړنه يوه ورځ لمانځل کيږي، نو ما دا ناوخته ونه ګڼله، چې دا ليکنه، چې پخوا مې د ننګيال د مرګ د لمانځنې په هکله د کولن ښار کې لوستې وه ګرانو هيوادوالو ته د لوستلو لپاره وړاندې کوم٠

## د شاعر غوره والی

د مرحوم ننګيال د مرګ په درنه غميزه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

المان ، ۱۸ . ۵. ۱۹۹۸ ډاکتر ماخان میرې شینواری

درنو میرمنو! !ښاغلو! او ګرانو هیوادولو!

د هرڅه له مخه، هیله ده چی ځما سلامونه ومنئ .دا چی زه نه شاعر یم، نه لیکوال او سره له دې هم ځما خبرې چی ځمونږ د هیواد د نامتو او ځوان شاعر مرحوم ننګیال د

۷۹

مرګ د غمیزې په هکله، چی ځوان راڅخه لاړ او یا»اوس دنیاته راغی«، اوری، د زړه له کومي خوښي کوم.

دا وینا چی د مرحوم ننګیال د مرګ په غمیزه کی کوم، که د فرهنګیانو او شاعرانو په څیر د لوړ فکر او ژور خیال نه وی راوتلي، نو د یوه شمیرپوهنې یا ریاضي مسلکه په څیر د لیوني فکراو ترور خیال خو ضرور راوتلی چی سملاسي به ترې دا نتیجه راوباسئ. دا چی زه په دې ستره غمیزه کی شوونی ونډه لرم، ددې ځوان شاعر ژوند او دده په زړه پورې شعرونو دې ته نه یم راهڅولی .

زه چی خبر شوم چی د مرحوم ننګیال د مرګ په هکله د غمیزې ورځ د » افغانستان کلتوري ودې ټولنه« ددې شاعر په یاد، د شعر او ادب په رڼا کی، یادوي، د دې لارې د دې سترې غمیزې له امله خپله خواخوږي هیوادوالو ته وړاندې کوي، نو لږ د چرت سره مخامخ شوم او دا د تشویش په شکل چې دې تشویش په دې غمیزه کی خپله فعاله برخه اخستلو ته راوهڅولم .

هر انسان ځانګړی مخلوق دئ نو فکراو علایق یی هم یو د بل سره توپیر لري. ځما زیاته علاقه د ورځنی پیښنو سره ده، نو له دې امله ماته فکر ودرید، چی ځمونږ په هیواد کی خو د وینو رودونه روان دي، د خلکو په ګریوانونو - که څه هم انارښي له منځه تللی - اوښکی په سیلاونوتوییږي، هره ورځ مو په شهیدانو هدیرې ډکیږي، د کونډو یتیمانو چغی مو اسمان ته خیژي، چا یی د نومولو او نا نومولو نوم په دې ډول وا نه خست، نو دا څنګه خبره ده چی د شاعر د مرګ غمیزه دې داسی په یاد شي؟

ما له ځانه پوښتنه وکړه چی ایا شاعر د نورو انسانانو یوځانګړی مخلوق دئ چی د مرګ په یاد یی شاعران او ادیبان د شعر او ادب په دنیا کی ژاړي؟

زه دې تشویش مجبور کړم چی فکر وکړم او لاملونه یا علتونه یی وڅیړم. مجبور شوم چی کوښښ وکړم خپل لید تیز او ژور کړم. دا فکر او خیال می چی هرڅومره د خیال په دنیا کی ځغلاوه اوددې ورځی د ویر ټول اړخونه می څیړل نو د ځان څخه می وپوښتل چی ځما لپاره نو شعرڅه ترپیوهیدنه یا مفهوم لري؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ایا دا شعرونه ځما د ژوند په خیالاتو کی ځانګړی ځای لري او که همداسی خبرې دي چې په رنګینه کلیمو کی ویل شوي، په خپله لار ځي او که په ما کومه ځانګړې روحي اغیزه لري؟

زما په نظر په هرڅه چی څوك قضاوت کوي نود هغه شي اغیزمنتوب باید اول په خپل ځان وڅیړي. زه احساساتي یم ، د احساساتي شعرونو د تاثیر لاندې زیات راځم، په دې اساس می د خپل احساس د نورو‌انسانانو د شاعر د ځانګړتوب پوښتنه وکړه.



ددې لپاره چی دا راو سپړم مجبور شوم چی د فکر تیغ د مغزو په سوان تیره کړم، د شاعر د تیز لید فکره راوتلي شعرونو لړمون راوسپړم چی د شاعر د یار د خیاله دا د غمه شین زړه په تیز لید وڅیړم. د شعور دام د احساساتو په اعصابو وپیلم، د شاعرد ژور لید شعرونو دریاب ته واچوم چی د شاعر په مسته مینه لوي شوي کبان د سین له ژورې راپورته کړم او یا راپیدا تشویش لامبووهونکی کړم چی د شعور په رڼا کی د شاعر د شعرونو ډنډ کی غوپه شي، هلته د شاعرانه خیال او احساساتو صدف له سیني یو څو د شاعر د مینی مرغلرې راوباسي . دا لاس ته راغلي د شاعر کارنامی د اخلاص، مینی او نیکو احساساتو په بنسټ، د سپین کاغذ په پاك مخ د خیال په قلم د زړه د وینو په رنګ د مرحوم ننکیال دروح لپاره یود ګلونو امیل انځور کړم او خپلي د مینې مرغلرې پرې وپاشم .ځما دا اوړد فکر او خیال په سره سینه خوږه مینه او ستره حوسیله د نیکو هیلو په ډالۍ کي د هیوادپالو شاعرانو په افتخار، نه د شاعرانو غوندې کلیماتوکي چی دشاعر د پاکی مینی او نیکو احساساتو مرغلروامیل کی پیبیل شوی، غواړم ستاسو ګرانو هیوادوالو ددې سرې سینی او د خیالاتو غاړې ته چي ځماد سرګردانی میني او لیونیو احساساتو- نه په مرغلرو- اقلاً په مشکنو پیبیل شوې امیل واچوم. ددې لپاره چی شاعر د نورو توپیر کړو نو یو ځو مسلکي خلك څیړو.

وینسټن چرچل ددپلومات په هکله وائي: »ښه دپلومات هغه څوك دی چی څه نه وایی دوه واره فکرکوي«.

سیاستوال هغه څوك دی چی پرابلمونه پیداکوي، بیا ددې پرابلمونو اوبیلارې یا د حل لارې پیداکولو په اساس خلك ځان ته رابولي او طبعاً د قدرت لیونی دی، پاچاهي غواړي.

فیلسوف هغه څوك دی چی د هر شي هر کړکیچ او هرې پیخی په علت پسی ګرځی او ریښی یی څیړي. فیلسوف همیشه په دې فکر دی -په ساده ډول ئی وایو- چی ایا هګۍ مخ ته ده او که چرګه؟

یعنی دیَ د مادې او معنی په دریاب کی غرق دیَ۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د  اروابناد ډاکتر ستوري په ياد

ډېرې درنې اغلې مېرمن ستورې ( خانې خور)، په پښتنو مين زمونږ دروند مشر محمد افظل خان  خان لالا( چې د لرې پښونخوا څخه راغلی، ښه راغلاست) ، د پښتون ټولنيز اولسوليز ګوند د مشرانو د جرګې غړو ډېرو درنو اغلو او ښاغلو!

٨١

اروابناد ډاکتر کبير ستوری د ممتازو  شاګردانو په ډله کې د رحمان بابا له ليسې څخه جرمنی ته ر اغی٠ ما دا  بخت لروده، چې ما او ده د رحمان بابا له ليسې څخه را په ديخوا سره  پيژندل او د اتريش او المان افغانانو ترمنځ هم اړيکی پوره شته وې.

 دا دې په ګوته وي، چې مونږ څو افغاني زده کړي اتريش ته لاړو ، دا چې  په المان کی د افغانانو ډله زياته وه،  نو  مونږ به په کال کې  څو واره د ټولنو ګډوغونډو لپاره المان راتللو.

په المان او اتريش کې د افغانی زده کړو ټولنی جوړې شوې مونږ  په اتريش کې د  ١٩٦٧ ز ک په پيل کې ټولنه جوړه . دا افغاني ټولنې  بيا د اروپا سراسري ټولنې کې سره يوځاي شوې، يانې په ګډه مو يوه اروپايې  د افغانانو سراسرې ټولنه منځ  ته راوسته او ګډ کار ته مو دوام ورکړ٠

په دې ټولنو کې د اروابناد ډاکتر ستوري ونډه غوره وه٠ د دې ټولنې پسې بيا په المان کې د پښتنو  او بلوڅو ټولنه جوړه شوه، چې ددې ټولنې په جوړيدو کې  همې  د ډاکتر کبير ستوري  ونډه بنستيزه وه او په وروسته وختونو کې بيا د ډاکتر کبير ستوري په نوبنت د پښتون ټولنيز اولسوليز ګوند بنسټ کيښول شو، چې دی يې تر پاي مشر پاتې شود ډاکتر کبير ستوري سره زما  ناسته پاڅه  له هغه وخته، چې زه په ١٩٨٨ زک پيل کی المان ته راغلم نوره هم ژوره شوه٠ ما په هرڅه کې د اروابناد ماما سره مشوره کوله، چې خورا ګټوره به وه٠ مونږ يو بل سره د الماني لغاتو په ژباړه کې هم پوره ګډې خبرې درلودلی او هڅيدو، چې الماني لغاتو يا وييو ته اړونده پښتو وييونه يا لغاتونه پيداکړو٠ دې ته اړتيا وه، ځکه چې مونږ دواړو  په پښتو ليکنی کولې، چې رانيووني يې الماني کتابونه وو او کله کله به کډ سوچ ته اړ کيدو٠

موخه  په پښتو پوهنيزې ليکنې وې موخه دا نه وه، چې ګوندې پښتو دې سوچه شي، چې دا کار شوونی هم نه دی٠

اروابناد ماما ته هم دا روښانه وه، چې ژبه سوچه کيدی نه شي٠ ژبه پوهنيزه کيدی شي، چې دا موخه بايد د هر پښتون وي٠ او د پوهنې  پښتو کېدنه يا په ښه توګه : پښتو پوهنيزه کېدنې څخه موخه د پښتو ساده کېدنه يانې پرې زر پوهېدنه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ارواښاد ستوري به ویل، چې که د بوې نوموني لپاره به ځو الترناتیو شته وو، نو ده به بیا په کور کې پوښتنه کوله، چې په کوم وي(لغات) په کور کې څوک ښه پوهیږي، نو بیا به یې همغه نوم ټاکه.

۸۲

ارواښاد ډاکتر ستوري د پښتوژبې په نړۍ کې ځای لرلو لپاره دلته المان کې هم زیاتې هلې ځلې کړې او په دې بریالی شوی، چې په المان یا کم له کمه په نورد راین وستفالن کې پښتو د دوهمې همداسې دریمې ژبې په څېر و پېژندل شي. د پښتو ازمویني اروا ښاد ستوري پخپله اخستلې خو دده له ناروغې لږ د مخه یې د دې دندې سر ته رسولو لپاره ، زه اړنده ځای ته ور وپېژندم ، چې زه دا له ده ماته را پاتې دنده هم په پښتني مینه سرته رسوم.

پښتو یوه وروسته پاتې ژبه ده، د یوقوم ژبه ده، چې په پوهنه کې وروسته پاتې دی یا وروسته پاتې ساتل شوی او دا ګوناه مو هم خپله په پښتنو اچوله.

ارواښاد ډاکتر کبیر ستوری په پښتو او پښتنو مین وو، خو دې دا مانا نه لروده، چې ګوندې لوی څښتن دې ونه کړي، د بلې ژبې یا د بل قوم په خلاف دې څوک و اوسي. په خپل حق ودریدنه او د بل د حق ساتنه موخه وه، نه د بل د حق څخه څه کمونه.

ارواښاد کبیر ستوري او زموږ نورو افغانانو، چې ګډ او د ګډو هدفونو لپاره د هیواد څخه دباندنیو هیوادونو ته راغلی وو، چې زیات یې همدلته تراوسه پاتې کیدو ته اړ شو، هغه هیلې مو چې لرودې، په هغې لار کې د هېواد د ستونځو له امله هغه هیلې مو سر ته ونه رسېدې، خو د ډاکتر ستوري د هیواد او هیوادوالو سره مینه کې کموالی نه دی راغلی.

ارواښاد ډاکتر ستوري په شعر او ادب کې د خپل زړه د ژورې هیلې څرګندونې لار لیده او برسیره پردې یې خپله مینه د خپل کار په څلوردیوالي کې وښووله او هغه د دا ډاکتر ستوري پوهنیزې څیرنې او لیکنې دي، چې ده خپل پښتون قوم ته پریښوولی، چې دا یې د قوم سره د ژورې مینې څرګندونه هم وه.

ارواښاد ډاکتر ستوری یو کلک په پښتون او پښتو مین افغان-پښتون وو. دی په خپله خبره تل ولاړ وو، خوداسې نه چې ګوندې بل چا ته یې غوږ نه ایښوو، ارواښاد ستوری د سړې سینې خاوند وو او هیڅکله په سیاسي خبرو کې نه خوابدی کیده، د نورو خبرې یې په سړه سینه اوریدلې او خپل اند باندې، چې ورته ښه بریښیده کلک ولاړ وو. ستوري د پښتو او پښتنو سره مینه لروده، چې دا د ده د کړو وړو، لیکنو او شعرونو څخه پوره روښانه ده. ده که د مینې شعر لیکلی، که د سیاست او یا بل کوم ټولنیز شعر، د خپل شعر

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاي يې د پښتو او پښتنو سره په مينه پاي کړی. ده خپله مينه د پښتو او پښتنو سره پټه نه ده ساتلې او دا يې تل په ښکاره ويلي.

اروابښاد ډاکټر ستوري د پښتنو سره، چې د هېواد پرېښوولو ته اړ شوي او دلته المان ته راغلي د هيڅ ډول مرستی څخه دريغ نه دی کړی. ده اروابښاد نزدی ټولو پښتنو ته د



سياسي پناه ورلو په هکله تصديقونه ليکلي، او د هغو سره يې نورې مرستې کړي، دا چې اروابښاد ډاکتر ستوری، ساه پوه وو، نو د آړتيا په وخت کی هر پښتانه ته ده، د اروابوهنی له مخی تصديقونه ورکړي، چې دلته ورسره مرسته وشي او د بيوروکراتيکو ستونځوبيو ( د ستونځو حل ) لارې ورته وازې شي.

ډاکتر کبير ستوری، څوکاله راپه دې خوا ناروغ وو، خو په ده کې چا د ناروغۍ نخښې نه ليدلی او ده دا نه ښوولو، چې ګونډې داسې دې ناروغه وي. دی د خپلو هيلو څخه ونه غورځيده او د خپل مرګ د وخته پورې يو ټولنيز پښتون پاتې شو او په مينه کې يې د پښتنو او پښتو سره کمی نه حص کيده. د ده په هيلو د ده ناروغي بريالی نه شوه.

ډاکتر کبير ستوري په سياست کې د ستر پښتون غفار خان بابا لار غوره کړې وه اودا يې د ليکنو څخه هم روښانه ده.

ده اروابښاد ډاکتر ستوري په مرګ هم همغه د بابا لار ونيوه او د همغې لارې د خپل کونړ مړستون ته يوووړل شو او هلته په پلرنۍ مړستون کې خاورو ته وسپارل شو.

زه او زما مېرمن به چې د اروابښاد ستوري کورته لاړو، نو بېرته کورته به ده خپل اولادونه نه پرېښوول، چې موږ کورته راوړي. موږ به اروابښاد ماما پخپله کورته راوړو، که موږ به ورته هرڅومره وويېل، چې دا ستونځې دې دی په ځاو نه راولي، خو زموږ د زړو درنښت د ملګرتوب په بنسټ ورسره ډېر زيات وو لوي څښتنو دې دهه ته اجرونه ورکړي.

اروابښاد ستوری ملګری پښتون وو ، ملګرتوب يي د پښتنو سره ټينګ وو ، د ژبې لپاره د قوم لپاره او د قوم د يووالي لپاره. دده ملګرو هم لکه خان لالا ده ته خپل ملګرتوب له ژوند وروسته وښود. د اروابښاد له جنازې څخه نيولې تر د پېښور وروستي سيمينار پورې او بيا دا اوس چې له پښتونخوا څخه دلته جرمني ته راغلی، دا په پښتنو مېړن مشر دی او موږ د خان لالا دې بېساري درندو کتلو ته په ډېرو درنو سترګو ګورو، د لوي څښتن څخه دده لپاره اوږد ژوند غواړو او ښه روغتيا، چې د پښتون - افغان او د لوي احمدشاه بابا د لويې پښتونخوا په چوپړ کې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اروابښاد ډاکتر کبیرستوري یو سیاستوال، ادیب، لیکوال ، شاعر، د پښتنو ټولنیز اولسولیز ګوند مشر او بنسټ ایښوونکي له موږ و تلپاتی نړی ته صفر کړی۰ د ي پښتانه ستوري ځمکه پریښوولي لاړ اسمان ته وخوت دا ستوری پورته ځلیږي او موږ پښتانه په خپلو پوهنیزو ، سیاسي او ادبي وړانګو روښانه کوي۰ ډاکتر ستوری له موږ څخه لاړ خو دی تراوسه زموږ په زړونو او اند کې له موږ سره دی او وي به.

۸۴

زه به په خپل اندیز ملګرتوب کې د ډاکتر کبیر ستوري همغسي ملګری پاتې شم او دا د پښتو پوهنیزه کیدني لار، چې زموږ د دواړو لار هم وه ، په هغې به همداسې سیخ روان پاتې شم۰

لکه څنګه چې دی ناروغی ته نه تسلیمیده او تل د خپلو هیلو په لار روان وو، زه به هم همداسي تر هغې دا زموږ ګډې هیلې ساتم، که زړښت وي او که ناروغتیا هغوی به ما هلته له خپلو هیلو او غوښتنو وغورځي، چې دا زړښت او یا ناروغتیا ما ـ لکه څنګه، چې اروابښاد ستوری- د ځان سره غبرګ خاورو ته وسپاري۰

ګرانه ماما! زه بیا بیا زما له لورې زما د ټولې کورنۍ له لورې د لوی څښتن څخه ستا لپاره د فردوس جنت هیله لرم، چې تابه د پښتنو جنت باله.

لوي څښتن دې ستا لپاره په تلپاتې نړی کې هم دا ښکلي کونړونه جنتونه، جنتونه ګل او ګلزار وګرځوی۰

ستا تل پاتې ملګری ماخان میړی شینواری

## د اروابښاد ډاکتر اسد بها په یاد

ماخان شینواری جرمني

د ۲۰۰۵ ز کال د سپتمبر په ۲۰ سهار مړی څخه وروسته شمیرونی( کمپیوتر ) ته لاړم او د بینوا ویبپاڼې ته ننوتم۰ لومړي څه مې چې سترګو ته راغلل د اروابښاد اسد د ځنازې خبر وو، خدای (ج) شته، چې نور د ویبپاڼی له کتلو ووتلم، شمیرونی مې بند کړ اوراپورته شوم ۰ میرمن ته مې وویل، چې زه دباندې ځم او لږ ګرځم، زما د میرمن ښاپیری سره هم تشویش پیدا شو ، ویل یې چې څه شوې، چې ویبپاڼی ته لا سم ننوتی نه یې او له کوره وځې؟ ما ورته وویل، چې زړه مې تنګ دی، داسی لږ غواړم د باندې وګرځم، که ته ځې هم راځه۰ موږ دواړه یوځای ګرځیدو ته ځو، نو دې هم د ګرځیدلو نیت وکړ او له کوره ووتلو، خو ما څه نه ویل او دې به راڅخه تل پوښتل، چې یو څه خو شوي۰ ما ورته ځواب نه ورکاوه او ورته ویل مې ، چې همداسي مې زړه لږ ناارامه دی، خو دې دا خبره

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه منله. په همدې مهال چې مور کرځیدو، زما ټول خیال او فکر د اسد په مرګ کی وو او هغه پخواني وختونه مې همداسې له سترګو تیریدل.

مور ، چې له کابل څخه د خدای (ج) مې دې غاړه نه نیسی د ۱۹٦٦ ز کال د سپتمبر په ۱۹ له افغانستان څخه د اتریش په لور الوتکه کې را الوتو، نو هغه د الوتکې د الوتو ټکتونه مو د کرتی په کینې دباندې جب کې داسې نیغ ټومبلي وو، زمور د ټولو مخ څیرې له یوې خوا نا ارامه او له بلې خوا لږ خوښي بریښیدې، دوه بیز احساس وو. له هیواده او



ملګرو بیلیدل خورا ګران وو، مګر د لوړو زده کړو لپاره چیرته تلنه یو پوره د خوښۍ کار هم وو.

زه چې د ښاپیرۍسره په لار ځم نو دا یادونه همداسې یو په بل پسې رایادیږ، چې دلته به د لیکنې توان ونه لرم، خو پل په پل د ده سره هغه ګډ ژوند رایادیږي، چې مور سره تیر کړی وو. اسد یو ډیر مهربان ځوان وو. د خپل ژوند په اوږدو کې مور له ده څخه داسې سخته خبره نه ده اوریدلې او تل یې د ملګرو پوره درناوی کاوه، چې هغه درناوی په درناوې بیرته ورګرځیده. اسد زیات خواریکښ او په پام سړی وو. درس یې په پوره مخکیوالی سر ته ورساوه، دی زمور له ډلې لومړی وو، چې درس یې پاې ته ورساوه او دا هم باید ووایم، چې هغه اخربال یې زه وم، خو لکه څنګه، چې دوې په ما خپه کیده زه هم د هریوه په د درس پاې ته رسونې باندې خوښیدم، له ما سره کوم داسې د منفي رقابت خو ی نه وو.

لکه د مخه مې چې ګوته ورته ونیوله اسد په هیواد او هیوادوالو مین افغان وو، ټولنیز خوې یې وتلی وو، په اتریش کې د افغانانو د ټولنې وتلی افغان وو او افغاني کلتور باندې مین، چې هلته یې د نورو رسمی کارونو ترڅنګ افغانانو ته پښتو درس هم ورکاوه.

په لار روان یو، ښاپیرۍ ته د دې د پوښتنې ځواب ټیک نه ورکوم، ځان ترې تیروم. وخت په وخت د اسد نورې خبرې راته را یادیږي، چې په همدې وخت کی د ده یوه بله خبره رایاد شوه، هغه یې ما د ده لور ډیوې ته هم بیا له ډیرو کالو وروسته په اتریش کې وکړه. ډیوې راته وویل، چې پلار مې له تا یادوې او دا ټوکه یې ورته کړې وه، چې زه یې اوس کوم، خو له مایې هم هیله وکړه، چې ورته تکرار یې کړم

له دې دمخه باید د اسد د هیواد او پښتو سره مینی ته بیا ګوته ونیسم او هغه دا چې د اسد میرمن اتریشۍ ده، لور یې په اتریش کې ژوند کوي. اسد خپلې لور ته د پښتو خبرو برسیره دپښتو لیکلوست هم ورزده کړی، چې دا کار یو ځانګړی کار دۍ. دلته د هیواد څخه د باندې ډیر کم پښتانه دي، چې خپلو اولادونو ته د پښتو خبرو ترڅنګه د پښتو لیکلوست هم ور زده کړي، زما په ګډون، چې لور ځانګه او ځوی اباسین مې په پښتو خبرو ښه پوهیږي، خپله هم هغه شینواري پښتو باندې غږیږي، خو لیکلوست نه شي پړې کولی. د اسد لور ډیوه همداسې په وردګي غږیږي لکه اسد اوبیا مې ورته هغه نکل پیل کړ.

مور چې اتریش ته لاړو په مودلینګ کې مو ژبه لوستله، چې د اتریش یو خورا ښکلی ځای دی، د غرونو په منځ کې پروت او له ښو ځنګلونوډک دۍ، چې د ګرځیدا لپاره هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکلی ځایونه لري٠ موږ له څو ورځو وروسته په یوه کافي کې کښیناستلو ، چی څه وڅښنو٠ هر چا یو څه راوغوښتل، د ده څخه چی د کافی ښځی وپوښتل، چی څه څښې؟ اسد ورته ووې، چی : کوکو٠ له یوې خوا خو په الماني نه پوهیدلو او له بلې خوا خو د وردګو ژبه هم داسې لږ بل ډول اوریدله کیږي٠ د کافی ښځی بیا و پوښتل، چې وبخښنه څه غواړی؟ دیبیا ورته واې، چی زه وایم: کوکو٠

ښځه لاړه او هرچا ته یې هغه غوښتل شوی څښاک راوړ او ده ته یې مخ ته د ککو پیاله کیښوله، اسد خدای بخښلی ورته وایې ، چه: زه خو دا نه غواړم ، دا څه شی دی ؟ ریښتیا

٨۶

چی موږ ترهغې ککو نه پیژانده٠هغه ښځه ورته وایې چې تا خو ککو غوښتی وو او ما ککو راوړ٠ دی ورته وایې چې زه خو کوکو غواړم او هغه بیا ورته وایې ، چې دا ککو دی، نو موږ هلته زر پرې پوه شو، چې دا دوردګی لهجې ستونځي دي، چی الف څخه هم وو جوړوي، ورته فکر مو شو او هغی ښځی ته یا کوم یوه وویل ، چې دی خو کوکا غواړې او نه ککو٠ او یا کوم بل چا هم کوکا راغوښتلې وه، چی اسد هم بیا ورته ګوته ونیوله٠ هغی ښځې بیا ورته کوکا راوړه٠ نادیه ډیوې هم بیاله موږ سره غبرګ وخندل٠

په لار راون یو، ماته د اسد سره یوځاي ژوند رایادیږي، او میرمن می بیا بیا راڅخه پوښتنه کوي، چې زما ځواب بیا هم ورته روښانه نه وو٠ باید دا ووایم، چي ښاپیری هم په اتریش کې د اسد او ټولو افغانانو سره ښه وخت تیرکړی وو او پوره د یوه فامیل د غړو په څیر وربانديې ګران هم وو٠ زه پوهیدم ،چی ښاپیری وربانديې ډیره خپه کیږي٠ ریښتیا اسد له موږ کره پروسږ کال اوړي کی راغلی وو٠ زموږ کور ته راغلی وو، زما لور ، ځوی او ښاپری ورته پوره خوښ شوي وو، خو ښاپیری ماته بیا وروسته وویل، چی اسد ناروغ دی او زیات خراب شوی٠ دا تشویش له موږ سره تل و٠ زه په دې وخت کې چې اسد موږ کره راغلی وو افغانستان کې وم٠ دا اخر وار ، چی اسد ناروغ شو ما ورته تلفون وکړ، دا چې اسد ته خبرې ښی نه وې خو زړه یې ډیرو خبرو ته کیده او وتوانیده، چې له موږ ټولو سره وغیږي او پخواني یادونه سره راژوندي کړي٠

زه په خپل خیال کې له اسده سره روان وم او زموږ د هیلو او غوښتنو خیالات رایادیدل٠ ما نو په خیال کې ورته وویل: اسده تاخو له موږ ځان بیل کړ خو باور وکړه، چې داسې دې نه پریږدو، موږ هم در روان یو٠ ته ستا د زیاتو هلو ځلو سره سره، د پوره هیلواو ارمانوو سره، چی د ځان هیواد او هیوادولو لپاره دې لروده له موږ ولاړې، د هیواد او هیوادوالو ته د کار او مرستې په هیله٠ تا د خپل هیواد د ابادی د رڼا راتلل ونه لیدل، خو باور وکړه، چی که زموږ په هیواد د لمر څرک راوخوت او دا د جنګ او ناتوانی، توره تیاره یې پسې واخستله، نو موږ به بیا په تا دا زیری وکړو، خو ګومان کوم، چې له همداسی هیلو او ارمانونو سره به موږ هم ستا په لار – چې د هرچا لار ده- درشو، بې له دې، چی په تا د هیواد او د هیواد د خلکو د هوساې او بې جنګ او وژنی ژوند زیری وکړو، او تاته ووایو، چې خدای(ج) زموږ په هیواد نور رحم وکړ او د جهالت توره تیاره یې زموږ له خونې په ابد وځغلوله٠ ماته په همدې چکر کی او همدې د اسد سره خبرو په ترځ کی هغه د یوه المانی جنرال خبره راپه یاد شوه، چې یوه ژونالست پوښتنې ته یې په ځواب کې وویل: په افغانستان کې به هلته روغه راشی، چې دا اته کلن کوچنیان قدرت ته ورسیږي٠ دا خبره یې ماته هم تر پوره کچې ټیک بریښی او دا ډیر وخت دی٠ په همدې

(c) ketabton.com: The Digital Library

تنګ کې وو، چې د ښاپیریزړه ارام نه کاوه او بیا یې همدا پوښتل، چې په تا څه شوي، هرو مرو څوک مړه دي، که نه ته خو داسې نه وې. که هرڅه وې ماته یې ووایه، نو د پوره یو ډېر وخت همداسې چپ کرځیدلو وروسته مې لیمو ونه شوکړای، چې له سترګو د اوښکو مخه ونیس او نه مې زړه نور وتوانیده، چې له چغو ځان تم کړي، نو له ... او سترګو اوبه رواني شوې او ښایری ته مې وویل، چې اسد مړ دی. دې هم راسره غبرګه په چغو او ژړا پیل کړ.

٨٧

د اسد په ژوند د ده په ښه کړو وړو مو په ژړا ژړا په اسد او د ده په کورنۍ خبرې کولې. او سملاسي مو نیت وکړ، چې ځنازې ته به یې وین ته ځواو اخرۍ درنښت به یې کوو.

مور ځوانان وو هیلي مو لرودي د ځان لپاره د کور لپاره اوهمداسی د خپل هیواد او د هیواد د خلکو لپاره، چې له درس ویلو وروسته به دا یا هغه کوو، خو ژوند داسی د عجایبو ډک دی، چې د چا په خوښه نه دی. د قسمتونو ډک دی، داسی تیریږي، چې تیریږي.

دا به زموږ په اولس د خدای(ج) امر وي، چې ستا غونډې هیوادپالی هیوادوال له موږ اخلي

موږ ستا ماخان او کورنی یې، ګرانه اسده، ستا روح ته دعا کوو او ستا لپاره د لوي څښتن څخه د جنتونو په هیله یو. ستا روح دې ښاد وي.

## شاعر نو څوك دی او شعر څه شی دی؟

شاعر هغه څوك دی چی د خپلو پاکو او د خلکو په مینه لیونیو احساساتود انسانانو په زړونو کی د بد بختیو او ظلمت بل اورد اوښکو په باران مړکوي.

شاعر د خپل شعر په څپو کی د هیواد د خلکو د وینو بهیر کی د اولس په وجدان د غمګینو بیتونو تیره ستن چوخوې چی د خوبه راپورته شي. احساسات راپاروي، د ظلم او تیري توري تیارې او ناولي بدن څخه د شعر په ډیوو تیاره پرده لرې کوي او خلکو ته دا ټولی ناکړنې د زړه په وینو د کلم په څوکه تمثیلوي. شعر نه په ښوونځي تړلی نه پوهنتون، شعر کار او شغل نه دی، مسلك نه دی، شعر د ژوند رقم دی چی دا د ژوند رقم د شاعر ځانګړوالی دی. شاعر ملنګ دی، لیونی دی، د خدای د خلکوپه مینه مست دی اودا افتخار لري چی څوك یی دې د مینی په لیونتوب اوڅیرې ګریوان نه خاندي. شاعر کله لیونی، کله د یار د روضی ملنګ خواصلاً په خپل خیال کی پاچا دی او په عمل کی د هر قدرت په مقابل کی بی پروا.

شاعر هغه په مینه مست دی چی د الله په ځای یي لیلی خولی ته ورځي، او ملا یی چی وایي د هغه سره دوزخ له ویرې دا جنت نه پریږدي. شاعره داسی نازکه او تیز خیالی ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

چی د نرگس له سترگو چی ژوند یي یوه خوله خندیده دی ځاځکی تویوي. شاعر د خلکو سره د ظلم، تیرې او د خلکو د بدبختیو بیان په داسی احساتي او غمگینوکلیماتو کوي چي په دې غم ځمکه لړځوې، د تیگو زړونه چاودوي، د اسمان څخه کوکارې وباسي وریځی داسی ژړوي، چی په اوښکو ی، چی د غرونو په گریوانونو تویږي، خوړونه، دښتی، رغونه او درې بحراني کوي چی د ظالم د ظلم برجونه په لاهو کړي.

۸۸

شاعر هغه څوك دی چی د قوم سره تیري باندې د شعر داسی اوسیلی وباسي چی سمندر طوفاني کوي او په هغه کی د ظالم کیشتی غرقوي.

شاعر د یار د وصل لپاره په اغزو کی ځی او د پښو د وینو څخه د یار لپاره د سروگلانو غونچه جوړوي. د یار سره د وصال په وخت کی ددې لپاره چی شاعر د دیواله سیوري ته په تلو مجبور نه شي سپوږمی له حیا خپل سپین مخ د ځمکي په توره پرده پټوي، بلبلان ورته د مینی سندرې وایی اود مینی په مستۍ د اسمان ستوري په نڅا راولي. د یوې خوا د یوه شاعر او دبلی خوا دداسی شاعر د مړینی د سترې غمیزې یاد په فرهنگیانو، شاعرانو او حتی ځما غوندي خلکو چی د شعراو لیکوالۍ سره پخپله کومه اشنایي نه لري فرض دی، ځکه چی شعر همیشه د انسان سره مل دی، شعر وخت نه لری نو په دې اساس شاعرمرگ.

داسې شاعران د اولس د خلکو په زړونوکی د تل لپاره ژوندي وي.

جورج کریستوف لینتنبرگ وایي:

،،اکثره شاعران له مرگ څخه وروسته جهان ته راځي،،.

## او لیکنې د ډاکتر ماخان میرې شینواري کتابونه یا ژباړې

د ډاکتر ماخان شینواري پوهنیز کارونه، ځانگړي دي، دا په دې مانا چي د نورو پښتو لیکنو سره د پښتو ژبې له مخې پوره توپیر لري او سوچې بوچې نوې دي. په لاندې ډول:

۱ – ډاکتر شینواري نږدې څلوېښت کتابونه د شمېرپوهنې رېښه کې په پښتو کړې، دا په دې مانا، چې د عربي ویونو په ځای یا یې نوره هم ښه د مسلکي نومونو انډول پښتو ویونه لیکلي.( دا انډول نومونه په پښتو کې شته، جوړ شوي نه دي)

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲ – په دري کتابونو کې يې فزيک هم په پښتو ليکلی، دا په دې مانا، چې پوهنيز او مسلکي ويونه په پښتو دي، چې دا هم د پښتو ژبې له پاره لومړی ځل دی.



۳ – دوه کتابونه د ژبې په هکله، چې هلته هم د نورو ليکوالانو د ليکنو د سمون سره سر او کار لری ، چې نوموړی په کې تراوسه ځانله دی، لکه په دې نورو ليکنو کې هم. ملامتي به د نوموړي وي، خو وايي، چې کړني يې د ژبلار سره سمې او سم انديزې دي.

که ژبسمون، چې بيا هم ډېر غزېدلی او چاپ ته چمتو دی، هغه ويونه د څېړني لاندطې نيولي، چې ناسم ژبې ته را ننباسل شوي.

زما زياتې ليکني له پخوا په ټول افغان او اوس همداسي هغه زيات يې د تاند په خپرونه او د دعوت خپرونه کې خواره شوي او نور هم دا کار پسې روان دي.

## د ډاکتر ماخان شينواري چاپ او ناچاپ ليکنې:

<u>1988 Vienna (Austria):</u>

<u>لومړی:</u>

H.K. Kaiser , M. Shinwari : Aproximation compact topological general algebra 6 ; Page 117 – 122 algebra : contributions to

<u>1987 Vienna (Austria):</u>

<u>دويم:</u>

لومړی-Interpolation und Aproximation durch Polynime in Universalen Diss . Uni. Wien Algebren .

دويم-*Interpolation and Aproximation by Polynome in universal Dissertation at the University of Vienna/Austria Algebras,*

لاندې د شميرپوهنې پښتوټول کتابونه په المان کې د ،، افغانستان کلتوري ودې ټولنه،،له خوا چاپ شوي دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

2000 Bonn (Germany):



دریم:   د شمیرپوهنې ستر کتاب : د شمیرپوهنې برسیره د انجنري، فزیک او اقتصاد لپاره ، همداسې د ښوونکو او زده کوونکو لپاره ( دا کتاب په ۹۰۰ مخونو کې چاپ او دا نوې لیکنه به یې ځنو ځایونو غزېدلې او ځنې ځایونه ترې لرې شوي دي)

2003 Bonn (Germany):

څلورم:   ځمککچپوهنه( هندسه) ، په سلو، زرو کې شمیرنه، د ګټې – او کټې د کټې شمیرنه ، د اختمالوالي شمېرنه کتاب د ښوونځي ټولې اړتیاوې پوره کوي

2003 Bonn (Germany):

پنځم:   الجبرونه ( د الجبر بنسټونه دي) ( ketabton:com ته پورته شوی)

2003 Bonn (Germany):

شپږم: د شمیرپوهنې انګرېزي – پښتو ډکشنري.( ketabton:com ته پورته شوی)

2003 Bonn (Germany):

اووم: د شمیرپوهنې الماني - پښتو- او پښتو الماني ډکشنري ( ketabton:com ته پورته شوی)

*Mathematical dictionary German/ Pashto and Pashto/German*

2003 Bonn (Germany):

اتم: دفرنځیال برابرون ( دا کتاب په دې ځانګه کې یو پیل دی، ساده لیکل شوی) ( ketabton:com ته پورته شوی)

*Differential equation Translation; An Introduction*

Bonn (Germany): 2003

نهم: د شمیر پوهنې فرمولونو ټولګه

*Mathematical Formulas*

(c) ketabton.com: The Digital Library

2003 Bonn (Germany):

لسم: شمیرپوهنه له عربي په پښتو

1997 Bonn (Germany):

یوولسم: د افغانستان په هکله سپیني خبرې: په المان کي

،،د افغانستان روغې او بیا ابادولو ټولنه،، له خو

یادونه: له ۲۰۰۰ کال دمخه ډاکتر ماخان شینواريد ،،د افغانستان روغې او بیا ابادولو ټولنه،، له خوا درې سیاسي مجلې هم را وستلي.

## ژباړې او نورې لیکنې:

: *Prof. Brinkmann. (From Brinkmann.du.de)*

لاندې د برینکمن لیکنې چې له پرینکمن ن ج څخه ژباړل شوي دي. دا کتابونه د ښوونځي له پاره او همداسې د کانکور ازموېڼې له پاره ګټور دي.

دولسم - شمیرپوهنه د ښوونځي لپاره لومړی ټوک ( ketabton:com ته پورته شوی)

دیارلسم – شمیرپوهنه د ښوونځي لپاره دویم ټوک( ketabton:com ته پورته شوی)

څوارلسم – شمیرپوهنه د ښوونځي لپاره دریم ټوک( ketabton:com ته پورته شوی)

پنځلسم - د احتمالوالي شمیرنه د ښوونځي لپاره( ketabton:com ته پورته شوی)

شپاړسم – احصایه یا ستاتیستیک دښوونځي لپاره( ketabton:com ته پورته شوی)

لاندې کتابونه د شتوتګارت د پوهنتون د استادانو د لکچرونو څخه چې د شتوتګارت پوهنتون ن ج څخه خپاره شوي را ژباړل شوي.

اولسم – انالیزی ۱ ( ketabton:com ته پورته شوی)

اتلسم – انالیزې ۲( ketabton:com ته پورته شوی)



نولسم – کرښیز الجبر ( ketabton:com ته پورته شوی)

(c) ketabton.com: The Digital Library

شلم - د شمیرپوهني بنسټونه ( ketabton:com ته پورته شوی)

یوېشتم - د فرمولونو ټولګه( ketabton:com ته پورته شوی)

دوه ويشتم – فنکشنل انالیز( ketabton:com ته پورته شوی)

درویشتم – وکتور شمیرنه ( ketabton:com ته پورته شوی)

نوري ژباړې

۱۳څلرویشتم – له www./grundstudium.info/linearealgebra څخه:کرښيز الجبر ( ketabton:com ته پورته شوی)

پنځویشتم – Georg Gutenbrunner ګڼونپوهنه یا د اعدادو تیوري( ketabton:com ته پورته شوی)

زما لیکني

Bonn (Germany):

شپږويشتم - د شمیرپوهني ستر کتاب دويم چاپ لومړۍبرخه: د پوره تغیراتو سره : دا کتاب د شمیرپوهني برخې برسیره د انجنري، فزیک او اقتصاد لپاره ، همداسې د ښوونکو او زدهکوونکو لپاره پوره ګټور دی. په کتاب کې د اړتیا سره زیاتونه او کونه راغلي ( ketabton:com ته پورته شوی)

اوه ويشتم- د شمیرپوهني ستر کتاب دويمه برخه ( ketabton:com ته پورته شوی)

اته ويشتم - ځمککچپوهنه ( هندسه) دويم چاپ د پوره تغیراتو سره ( ketabton:com ته پورته شوی)

نه ويشتم – الجبر بنسټونه دويم چاپ له تغیراتو سره ( ketabton:com ته پورته شوی)

دېرشم - ډېرۍ پوهنه یا سټ تیوري ( ketabton:com ته پورته شوی)

یودېرشم – د شمیرپوهني سم اند ( منطق ریاضي) ( ketabton:com ته پورته شوی)

۹۳

دوه دېرشم - د یو څو شمیرپوهانو ژوندلیک( ketabton:com ته پورته شوی)

دریدېرشم – د شمیر پوهني ګډې ودې لیکني

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځلوردېرشم- داهم ژباړه ده، خو ليکونکی يې متآسفانه راڅخه نابلد شوی: د مشتق او انتيګرال شميرنو ته تمرينونه او اوبيونې يا حلونه يې( ketabton:com ته پورته شوی)

پنځه دېرشم – د شميرپوهنې انګريزې پښتو او عربي + درې ډکشنري

شپږدېرشم – د شميرپوهنې پښتو انګرېزي ډکشنري( ketabton:com ته پورته شوی)

اوه دېرشم – د شميرپوهنې پښتو ډکشنري د شميرپوهنيزو وييونو په پښتو روښانه ونه( ketabton:com ته پورته شوی)

اته دېرشم - د زړه له کومې( دا هغه ليکنې دي، چې ځنې يې په نړيول جالونو کې خپرې شوي دي.)

نه دېرشم – د افغانستان په هکله سپينې خبرې، چې وبه غزيږي.

نوري ليکنې، چې په ژباړه يې پيل شوی، خو لا پوره نه دي

ځلوېښتم– د شتوتکارت پوهنتون لکچرنوټونو څخه ، چې د شتوتګارت پوهنتون ن ج څخه خپريږي: د ګروپونو تيوري( ketabton:com ته پورته شوی)

- د ښوونځي لپاره فزيک د برينکمن ليکنه

له پنځم ټولګي څخه تر اووم ټولګې پورې ژباړل شوی ( دا چې زما دويم مسلک فزيک دی، دا ليکنې ژباړم. دا هم د دې ليکوال يوه ډېره ښه ليکنه ده، چې -د شميرپوهنې په ځير- دلته هم زيات تمرينونه د حل يا اوبيونې سره په کې راغلي او ماته زيات ګټور برېښي) او دالاندې د برينکن څخه راژباړلي

يوځلوېښتم - فزيک لومړۍبرخه ( ketabton:com ته پورته شوی)

دوه ځلوېښتم – فزيک دويمه برخه. برېښنا پوهنه. همدا کتاب. ( ketabton:com ته پورته شوی)



درېځلوېښتم – د پوهنې وزارت له خوا چاپ د ښوونځي شميرپوهنې کتابونو ته کتنه. دې کتاب کې د دښوونځي کتابونو د هر کتاب يوې برخې ناسمونونو ته ګوته نيول شوې او ناسمونونه بيا سم شوي هم دي.( ketabton:com ته پورته شوی)

ځلورځلوېښتم – د فزيک کوچنی ويونو دکشنري( ketabton:com ته پورته شوی)

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځه ځلوېشتم – پرېپوزېشن یا اړیکویونه.( ketabton:com ته پورته شوی)

شپږ ځلوېشتم = ژبسمون( پښتو کې ناسم راننوتي ويونه، چې سم شوي دي)

اوه ځلوېشتم – پښتو ژبلار یا ګرامر ۲۰۲۰

اته ځلوېشتم – پښتو ته ناسم راننباسلي ويونه ( که غواړئ دويم غزېدلي ليکنه) : له پخوانۍ ليکنې څخه نوی شوی او پوره غزېدلی ۲۰۲۰.

تازه ليکلي خو تراوسه کتابتون ته نه دي پورته شوي او دا د ځانله ليکنو په توګه له درې کاله را په دیخوا د تاند او په دا ورسته کې د دعوت او همداسې د نورو د ج څخه خوريږي او خواره شوي دي. په دې کتاب کې د پښتو ناسم ننوتي ويونه څېړل شوي ناسمونونو ته ګوته نيول شوي او په دلايلو روښانه شوي، چې ژبمينوالو لهپارهيي لوسته او ګوتنيونه اړيينه ده.

نه ځلوېښتم – داسې څه له فلسفې ۲۰۲۰

پنځوسم – ژبې مري او نورې ليکنې ۲۰۲۰

ډا کټر شينواری ليکي چې‌رته مېندل کيږي:

زما نږدې ۳۹ نه دېر کتابونه په کتابتون ټکی کوم Ketabton.com زما د غزيز او ان د ښوونځي له وخت ملګري، خو له ما پوره ځوان ستانه مير زهير شينواري ځوي زما د ګران ځوان وراره ګل شمشاد زهير شينواري له خوا خواره شوي او هيله ده، چې دا نور به هم زر تزره راته خواره کړي، چې ډېره مننه ترې کوم.

د ډاکتر شينواري د پوهنيزو هلو ځلو له امله ستاينليکونه:

د افغانستان کلتوري ودې ټولنه. جرمني – ۱

يشنيش‌د افغانستان کلتوري ټولنه کولن م – ۲



اړيينه يادونه: د ښوونځي نهم ټولګي شميرپوهني کتاب کې مې نوم ليکل شوی، خو ما په کې څه نه دي ليکلي.

د دولسم ټولګي له پاره يې پښتو او دري کتابونه ليکلي وو، چې هغه بيا په بل نامه چاپ شو او پوره ناسمونونه يې درلودل، پرته له هغو پوښتنو يا نور جملو اوبيونو يا حلونو څخه، چې هغه همغه د ډاکتر شينواري د ليکنې په کې پاتي وو او د ده نوم هم په کې نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وو. د پوهنې وزارت او تر جمهوررییس پورې یې لیکنې ولېږلې، خو د نصاب استادانو په غوښتنه یې د نورو کارونو څخه ډډه وکړه، وایي، چې څه مې بې له دې هم نه شو کولی

## ژوند ته شینواري د ډاکتر ماخان میرزي

## یوه لنډه کتنه

نوم: ماخان ( په لومړي ځل یې نوم ،،میرزی،، وو، چې د رحمابابا (لیسه کې نوملیکلو وروسته ماخان باندې بدل شو

د کورنی نوم : شینواری

د پلار نوم: ارواښاد نورالرحمان

اده پستود مور نوم: ارواښد

د نیکه نوم: ارواښاد حسن خان

د نیا نوم: ارواښاده صبربي بي

۱۵ د سپتمبر په ز ک ۱۹۴۶ د دزیږېدو کال: ډاکتر ماخان شینواری ۱۳۲۲ زیږېدلی دی ( دا خو هغه رسمي ز ک دی. سمه نیټه یې نېټه ه ک ۱۳۲۰ خو تره مې وایي ،ش ه کلونو منځ کې باید وي ۱۳۲۰ او (دی



د زیږېدو ځای: ننګرهار د شینوارو د هسکې مېنې ولسولي په .مورګې کلي کې زیږېدلی

قرانکریم تر له د مورګۍ غارخلي کلي کې د لمنځتون استادانو څخه پنجکتاب، خلاصه، مونیه، ګلستان پورې، چې دا مو بیا په ښوونځي .يهم لوستل، لوستلي، خو بې له دې چې پوره پرې پوه ش

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هسکي مېنې پورې ۱۹۵۴ تر ۱۹۵۱ له :کليوالي ښونځي
چې دی يې هم د لومړنيو زوکوونکو له ډلې ،مورګی لومړني ښونځي
.څخه وو

ټولګې پورې له ۱۲ د رحمان بابا لېسه : له لومړي او بيا له دريم تر
.پورې ۱۹۶۵تر ۱۹۵۴

ټولګي ټولګي پورې د خپل ۱۲ دی د رحمان بابا ليسه کې له دريم تر
.پاتې شوی اولنمره

ز ک د کابل پوهنتون دطب پوهنځي په همدې کال کې ۱۹۶۶

ز ک د سپتمبر مياشت د ښوونځي برس له لارې اتريش ويانا ۱۹۶۶
.ته تګ

کال پورې ويانا اړوند مودلينګ کې د الماني يا ښه ۱۹۶۷ تر ۱۹۶۶
.يې اتريشي ژبې او د ديارلسم ټولګي لوست

ا پوهنتون کې نومليکنه، چې د پوره زياتو د ويډ ۱۹۶۷ اکتوبر
و( ز ک کال کې د ډاکترۍ په اخستلو بريالی شډ ۱۹۸۹ ستونځو سره په
.(دا نو پوره ستونځې دي

له۱۹۸۷ ز ک تر ۱۹۸۸ ز ک د فبروري تر پای د دباندنيو چارو وزارت کې مامور.

د ۱۹۸۸ مارچ څخه تر ۱۹۹۲ جون پورې په بون جرمني کې د افغانستان جمهوريت
سفارت کې د سفير دندې د شارژد افير( صفر نه وو) تر نوم لاندې.

له هغې وروسته په جرمني کې سياسي پناه.

د ۲۰۰۴ ز ک جون څخه د ۲۰۰۵ ز ک جنوري پورې د کابل علومو اکادمي د پيداېښتي
پوهنو څانګه کې دنده.



له ۲۰۰۸ ز ک د مارچ څخه د ۲۰۰۹ زک دسمبر پورې د رياضي څانګه کې د پوهنې
وزارت درسي نصاب کې دنده.

ماخان شينواري بې کاره نه دی او لږ تر لږه له ۹۷ ۱۹ څخه همدا د کتابونو ليکلو او د
ژباړې دنده په غاړه اخستې، چې خپل فکر تر شونې پولې پورې تازه وساتي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماخان میرې په ۱۹۷۲ کې له لرې د میرمن ښاپیرۍ سره واده شوی، چې د واده خبر ورته اتریش ویانا ته ورغلی.

ده د میرمن ښاپیری سره په ۱۹۶۳ ز ک کې کوزده کړې وه.

دوي ته لوي څښتن په اتریش ویانا کې د مای په شلم ۱۹۷۹ ز ک دوه بچیان وبخښل، چې ځانګه او اباسین نومیږي. ځانګه په المان کې د پوهنتون علمي همکاره وه او د حقوقو ډاکتره ده او اباسین ملي اقتصاد او ټولنیزه سایکولوژي لوستلې.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**